د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو
د تالیف لوی ریاست

تفسیر شریف

پې پې اخیستنه او
کیږي.

لسم ټولګی

تفسیر شریف - لسم ټولګی

Ketabton.com

چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو
د روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

تفسير شريف

لسم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

ketabton.com - The Digital Library

ليکوالان

- دکتور عنايت الله خليل هدف
- رقيب الله ابراهيمي

علمي ايډيټ

- دکتور فضل الهادی وزين
- فضل الله نيازي

د ژبې ايډيټ

- بريالی باجوړی

ديني، سياسي او کلتوري کميټه

- ډاکټر عطاء الله واحديار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئيس.
- مولوي قيام الدين کشاف
- محمد آصف کوچی

د څارنې کميټه

- دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين
- دکتور شير علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس

طرح او ډيزاين

عنايت الله غفاري او حميدالله غفاري

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

ملي سرود

دا وطـــن افغانـــستان دی دا عـــزت د هـــر افغـــان دی

کـــور د ســـولې کـــور د تـــورې هـــر بچـــی یـــې قهرمـــان دی

دا وطـــن د ټولـــو کـــور دی د بلوڅـــــــو د ازبکـــــــو

د پـــښتـــون او هـــزاره وو د ترکمنـــــــو د تاجکـــــــو

ورســـره عـــرب، ګوجـــر دي پامپـــــــریان، نورستانیـــــــان

براهـــوي دي، قزلبـــاش دي هـــم ایمـــاق، هـــم پـــشه یـــان

دا هیـــواد بـــه تـــل ځلیـــږي لکـــه لمـــر پـــر شـــنه آسمـــان

پـــه سینـــه کـــې د آسیـــا بـــه لکـــــــه زړه وي جـــــاویدان

نـــوم د حـــق مـــودی رهبـــر وایـــو الله اکبـــر وایـــو الله اکبـــر

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام

ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف وموميي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځیدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا وموميي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تألیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

د موضوعاتو فهرست

لومړی لوست – د تفسیر د علم مفهوم او ارزښت: ۱
دویم لوست – د فاتحې سورت تفسیر ۵
دریم لوست – په علم او قلم سره د وحې پیل ۱۰
څلورم لوست – د اخلاص سورت ۱۵
پنځم لوست – یوازې الله ﷻ د هر څه واکمن او پیداکوونکی دی ۱۸
شپږم لوست – د الله تعالی غوره نومونه ۲۳
اووم لوست – انسان عبث او بې فایدې نه دی پیدا شوی ۲۸
اتم لوست – انسان د الهي نعمتونو په سیوري کې ۳۲
نهم لوست – د الله ﷻ په لوري بلنه ۳۶
لسم لوست – ایمان او نیک عمل ۴۰
یوولسم لوست – امانت او په اسلام کې د هغه ارزښت ۴۳
دولسم لوست – د وینا او کړنې یووالی ۴۸
دیارلسم لوست – د الله ﷻ له ذکر نه د سرغړونې پایله ۵۲
څوارلسم لوست – نیکي څه ده؟ ۵۵
پنځلسم لوست – په اسلام کې د سولې ارزښت ۵۹
شپاړسم لوست – د لقمان حکیم نصیحتونه خپل زوی ته (لومړی برخه) ۶۴
اوو لسم لوست – د لقمان حکیم نصیحتونه خپل زوی ته (پاتې برخه) ۶۹
اته لسم لوست – له بدګمانی، غیبت او عیب پلټلو څخه ځان ژغورل ۷۳
نولسم لوست – کورونو ته د ننوتلو آداب ۷۶
شلم لوست – د شرابو او قمار حراموالی ۸۱
یوویشتم لوست – په عدل او احسان امر کول ۸۴
دوه ویشتم لوست – د مور او پلار حقوق ۸۷
درویشتم لوست – د خپلوانو، مسکینانو او مسافرو حقوق ۹۱
څلر ویشتم لوست – په معاملاتو کې عدالت او مسؤولیت ۹۵

ketabton.com - The Digital Library

لومړی لوست

د تفسیر د علم مفهوم او ارزښت

د تفسیر تعریف

تفسیر په لغت کې بیانولو، څرګندولو او د معنا ظاهرولو ته وایي.

د مفسرینو په اصطلاح کې: تفسیر داسې یو علم دی چې د هغه په واسطه د قرآن کریم د الفاظو معناوې، حکمونه او حکمتونه پېژندل کېږي.

د تفسیر د علم تاریخ

د قرآن کریم تفسیر یو له هغو مهمو او غوره شرعي علومو څخه دی چې دنده یې د قرآن کریم ښوونه او د انسان له توان سره سم د هغه د معنا، احکامو او حکمتونو بیانول دي.

د تفسیر علم د اسلام له لومړي پرلپسې څخه پیل شوی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د قرآن کریم لومړنی مفسر و چې د اړتیا سره سم یې صحابه وو ته د قرآن کریم زیات آیتونه تفسیر کړي دي.

د صحابه کرامو په دور کې د تفسیر علم پراختیا وموندله او د دوی له منځه څلور خلیفه ګان، عبدالله بن عباس، عبدالله بن مسعود، ابی بن کعب ــ رضي الله تعالی عنهم ــ او داسې نور د لویو مفسرینو په توګه رابنکاره شول.

د تابعینو په دور کې د تفسیر علم ته پاملرنه نوره هم زیاته شوه، د حسن بصري، قتاده بن دعامه، عکرمه، مجاهد بن جبر او سعید بن جبیر ــ رحمهم الله ــ په څېر لویو علماوو د اسلامي نړۍ په بېلابېلو سیمو کې د شاګردانو په تربیه کولو سره دې علم ته ستر خدمتونه تر سره کړل.

د تابعینو له دور څخه تر دې دمه د تفسیر او علوم القرآن په هکله په عربي او نورو ژبو کې په زرګونه ټوکه کتابونه لیکل شوي چې قرآن کریم ته د مسلمانانو د مخلصانه خدمتونو څرګندونه کوي. د نړۍ پوهان په دې خبره په یوه خوله دي چې: څومره قرآن کریم ته پاملرنه شوې، هغومره انسانانو بل کوم کتاب ته پام نه دی اړولی او نه یې په دې کچه د کوم بل کتاب په اړه لیکنې، تحقیق او علمي څېړنې تر سره کړي دي.

د قرآن کریم له مهمو تفسیرونو څخه د امام طبري تفسیر، د شاه پور اسفراییني تفسیر، د میبدي کشف الأسرار تفسیر، د زمخشري کشاف تفسیر، د امام فخرالدین رازي تفسیر کبیر، د

ketabton.com - The Digital Library

بيضاوي تفسير، د نسفي تفسير، د ابن كثير تفسير او د داسې نورو تفسيرونو نومونه يادولای شو.

د تفسير علم ته د افغانستان د علماوو خدمت

زمونږ ګران هيواد افغانستان چې ځلانده او ويارلی فرهنګي او تمدني تاريخ لري، د لويو قرآن پوهانو او د تفسير د مشهورو علماوو زانګو ده چې له دې جملې څخه د بېلګې په ډول د شيخ الاسلام خواجه عبدالله انصاري هروي د۴۸۱هـ کال متوفی، ابوبکر عتيق سور ابادي هروي د ۴۹۴هـ کال متوفی، امام فخرالدين رازي د ٦٠٦هـ کال متوفی، مولانا حسين واعظ کاشفي د ۹۱۱هـ کال متوفی، مولانا مراد علي کاموي د۱۲۹۴هـ کال متوفی مولانا يعقوب چرخي؟ او معاصر عالم مولانا سلطان عزيز (عزيز) نومونه يادولای شو.

د تفسير د علم ارزښت

د تفسير د علم ارزښت او اهميت په دې کې دی چې له مورِ سره د قرآن کريم په زده کړه او د الله پاک د اوامرو او نواهيو په پوهه کې مرسته کوي، ترڅو د اسلامي نظام او اسلامي قانون د بنسټ (قرآن کريم) په لارښوونو وپوهيږو، عمل پرې وکړو او له دې لارې په دنيا کې نېکمرغه ژوند او په آخرت کې بريالیتوب تر لاسه کړو.

د تفسير ډولونه

د تفسير د علم پراختيا، د قرآن کريم په معنا او حقايقو کې د علمي څېړنو بېلابېلو لارو چارو او د مفسرينو مختلفو تګلارو ته په کتو سره د تفسير علم په ګڼو ډولونو وېشل شوی چې ځينې ډولونه يې په لاندې توګه تشريح کوو:

۱– د محتوا او مضمون له پلوه: له دې پلوه تفسير په دوو ډولونو وېشل شوی:

أ. نقلي تفسير يا تفسير بالمأثور.

ب. تفسير بالرأی يا پر اجتهاد ولاړ تفسير.

أ: په نقلي تفسير يا تفسير بالمأثور کې په صحيح نقل تکيه کېږي چې په لاندې ډولونو دی:

۱– د قرآن تفسير په قرآن سره.

۲– د قرآن تفسير په سنت سره، ځکه سنت (احاديث) د الله د کتاب بيانوونکي دي.

۳– د قرآن تفسير د صحابه کرامو په روايتونو سره، ځکه صحابهﷺ د الله په کتاب تر ټولو خلکو نه پوهيدل.

ketabton.com - The Digital Library

۴– د قرآن تفسير د لويو تابعينو په اقوالو او ويناوو سره، ځکه هغوی اکثره خپله پوهه او علم له صحابه وو څخه حاصلوله.

هغه تفسير چې پر نقل بنا وي په واقعيت کې د الله د کتاب د تفسير ډېره ښه طريقه ګڼل کيږي، ځکه د قرآن، سنتو، د صحابه وو او تابعينو د ويناوو څخه ګټه اخيستل د قرآن کريم د نصوصو په پوهه کې مرسته کوي او د قرآني معناوو په پوهېدنه کې خلک له غلطۍ او ښوييدنې څخه ژغوري.

ب. تفسير بالرأی يا پر اجتهاد ولاړ تفسير:

په رايه بنا شوی تفسير هغه تفسير دی چې مفسر د خپلې خوښې کړې معنا د بيانولو په هکله د عربي ژبې او نورو شرعي علومو د قواعدو په رڼا کې په خپله ځانګړې پوهه اعتماد او تکيه کوي او د خپل فهم او نظر په اساس احکام او حکمتونه را وباسي.

په رايې د بنا شوي تفسير حکم

هغه تفسير چې په اجتهاد او خالصه رايه بنا شوی وي او پر کوم اصل ولاړ نه وي، د تفسير بالرأی المذموم په نامه يادېږي. دا ډول تفسير حرام او عمل وربانديې روا نه دی، خو که چېرته څوک د ژبې، د تفسير د اصولو او د شريعت په دايره کې په دې طريقه قرآن کريم تفسير کړي پروا نه لري او دې ته تفسير بالرأی المحمود ويل کيږي.

د تګلارو له پلوه د تفسير ډولونه

د اسلوب او تګلارو له پلوه تفسير په څلور ډوله دی: تحليلي تفسير، موضوعي تفسير، اجمالي تفسير او مقايسوي (پرتله ييز) تفسير.

په تحليلي تفسير کې مفسر د قرآني نص هر اړخيز تحليل کوي او د آيت ټول اړخونه د څېړنې او تحقيق لاندې نيسي. په موضوعي تفسير کې مفسر د يوې ټاکلې موضوع په اړه قرآني آيتونه راټولوي او په ځانګړې طريقه يې شرحه او تفسير کوي. په اجمالي تفسير کې په آسانه، لنډه، عام فهمه ژبه او ساده ډول، قرآني آيتونه داسې تفسير کيږي چې ټول خلک ورڅخه ګټه واخيستلای شي، خو په مقايسوي (پرتله ييز) تفسير کې د ټاکلو قرآني آيتونو په اړه د مفسرينو د ويناوو پلټنه، څېړنه او پرتله تر سره کيږي.

د قرآن کريم د نازليدو څرنګوالی

د قرآن کريم نازلېدنه په دوو طريقو سره شوې چې په لنډ ډول يې شرح کوو:

ketabton.com - The Digital Library

۱– قرآن کریم د لومړي ځل لپاره په مجموعي توګه یو ځلي د قدر په شپه بیت العزت ته چې د دنیا په آسمان کې موقعیت لري نازل شوی دی لکه چې قرآن کریم هم د قدر په سورت کې ورته اشاره کړې ده: ﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾ **ژباړه**: بېشکه موږ هغه (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی.

۲– په تدریجي توګه د زمانې او پېښو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د قرآن کریم نازلېدل، لکه د (العلق) سورت لومړني آیتونه چې د حراء په غار کې د لومړي ځل لپاره په پیغمبر ﷺ باندې نازل شول او په درویشتو کلونو کې د پیغمبر ﷺ تر وفاته پورې بشپړ شو.

فعالیت:

ښوونکی دې زده کوونکي په دوو ډلو ووېشي او له هغوی څخه دې وغواړي چې هره ډله دې د دوو تفسیرونو نوم د مفسر سره وليکي او بیا دې د هغوی په هکله لنډه څېړنه وکړي.

پوښتنې

لاندینیو پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:

۱– تفسیر په لغت کې څه ته وایي؟.

۲– په اصطلاح کې د تفسیر اطلاق په کوم علم کیږي؟

۳– تفسیر په څو ډوله دی؟ او هر ډول یې د کومو ځانګړتیاوو لرونکی دی؟

۴– د تفسیر له ډولونو څخه د هریو ډول حکم شرح کړئ؟

۵– قرآن کریم څرنګه نازل شوی دی؟

٦– د ځینو مهمو تفسیرونو نومونه واخلئ.

۷– د تفسیر په برخه کې د افغانستان د علماوو پر خدمتونو رڼا واچوئ.

۸– د قرآن کریم نزول څرنګه و؟

ketabton.com - The Digital Library

دويم لوست

د فاتحې سورت تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۞ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۞ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ۞ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ۞ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ۞ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾ [الفاتحة ١-٧]

د كلمو معناوې

ٱلۡحَمۡد: ثنا، ستاينه.

رَب: څښتن، پروردګار- پالونکی او کار جوړوونکی.

ٱلۡعَٰلَمِين: د عالم جمع يعني له الله تعالی څخه پرته هر موجود.

ٱلدِّين: حساب، جزاء او بدله.

ٱهۡدِنَا: راوښيه موږ ته.

ٱلصِّرَٰط: لار.

ٱلۡمُسۡتَقِيم: سمه، سيخه او نيغه.

ٱلۡمَغۡضُوبِ: هغه کسان چې د الله د غضب او عذاب مستحق وي.

ٱلضَّآلِّين: لار ورکي، (هغه کسان چې حق يې نه وي پېژندلی).

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه

ټولې ستاينې يوازې الله پاک لره دي چې پالونکی د ټولو عالميانو دی. ډير زيات مهربان او پوره رحم کوونکی دی، مالک (د ټولو چارو) د ورځې د جزا دی، خاص تاته عبادت کوو او خـــاص له تا څخه مرسته غواړو. وښيه موږ ته سمه لاره! د هغو کسانو لاره چې انعام کړی تا پر هغـــو باندې، نه لاره د هغو بدو کسانو چې غضب کړی شوی پر هغو باندې او نه لاره د هغـــو بـــدو کسانو چې ګمراهان دي.

په فاتحې سره د سورت د نومولو وجه

د فاتحې سورت مکي دی، يعنې له هغو سورتونو څخه دی چې په مکه معظمه کې نازل شوی دی او د فاتحې په نامه ځکه نومول شوی، چې قرآن کريم په دې سورت پيل شوی دی. د نبي کريم ﷺ په احاديثو کې هم ددې سورت لپاره دغه نوم ذکر شوی دی لکه چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: «لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ»[1] يعنې څوک چې د فاتحې سورت ونه وايي لمونځ يې نه صحيح کيږي.

د فاتحې سورت نومونه

فاتحه سورت ډير نومونه لري، يو شمېر مفسرينو د فاتحې سورت لپاره تر شلو زيات نومونه ذکر کړي دي چې ځينې يې دا دي: الفاتحة، أم القرآن، السبع المثاني، الكنز، الوافية، الكافية، سورة الدعاء او داسې نور.

تفسير

الله تعالى خپل کتاب په ﴿ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ سره پيل کړی دی، تر څو هر مسلمان په دې وپوهيږي چې د پام وړ هر کار بايد د الله تعالى له نوم سره پيل شي ځکه هر کار چې د الله له نامه پرته پيل شي هغه به نيمګړی وي.

الله: د حقيقي معبود لپاره خاص نوم دی، پرته له الله ﷻ يې په بل چا اطلاق نشي کيدای او د دغه نوم بدلول په جمع او تثنيه سره هم روا نه دی.

ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ: رحمان او رحيم دواړه لفظونه د (رحمت) له کلمې څخه اخيستل شوي دي. رحمت د انسانانو په حق کې د زړه د نرمښت په معنا دی چې همدردی او احسان ته يې هڅوي، رحمت د الله له صفتونو څخه يو صفت دی چې ځان ته يې غوره کړی دی.

---

(١) سنن الكبرى للبيهقي.

ketabton.com - The Digital Library

دا سورت د الله پاک په حمد او ستاینه پیل شوی او حمد په ژبې سره د نعمت د څښتن او لوروونکي ستاینه ده، د نعمت څښتن او لوروونکی الله دی، نو یوازې الله تعالی د دې ستاینې وړ او لایق دی او بس.

ځینې هغه صفتونه چې په دې سورت کې الله تعالی ته ذکر شوي او هغه ذات د دې ثنا او ستاینې لایق ګرځوي دا دي چې هغه ﴿ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ دی او معنا یې پاس ذکر شوه.

همدارنګه الله ﴿ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ دی. الله ﷻ د دې آیت په ذکر کولو سره بیانوي چې هغه ذات په عین حال کې چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی او مالک دی، پر خپل مخلوق باندې (رحمن او رحیم)، هم دی په دې معنا سره چې الله تعالی بخښونکی او مهربان دی.

بل دا چې الله تعالی ﴿ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴾ دی. دا دریم صفت دی چې الله ﷻ د خپل ځان لپاره دلته ذکر کړی دی.

مالک د مِلک څخه اخیستل شوی د میم په کسره، مِلک د یوه شي تر لاس لاندې راوستل دي چې په هغه کې په تصرف هم قادر وي، یعنې الله تعالی د قیامت د ورځې بشپړ مالک او متصرف دی او په هغه ورځ به د حساب حاکمیت او اختیار یوازې له ده سره وي.

دا ځینې هغه صفتونه دي چې الله تعالی د خپل ځان لپاره بیان کړي دي لکه د ربوبیت، رحمت او د جزا د ورځې مالکیت، چې یوازې الله تعالی په دې صفتونو ستایل کیږي.

نو هغه ذات چې د دې صفتونو لرونکی وي هغه د دې لایق او وړ دی چې مورِ عبادت، بنده‌ګي، مرسته، غوښتنه او خپله دعا په ده پورې منحصره کړو، نو ځکه الله تعالی فرمایلي: مؤمن بنده دې الله ته مخ واړوي او ودې وایي چې:﴿ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴾ (ای زمورِ پالونکیه) یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا څخه مرسته غواړو.

عبادت: د الله په وړاندې له قلبي احساس سره د خشوع او عاجزۍ وروستۍ پورې ده او په هره اندازه چې انسان په عـــــبادت او بنـــــده‌ګۍ کې الله ته توجه واړوي په همغه اندازه شرف او عزت حاصلوي. د الله نه مرسته غوښتل زمورِ د حقیقي بنـــــده‌ګۍ نښه ده، ځکه انسان د الله د قوت او عظمت په وړاندې د ضعف او بیوزلۍ احساس کوي او د الله نه غواړي چې له ده سره مرسته وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

د ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴾ په جمله کې د مفعول وړاندې والی، الله تعالی ته د عبادت په حصر او ځانګړتیا دلالت کوي او د جملې معنا داسې راځي: یوازې او یوازې ستا عبادت کوو او یوازې او یوازې له تا څخه مرسته غواړو.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه د دې آیت په تفسیر کې فرمایلي: یوازې ستا عبادت کوو او له تا پرته د بل چا عبادت نه کوو[1].

نو پر دې بنسټ د عبادت ټول ډولونه لکه: سجده، رکوع، نذر، قرباني (حلاله)، دعا، مرسته غوښتل، وېره، هیله، توکل او داسې نور، یوازې د الله لپاره دي او هیڅوک ورسره باید پکې شریک نه کړای شي.

﴿ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۞ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾.

هدایت: یوې موخې ته د رسېدلو لپاره لارښوونه هدایت بلل کیږي. د هدایت بله معنا بیانول دي، دا کلمه غالباً د خیر په لور استعمالیږي نو د دې دوو آیتونو بشپړه معنا دا ده چې:

ای پروردګاره! موږ ته د هغې سمې او نیغې لارې لارښوونه وکړه چې موږ د دنیا او آخرت نیکمرغیو ته رسوي، د هغو بنده ګانو لاره چې تا پر هغوی خپل نعمت لوروولی دی، نه لاره د هغو کسانو چې د خپلو ناوړه عملونو او د حق د لارې نه د کړیدو له کبله د قهر او غضب وړ ګرځیدلي دي.

د مفسرینو د ویناوو پر بنسټ د ﴿ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ﴾ څخه مراد انبیاء – علیهم السلام– صدیقین، شهداء، صالحین او د الله پاک ټول نېک بندګان دي.

مفسرینو ویلي دي چې له ﴿ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ ﴾ څخه مراد هغه کسان دي چې حق پېژني او بیا هغه پریږدي، چې په راجحه وینا له دوی څخه یهود مراد دي او له ﴿ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ څخه هغه کسان مراد دي چې حق نه پېژني او هغوی نصارا دي.

---

[1] - تفسیر أبي سعود

ketabton.com - The Digital Library

د لوست ګټې او لارښوونې

د فاتحې مبارک سورت ډېرې ګټې او لارښوونې رانغاړي چې ځینې یې دا دي:

- ❖ حمد او ستاینه یوازې په الله تعالی پورې منحصره ده ، هغه د ټولې نړۍ او نړیوالو پیداکوونکی او پالونکی دی او د قیامت په ورځ یوازې هغه واکدار او متصرف دی.
- ❖ باید یوازې د الله په دربار او حضور کې بنده ګي، عاجزي او خشوع وکړو او یوازې له هغه څخه مرسته وغواړو، لکه څرنګه چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ» یعنې هر کله چې څه شی غواړې، نو له الله څخه یې وغواړه او هرکله چې دې مرسته غوښتله، نو یوازې له الله څخه یې غواړه.
- ❖ نیکو اعمالو ته ترغیب او هڅول، ترڅو انسان د قیامت په ورځ په نیکانو کې حساب شي او له باطل پرستۍ نه وېرول ، ترڅو انسان د قیامت په ورځ له باطل پرستو څخه ونه ګڼل شي.

فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي او بیا دې ورڅخه وغوښتل شي چې د دې مبارک سورت څخه دې له دریو یادو شویو ګټو سربېره دوې نورې ګټې هم راوباسي.

پوښتنې

۱- ولې د فاتحې سورت په ﴿ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾پیل شوی، حکمت پکې څه دی؟

۲- له ﴿ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴾ څخه مراد څه دی؟

۳- له ﴿ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴾ مبارک آیت څخه څه زده کړه ترلاسه کوو؟

۴- له ﴿ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾ څخه کوم خلک مراد دي؟

۵- له هدایت څخه مطلب څه دی؟

٦- د دې سورت له ګټوڅخه دوې ګټې چې مسلمانانو ته لارښوونه کوي بیان کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

دريم لوست

په علم او قلم سره د وحي پيل

قال تعالى: ﴿ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ﴾

[العلق: ١-٥]

د كلماتو معناوې

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ: ولوله د خپل پالونكي په نامه.

عَلَقٍ: تړلې (ټينګه) وينه چې د انسان د پيدايښت دويمه مرحله ده.

عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ: د قلم په واسطه يې انسان ته ليكل او تدوينول وروښودل.

ژباړه

ولوله اې پيغمبره د خپل رب په نوم چې هغه پيدا كړ. د كلكې شوې وينې له يوې توتې څخه يې انسان هست كړ. ولوله او ستا رب له هر چا ډېر مهربانه دى. چې هغه د قلم په مرسته علم وښود. انسان ته يې هغه علم وركړ چې هغه پرې نه پوهيده.

د دې آيتونو شان نزول

امام احمد بن حنبل او شيخين (بخاري او مسلم) د حضرت بي بي عايشې رضي الله عنها څخه د دې آيتونو شأن نزول داسې نقلوي: د وحي پيليدل په رسول الله ﷺ باندې داسې و چې پيغمبرﷺ لومړى رښتيني خوبونه ليدل، هرخوب به يې چې وليد د رونړ سهار په څير به رښتينى كيده، بيا رسول الله ﷺ ګوښه والي ته مخه كړه او ګوښه والى به يې خوښيده، د حرا غار ته به يې تشريف وړ او طاقې شپې به يې د حرا په غار كې په يوازې والي او راز او نياز كې تيرولې، بيا به خپلې كورنۍ ته راستنيده او توښه به يې برابروله او بيرته به هماغه غارته تللو.

ketabton.com - The Digital Library

نبي كريم ﷺ د حرا په غار كې و چې يوه پرښته ورته څرګنده شوه او ويې ويل: ولوله، ده وويل: زه لوستونکی نه يم، پيغمبر ﷺ وفرمايل: زه يې ډير سخت ونيولم او بيا يې پريښودم او ويې ويل: ولوله، ما وويل: زه لوستونکی نه يم. بيا يې دويم ځلې سخت ټينګ ونيولم او بيا يې پريښودم او راته يې وويل: ولوله، ما وويل: زه لوستونکی نه يم، بيا يې دريم ځلې ډېر سخت ونيولم او بيا يې پريښودم او ويې ويل: ﴿ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ﴾ . ژباړه يې مخکې تېره شويده.

تفسير

د وحی د پيليدو څرنګوالی

دا د قرآن کريم لومړي آيتونه دي چې نازل شوي او نبوت وربانديې شروع شوی دی. دغه آيتونه جبرائيل عليه السلام په پيغمبر ﷺ باندې په داسې حال کې نازل کړل چې د حرا په غار کې د مناجات او راز او نياز په حالت کې و، الهي وحي د (اقرأ) په امر نازله شوه. حال دا چې پيغمبرﷺ په ليک او لوست نه پوهيده خو جبرائيل عليه السلام خپل امر ته د (اقرأ) په وينا سره دوام ورکړ، چې په دې امر ټينګار کول د علم، پوهې او زده کړې اهميت، ارزښت او فضيلت را په ګوته کوي، ځکه د علم د زده کولو تر ټولو ګټوره او ارزښتناکه لاره همدا لوستل دي او د ﴿ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي ﴾ معنا دا ده چې د خپل پالونکي په نامه او امر ولوله، نو معلومه شوه چې لوستل او ويل يو الهي امر دی.

د دې آيتونو څرګند دلايل

دغه قرآني نصوص په دې دلالت کوي چې: زمونږ زده کړه بايد د الله ﷻ په نامه وي، نو مسلمان بايد ټول علوم او فنون د الله ﷻ په نامه او د هغه د رضا لپاره زده کړي.

بل دلالت يې دا دی چې الله ﷻ د خپل پيغمبر په ژبه په داسې حال کې چې لوستونکی نه و له اعجاز څخه ډک قرآن جاري کړ، نو بايد وپوهيږو، هغه ذات چې کاينات يې پيدا کړي په دې هم قادر دی چې د لوستلو او ويلو توان په انسان کې پيدا کړي.

ketabton.com - The Digital Library

وروسته بيا له علقې (يوې ټوټې پرنډې وينې) څخه، د انسان په پيدايښت کې د الله تعالى عظمت بيان شوى دى، دا د الله ﷻ د قدرت نښه ده چې انسان يې لوړو پوړيو ته رسولى او د علم او پوهې دروازې يې د ده پر مخ پرانستلي دي ځکه هغه کريم، مهربانه او بښونکى ذات دى.

د الله ﷻ لورينې او نعمتونه

د الله ﷻ تر ټولو ستره لورينه وروسته د انسان له پيدايښت څخه هغه ته د علم ورکړه ده، چې د قلم د نعمت په واسطه يې هغه ته ښودنه کړې ده، دا جامده وسيله يې د پوهې او زده کړې وسيله ګرځولې ده او د قلم په واسطه يې دا ټول کتابونه منځ ته راوړي دي چې انساني نسلونه ورڅخه په پرله پسې توګه ګټه ترلاسه کوي.

د قلم، لوستلو او ليکلو د ارزښت او درناوي په هکله همدا بس ده چې په قرآن کريم کې يو بشپړ سورت په (القلم) نومول شوى او په دې سورت کې په قلم او هغه څه چې ورباندې ليکل کيږي، قسم ياد شوى. قلم د زده کړې او د علم د خپرولو وسيله ده او د تمدن او پرمختګ په رامنځته کولو کې ډېر ارزښتناک رول لري. رسول الله ﷺ باندې لومړي نازل شوي آيتونه د دې ښه ګواه دي، چې اسلام زده کړې، پوهې، لوست او ليک ته څومره ارزښت ورکړى دى!

د مسلمانانو لومړيو نسلونو د همدې حقيقت په درک کولو او د مبارکو قرآني آيتونو او سپيڅلو نبوي احاديثو څخه په الهام اخيستنه د علم او زده کړې لور ته مخه وکړه او په لږه موده کې يې د ستر اسلامي تمدن بنسټ کښښود. د علم او پوهې په بېلابېلو څانګو کې د مسلمانو پوهانو اکتشافات، اختراعات، کتابونه او علمي آثار دومره ارزښتمن او بې ساري وو چې تر اوسه پورې په ټوله نړۍ او په ځانګړې ډول د لويديځو هيوادونو په علمي مرکزونو کې تدريس او ګټه تري اخيستل کيږي.

په نورو مخلوقاتو باندې د انسان غوره والى

الله تعالى په لومړي پړاو کې خلقت په مطلقه بڼه ياد کړ، ترڅو په دې سره ټول مخلوقات راونغاړي، بيا يې انسان د خپل عجيبه پيدايښت او فطرت له امله خاص او عزتمند وګرځاوه او خپل آيتونه يې پرې نازل کړل.

ketabton.com - The Digital Library

لوستل او ليکل د پوهې او زده کړې دوه مهمې وسيلې

همدارنګه الله ﷻ په دې آيتونو کې لوستل له ليکلو سره يوځای او پيوست بيان کړي دي او فـــــــــرمايلي يې دي ﴿ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ ﴾ يعنې انسان ته يې د قلم په واسطه ښوونه وکړه چې دا د الله ﷻ يو لوی نعمت او د انسانانو ترمنځ د تفاهم وسيله ده. که ليکنه نه وای، نو علوم به له منځه تللي وو او د دين هيڅ نښه به پاتې نه وه، نظم او قانون به شتون نه درلود. همدارنګه ليکنه ده چې علوم او د پخوانيو خلکو پيښې ثبتوي، وګړي او ټولنې د دې په مرسته پرمختګ کوي، مدنيتونه جوړوي، په ليکنې سره د بشريت تاريخ محفوظ پاتې کېږي او وروستنې خلک د لومړنيو خلکو په هکله معلومات تر لاسه کوي.

د لوست ګټې او لاربښوونې

له پورتنيو مبارکو آيتونو څخه لاندينۍ ګټې ترلاسه کولی شو:

- ❖ الله پاک خپل پيغمبر او مسلمانانو ته امر کوي چې قرآن کريم د خپل پالونکي په نامه ولولي.
- ❖ د علم او پوهې مصدر الله تعالی دی او هغه دی چې انسان ته د علم او پوهې د حاصلولو وس او توان ورکوي.
- ❖ ليکنه د علم او پوهې په ساتنه او ليږدونه کې اساسي رول لوبوي او پرته له ليکنې هيڅ علم محفوظه نشي ساتل کيدلی.
- ❖ د اسلام دين د علم دين دی او ستر دليل يې دا دی: چې د قرآن کريم لومړني آيتونه چې په پيغمبر ﷺ باندې نازل شوي، هغه د علم زده کړې ته دعوت ورکوي.
- ❖ پر انسان د الله ﷻ د رحمت او مهربانۍ نښې دا دي چې هغه ته يې علم ښودلی او له بيسوادۍ څخه يې نجات ورکړی دی.
- ❖ د علم زده کړه او د هر څه لوستل بايد د الله ﷻ په نامه او د هغه د رضا د حاصلولو لپاره وي.
- ❖ قلم د الله تعالی نعمت او د بشر په ژوندانه کې د ارزښتناکو اکتشافاتو او اختراعاتو وسيله ده.

ketabton.com - The Digital Library

❖ لوستل، ليکل او د علم زده کړه يو قرآني اصل، د مسلمان ديني دنده او د اسلامي تمدن بنسټ ګڼل کيږي.

❖ د قلم، کتاب او پوهانو درناوی د اسلامي ټولنې له ځانګړتياوو او د مسلمانانو له شرعي وجيبو څخه ګڼل کيږي.

فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي يوه ډله دې د لوستلو ګټې او بله ډله دې د ليکلو ګټې څرګندې کړي او د انساني پرمختګ په ډګر کې دې د دواړو د ونډې په هکله بحث وکړي.

پوښتنې

۱- د (علق) سورت ولې په دې نوم نومولی شوی دی.

۲- د (علق) معنا او مفهوم روښانه کړئ؟

۳- په الهي وينا کې د (اقرأ) مخاطب څوک دی؟

۴- د دې آيتونو شان نزول څرنګه دی؟

۵- په دې آيتونو کې کومې لارښوونې نغښتې دي؟

٦- د خلقت په اړه د الهي قدرت له رازونو څخه يو راز له دې آيتونو څخه څرګند کړئ؟

۷- له دې آيتونو څخه څه عبرتونه او درسونه اخيستلای شئ؟

۸- ولې په اسلامي ټولنه کې بايد د قلم او پوهې څښتنان د درناوي وړ وي؟

کورنۍ دنده

د لوستل شويو آيتونو په رڼا کې (د تمدنونو په رامنځته کولو کې د قلم، ليک او لوست ونډه) تر سرليک لاندې پنځلس کرښې مقاله وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د اخلاص سورت

قال تعالى: ﴿ قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ﴾ [الإخلاص ١-٤]

د کلماتو معنا

أَحَد: یو دی.

ٱلصَّمَد: هیڅا ته اړ نه دی، ټول هغه ته اړ دي.

كُفُوًا: مثل– سیال – ساری.

ژباړه

ووایه چې الله ﷻ یو دی. الله ﷻ هیڅا ته اړ نه دی. ټول هغه ته اړ دي. نه یې څوک زیږولي دي او نه دی له چا څخه زیږیدلی دی او هیڅوک له ده سره سیال او ساری نه دی.

تفسیر: دا سورت د الله تعالی په پېژندنه کې زمونږ سره مرسته کوي او د ده د صفتونو په هکله زمونږ معلومات او پوهه زیاتوي.

په دې سورت کې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته امر کوي چې ووایه: الله ﷻ د ذات او صفتونو له پلوه یو دی. مستغني او بې پروا دی چا ته محتاج او اړ نه دی او څوک د ده لویي او قدرت ته نشي رسیدلای او څوک د ده د حکم او فرمان مقابله نشي کولای. الله ﷻ هغه ذات دی چې بنده ګان خپل حاجتونه او ضرورتونه له ده څخه غواړي او د خپلو ستونزو په هکله ده ته رجوع کوي.

الله ﷻ هغه ذات دی چې نه یې څوک زیږولي دي او نه دی له چا څخه زیږیدلی دی، د دې الهي صفتونو په پوهیدو سره باید ووایو چې الله تعالی یوازنی بې سیاله او بې ساری ذات دی.

په [لَمْ يَلِدْ] جمله کې د زوی او لور موجودیت له الله ﷻ څخه نفي شوی دی. مشرکانو عقیده درلوده چې پرښتې د الله لونې دي او یهودو عزیر ﷺ د ده زوی ګڼلو، نصاراوو به ویل چې عیسی علیه السلام د الله ﷻ زوی دی چې دا ټولې بې بنسټه دعواوې دي.

د [وَلَم يُولَدْ] په جمله کې د الله ﷻ لپاره د پلار شتون نفي او باطل ګڼل شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

د اخلاص سورت دا اصل هم ثابتوي چې د الله ﷻ له مخلوقاتو څخه هيڅوک د الله ﷻ سره سيالي او برابري نشي کولای او هيڅ شی د الله ﷻ په ذات، صفتونو او کړنو کې له ده سره سيالي نشي کولای. دې وينا له الله تعالی سره د سيال شتون نفي کړ او د عربو مشرکانو وهم او ګمان يې باطل اعلان کړ چې د الله ﷻ لپاره په کړنو کې د شريک او سيال قايل وو او پربښتې او بتان يې د الله ﷻ سره شريکول.

د اخلاص سورت مرتبه او فضيلت

په يو حديث کې چې حضرت انس ﷺ روايت کړی دی، پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: «قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ»

يعنې: (د اخلاص سورت د قرآن له دريمې برخې سره مساوي دی) ځکه دا سورت مورِ د خپل پروردګار او پالونکي سره اشنا کوي. يعنې توحيد رابنيي او قرآن په ټوليزه توګه درې مرکزي مضامين لري: توحيد، رسالت او معاد (آخرت).

په قرآني آيتونو او نبوي احاديثو کې زيات مطالب موجود دي چې د دې سورت له معناګانو سره ورته والی لري او د دې سورت مفاهيم روښانه کوي.

يادونه: ځينې علماء وايي د اخلاص سورت د الله تعالی په حق کې داسې دی لکه د کوثر سورت چې د پيغمبرﷺ په شان کې دی – په دې توګه چې مشرکانو د الله په پيغمبرﷺ باندې د زوی نه درلودلو له امله عيب لګاوه چې زوی نه لري او د زوی نه لرل د انسان په حق کې عيب ګڼل کيږي – خو ددې پر خلاف د الله لپاره د زوی او شريک په لرلو قائل وو حال دا چې د الله په حق کې د زوی او شريک لرل عيب او نقص دی، نو الله ﷻ د کوثر په سورت کې له خپل رسول څخه دفاع کوي او ورته داسې فرمايي «إنا أعطيناک الکوثر» يعنی مورِ تا ته لوی خير درکړی او لکه څرنګه چې ستا دښمنان ګمان کوي، ته ناقص او ابتر نه يې.

دلته د اخلاص په سورت کې الله ﷻ خپل پيغمبرﷺ ته امر کوي چې ته له الله ﷻ څخه دفاع وکړه او ووايه: ﴿ قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴾ الله يو دی، تر څو له الله څخه د شريک او زوی درلودلو تور هم لېرې شي.

د لوست ګټې او لاربښوونې

د اخلاص د مبارک سورت له آيتونو څخه ډېرې ګټې حاصليږي چې ځينو ته يې په لاندې ډول اشاره کوو:

ketabton.com - The Digital Library

❖ الله ﷻ په ذات، صفتونو او کړنو کې یوازنی ذات دی او هیڅوک ورسره ورته والی نه لري.

❖ الله ﷻ نه څوک زیږولي دي او نه له چا څخه زیږیدلی دی.

❖ الله ﷻ له ټولو مخلوقاتو څخه بې نیازه او مستغني دی او ټول مخلوقات ده ته اړ دي.

❖ د اخلاص په مبارک سورت کې د مشرکانو پر عقیده، چې ملایکې یې د الله لونې ګڼلې، د یهودو پر عقیده، چې عزیر علیه السلام یې د الله زوی ګڼلو او د نصاراوو پر عقیده، چې حضرت عیسي علیه السلام یې د الله زوی ګڼلو، د بطلان کرښه راښکل شوې ده. همدا راز په دې سورت کې دا هم په روښانه ډول په ډاګه شوې چې د الله تعالی ذات بې ساری، منزه او له هر عیب او نیمګړتیا څخه پاک دی.

❖ د اخلاص سورت ته د توحید سورت هم وایي، ځکه چې د دې سورت اساسي موضوع د الله تعالی د توحید اثبات دی.

پوښتنې

۱- د لاندې کلماتو او جملو معناوې شرح کړئ:

أ. ٱللَّهُ أَحَدٌ.

ب. ٱلله ٱلصَّمَدُ.

ج. وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ.

۲- د اخلاص سورت فضیلت او مرتبه د یوه نبوي حدیث په رڼا کې شرح کړئ.

۳- د اخلاص سورت بنسټیزه موضوع څه ده؟ واضح یې کړئ.

۴- د اخلاص په سورت کې د الله پاک په اړه د کومو باطلو ډلو پر عقایدو رد شوی دی؟

کورنۍ دنده

د اخلاص سورت د مقام، مرتبې او ګټو په هکله یوه مقاله وليکئ او په خپله مقاله کې په آیتونو او احادیثو استدلال وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

پنځم لوست

يوازې الله ﷻ د هر څه واکمن او پيداکوونکی دی

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِۦ لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ۞ ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَىْءٍ فَقَدَّرَهُۥ تَقْدِيرًا ۞ وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً لَّا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيَوٰةً وَلَا نُشُورًا ﴾ [الفرقان: ١ـ٣].

د کلماتو معناوې

تَبَارَكَ: ډېر برکتناک، د ډېر خیر څښتن، تر ټولو لوړ او پورته دی.

ٱلْفُرْقَانَ: قرآن، د حق او باطل ترمنځ توپیر کوونکی.

عَلَىٰ عَبْدِهِۦ: پر خپل بنده پر خپل پیغمبرﷺ.

ٱلْعَٰلَمِينَ: مخلوقات، انس او جن.

نَذِيرًا: ویروونکی.

فَقَدَّرَهُۥ تَقْدِيرًا: بیابې اندازه کړ هغه په ځانګړې او بې ساري ډول سره، هرڅه يې بشپړ او ښه پیدا کړل.

نُشُورًا: وروسته له مرګه بیا راژوندي کول، د قیامت ورځ.

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه

ډېر برکتناک دی هغه ذات چې پر خپل بنده يې فرقان (قرآن) نازل کړ، ترڅو د ټولو نړيوالو لپاره ويرونکی وي.

هغه ذات چې د آسمانونو او ځمکې د پاچاهۍ څښتن دی نه يې څوک زوی نيولی او نه ورسره څوک په واکمنۍ کې برخمن دی. هر شی يې پيدا کړی دی، بيا يې اندازه کړی دی هغه په اندازې سره.

او کافرانو له الله ﷻ نه پرته داسې معبودان ونيول چې هيڅ نشي پيدا کولی، بلکې دوی په خپله پيدا کول کيږي او د خپلو ځانونو لپاره هم د څه ګټې يا زيان واک نه لري، نه د وژلو وس لري نه د ژوندي کولو او نه مړه شوي بيا را پاڅولی شي.

تفسير

د الفرقان مبارک سورت د مکي سورتونو له ډلې څخه دی. د دې سورت اساسي موضوعات د توحيد بيان، د مشرکانو د عقيدو بطلان، پر نېکو اخلاقو ټينګار او له بدو کارونو څخه منع کول دي.

پورتني آيتونه چې د سورت په پيل کې راغلي د پاک الله په توحيد، د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د رسالت په اثبات او د مشرکانو د عقيدو او انګېرنو په ردولو راڅرخي.

د پيغمبر ﷺ د رسالت ټولیزوالی (تعميم)

دا مبارک سورت په دې سره پيل شوی چې الله ﷻ باخبره، با برکته او عاليشان ذات دی.

حسي او معنوي زياتوالی، ودې او د خير ډېروالي او دوام ته برکت ويل کيږي. د الله تعالی د خير او برکت له نبنو څخه په پيغمبر ﷺ باندې د قرآن کريم راليږنه ده، چې د حق او باطل ترمنځ ببلوونکی دی.

د (عبده) په جمله کې د پيغمبر ﷺ لپاره يو ډول تکريم او عزت دی چې الله تعالی هغه د خپل فرمانبردار بنده په نامه ستايلی دی. د قرآن کريم په نورو آيتونو کې هم د رسول الله ﷺ درناوی او تکريم په (عبد) يعني د الله بنده سره شوی دی لکه د الله پاک دا وينا: ﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ همدارنګه د کهف سورت په لومړي آيت کې هم داسې راغلي دي: ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَهُ عِوَجًا﴾.

ketabton.com - The Digital Library

د تفسیر علما وایي چې په (عبده) یعنې د الله بنده سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم یادونه دوه ارزښتناک مفاهیم راپه ګوته کوي:

۱- حضرت محمدﷺ د الله تعالی مخلوق او بنده دی او الله پاک هغه د رسالت او نبوت د مقام لپاره غوره کړی. دلته د نصاراوو د عقیدې بطلان ته اشاره ده چې دوی د الله تعالی بنده او مخلوق حضرت عیسیعليه السلام د خدای په توګه مني، په داسې حال کې چې بنده او مخلوق هیڅکله هم د عبادت وړ نه دی.

۲- په دې تعبیر کې د رسول اللهﷺ لپاره یو ډول درناوی او عزت دی ځکه چې الله پاک هغه ته د خپل بنده خطاب کړی دی[۱].

الله تعالی پر خپل بنده حضرت محمدﷺ باندې قرآن کریم نازل کړ، چې د ټولې نړۍ او نړیوالو لپاره پیغمبر واوسي او هغه کسان چې په اللهﷻ ایمان نه راوړي او د پیغمبرﷺ پیروي نه کوي، د جهنم له سخت عذابه څخه وویروي.

دا خبره د اسلام د پیغمبر ﷺ د رسالت پر تعمیم، چې د انس او جن په شمول د ټولو عالمیانو لپاره دی، ښکاره او څرګند دلیل دی.

په کایناتو کې د الله تعالی د وحدانیت دلایل

الله تعالی د پاچاهۍ او ټولې هستۍ څښتن او خاوند دی او په آسمانونو او ځمکو کې د هر شي متصرف دی. الله تعالی بی نیازه دی د مخلوقاتو د چارو په تدبیر او اداره کې د هیڅا مرستې او کمک ته اړتیا نه لري.

همدارنګه الله تعالی په ځمکه او آسمانونو کې د ټولو شیانو خالق او پیدا کوونکی دی او څه شی چې له اللهﷻ نه پرته دي هغه ټول مخلوق دی او مخلوق ضعیف او عاجزه وي، چې قوي خالق او پیداکوونکي ته ضرورت لري.

الله تعالی د هر شي پیدایښت په ښه او ښایسته بڼه ترسره کړی، هر شي ته یې ښکلی شکل او صورت وربښلی او د هغه لپاره یې هغه څه برابر کړي دي چې اړتیا ورته لري، ترڅو خپله وظیفه او دنده په سمه توګه سرته ورسوي.

---

[۱] - تفسیر ابی سعود

ketabton.com - The Digital Library

مشرکانو د الله ﷻ په وحدانیت ایمان را نه وړ او په وحدانیت سره یې د الله تعالی عبادت ونه کړ، بلکې له هغه سره یې شریک او سیال ونیول، حال دا چې پرته له الله څخه بل معبود نشته لکه څرنګه چې الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي:

﴿ وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا وَلَا يَمۡلِكُونَ مَوۡتٗا وَلَا حَيَوٰةٗ وَلَا نُشُورٗا ﴾ .

دا معبودان عاجز او ارِ مخلوقات دي، څه شی پیدا کولی نشي او نه ګټه او زیان رسولی شي، ځکه ګټه او زیان یوازې د الله تعالی له لوري دی او دا له ځانه جوړ کړي معبودان د چا په مرګ او ژوند قادر نه دي، بلکې دوی په خپله مري او څرنګه چې د الله تعالی خوښه وي هماغسې یې له منځه وړي.

همدا شان دغه معبودان د دې توان نه لري چې د قیامت په ورځ څوک ژوندي کړي ځکه یوازې الله ﷻ دی چې ژوندي کول او مړه کول کوي، نو یوازې همدا ذات دی چې د عبادت وړتیا لري.

کله چې دغه باطله معبودان دارنګه عاجزه او بیوزلي وي، نو هیڅکله د دې لیاقت او وړتیا نه لري چې د معبودانو په توګه ونیول شي، بلکې خدایي او معبودیت یوازې هغه واحد الله ﷻ لره دی چې پرته له هغه بل معبود نشته.

د لوست ګټې او لاربښوونې

له یادو شویو مبارکو آیتونو څخه لاندې ګټې او لاربښوونې ترلاسه کولی شو:

- د قرآن کریم له نومونو څخه یو نوم فرقان دی، ځکه قرآن کریم حق او باطل، خیر او شر سره جلا کړي دي.
- الله ﷻ قرآن کریم پر خپل بنده او پیغمبر ﷺ باندې نازل کړی دی.
- الله تعالی خپل پیغمبر حضرت محمد ﷺ د خاتم النبیین په توګه د قیامت تر ورځې پورې د انسانانو او پیریانو لپاره رالیږلی دی.
- هغه ذات چې د آسمانونو او ځمکو پیداکوونکی دی هغه اولاد او سیال نه لري.
- یوازې الله ﷻ پیدا کوونکی او جوړوونکی دی، الله ﷻ هرڅه پیدا کړي او د هغو پیدایښت یې بشپړ او مناسب ګرځولی دی.

ketabton.com - The Digital Library

❖ مشرکانو د یوه، قادر، خالق، مالک خدای سره په الوهیت کې داسې شیان شریک کړي دي چې نه یوازې چاته ګټه او زیان نشي رسولای، بلکې بې حسه بې حرکته موجودات دي چې نوروته اړ او محتاج دي او دغسې عقیده د هوښیارانو نه بلکې د ناپوهانو تګلاره ده.

❖ باطل معبودان هیڅکله د څه شي وس او قدرت نه لري، ځکه ټولې چارې د الله ﷻ په قدرت کې دي.

پوښتنې

۱- د فرقان سورت ولې په دې نوم نومول شوی دی؟

۲- ولې قرآن د فرقان په نوم یاد شوی؟

۳- د دې لوست له لومړي آیت څخه د حضرت محمد ﷺ د رسالت په عمومیت دلیل راوړئ؟

۴- د الله ﷻ د دې وینا ﴿ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا ﴾ توضیح وکړئ؟

۵- د دې لوست له دریم آیت څخه هغه پنځه شیان راوباسئ چې باطل خدایان د هغو له درلودلو عاجز او بې وسې دي؟

۶- ولې د درناوي او تشریف په ځای کې رسول الله ﷺ د (عبده) په نامه سره یادیږي؟

کورنۍ دنده

څه چې مو په دې لوست کې لوستي دي د هغه لنډیز او مهم ټکي په لسو کربنو کې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د الله تعالی غوره نومونه

قال تعالی: ﴿ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِی لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۖ هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ۞ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِی لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ۞ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِی ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ﴾ [الحشر:٢٢-٢٤]

د کلماتو معنا

ٱلۡغَيۡبِ: پټ (هغه چې زمونږ د احساس او درک څخه پټ وي لکه جنت، دوزخ، ملایکې او داسې نور...).

ٱلشَّهَٰدَةِ: ښکاره (هغه چې د لیدلو او درک کولو وړ وي لکه غرونه، ستوري او نور...).

ٱلۡمَلِكُ: د هر شي مالک او متصرف.

ٱلۡقُدُّوسُ: پاک او سپیڅلی.

ٱلۡمُؤۡمِنُ: تصدیق کوونکی، امان ورکوونکی.

ٱلۡمُهَيۡمِنُ: د هر شي څارونکی او ساتونکی.

ٱلۡعَزِيزُ: قوي او غالب.

ketabton.com - The Digital Library

ٱلْجَبَّارُ: لوی او قوي چې څوک پرې برلاسی کیدای نشي.

ٱلْمُتَكَبِّرُ: لویي کوونکی.

ٱلْبَارِئُ: د موجوداتو نوی پیداکوونکی.

ٱلْمُصَوِّرُ: صورت جوړونکی (په مناسبې بڼې سره د ټولو شیانو ترکیبوونکی).

ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ: ښه او غوره نومونه.

ژباړه

الله ﷻ هغه ذات دی چې له هغه پرته بل هیڅ معبود برحق نشته. عالم دی پر غیبو باندې او (عالم دی) په ښکارۀ باندې، هماغه (الله) ډېر مهربان او زیات ښښونکی دی.

الله ﷻ هغه ذات دی چې له هغه پرته کوم معبود برحق نشته، هغه پاچا دی، ډېر پاک دی (له ټولو عیبونو څخه) سالم دی، امان ورکوونکی دی، ساتونکی دی، په ټولو برلاسی دی، په زور د خپل حکم نافذوونکی او د لویۍ څښتن دی، پاک دی الله له هغو شیانو چې (مشرکان یې) ورسره شریکوي.

الله ﷻ هغه ذات دی چې پیدا کوونکی (له نشت نه وجود ته) را ویستونکی، شکل او صورت ورکوونکی دی. د هغه لپاره ډېر غوره نومونه دي. هرڅه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي هغه ټول په پاکۍ سره د الله ﷻ ستاینه کوي او هغه برلاسی او حکمت والا دی.

تفسیر

د الله ﷻ غوره نومونه

په دې دریوو آیتونو کې د الله تعالی څه نومونه یاد شوي دي، په داسې حال کې چې په بل هیڅ کوم سورت کې د الله تعالی نومونه داسې پرله پسې نه دي ذکر شوي. د دې سورت په دریو آیتونو کې د الله پاک له غوره نومونو څخه اوولس نومونه بیان شوي دي.

دا مبارک آیتونه د الله د وحدانیت په ټینګار، یعني د ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ په شعار سره پیل شوي دي او په تاکید یې فرمایلي دي، چې الله تعالی په غایبو، حاضرو، ښکاره او پټو پوهیږي.

ketabton.com - The Digital Library

الله ﷻ ښښونکی او ډېر مهربانه دی. د الله ﷻ رحمت زیات او تل تر تله دی او ټولو شیانو ته شامل دی، الله ﷻ واحد او یوازې دی.

بیا مبارکو آیتونو د الله ﷻ یو شمیر غوره نومونه د اصل توحید سره پیوست کړي او فرمایي: الله ﷻ مالک او پاچا دی له ده پرته بل څوک د ملکیت او پاچاهۍ څښتن نشته، الله ﷻ له هر عیب څخه پاک او له هرې نیمګړتیا څخه چې له ده سره مناسب نه وي خالي دی.

مفسرینو ویلي دي، چې د (ملک) له نوم څخه وروسته د (قدوس) لفظ راوړل، دېته اشاره ده، چې که څه هم الله تعالی مالک، پاچا او د ټولو شیانو متصرف دی خو د الله ﷻ تصرف د ځمکې پرمخ د مغرورو او ظالمو پاچاهانو د تصرف په شان نه دی، بلکې د الله ﷻ تصرف او ملکیت په خپله پاچاهۍ او مخلوقاتو کې له هر ډول ظلم او عیب څخه پاک او خالي دی.

لویي او عظمت د الله ﷻ ځانګړتیا ده

الله تعالی خپلو دوستانو ته سلامتي ورپه برخه کوي، الله ﷻ د خپلو پېغمبرانو تصدیق کوونکی او امن ورکوونکی دی.

الله تعالی برلاسی او د شان او شوکت او دبدبې او لویۍ خاوند دی. هغه څه چې د الله ﷻ د جلال او عظمت سره مناسب نه وي د هغه څخه پاک دی.

د الله تعالی دوه صفتونه: (جبار او متکبر) د الله ﷻ له شان سره مناسبه مدح او ستاینه ده، خو د مخلوقاتو لپاره بد او ناوړه صفتونه ګڼل کیږي.

نبی کریم ﷺ په قدسي حدیث کې د خپل پالونکي څخه روایت کړی چې الله ﷻ فرمایلي دي: "الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا أَلْقَيْتُهُ فِي النَّارِ" یعنې: کبریا زما څادر او لویي زما پرتوګ دی، نو هرڅوک چې په یو له دې دوو صفتونو کې زما سره سیالي کوي نو هغه به د دوزخ اور ته واچوم.

الله تعالی داسې خالق او پیداکوونکی دی چې ټول کاینات او هستي یې له نشت څخه پیداکړې ده، الله تعالی ټولو شیانو ته صورت او شکل ورکړی او ټول مخلوقات یې په یوه خاص شکل او هیأت سره پیداکړي دي. د الله تعالی لپاره غوره نومونه دي چې په هماغو سره ستایل شوی دی. دا سورت لکه څنګه چې د الله ﷻ په حمد او ستاینه پیل شوی همدارنګه د الله ﷻ په حمد او ستاینه پای ته رسېدلی دی. د ځمکې او آسمانونو مخلوقات د الله پاک ستاینه کوي او الله ډېر لوی او د حکمت څښتن دی.

ketabton.com - The Digital Library

د انسان پر ژوند باندې د الله تعالی د غوره نومونو اغېز

أسماء الله الحسنى يا د الله تعالى نېک نومونه د الله پاک د پېژندو غوره وسيله ده، انسانان په دنيا کې د الله تعالى د ذات د ليدلو توان نه لري، نو ځکه د الله جل جلاله د صفاتو د پېژندلو يوازينۍ او سمه لاره د قرآن کريم هغه آيتونه او د پيغمبر عليه السلام هغه صحيح احاديث دي چې په هغو کې د الله تعالى صفات ذکر شوي دي. له همدې امله ده چې د الله تعالى صفات او اسماء توقيفي دي، يعنې د قرآن او سنتو په نصوصو پورې متوقف دي او د اجتهاد او اټکل پر بنسټ په هغو کې زياتى او کمى جواز نه لري.

د اسماء الله الحسنى زده کړه او په هغو کې فکر کول د انسان پر ژوند ډېرې ګټورې اغېزې لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

۱- د الله تعالى د نومونو په معنا او مفهوم پوهېدل د الله تعالى د پاک ذات په هکله زمونږ پوهه او معرفت زياتوي چې دا کار الله تعالى ته د انسان د تقرب او نژدېوالي او د هغه په زړه کې د الله د مينې او محبت د زياتېدو او د الله تعالى له قهر ځخه د وېرې لامل ګرځي چې د دې ټولو اغېزې د انسان په وګړيز او ټولنيز ژوند کې د نېکو اعمالو د زياتېدو او د ناوړه اعمالو او ګناهونو ځخه د ځان ژغورلو په بنه خرګندېږي.

۲- الله تعالى په بل آيت کې فرمايلي دي: ﴿ولله الأسماء الحسنى فادعوه بها﴾ [الأعراف: ۱۸۰] ژباړه: الله لره غوره نومونه دي، هغه په هماغه غوره نومونو سره وبلئ. يعنې کله چې له الله تعالى ځخه څه شى غواړئ د خپل حاجت او اړتيا سره په مناسب نوم دعا وکړئ، د بېلګې په ډول: اى رحمان ذاته! زما ګناهونه راوبښه! زما رازقه خدايه! زما رزق پراخه کړه! او داسې نور.

۳- له رسول الله ﷺ ځخه په صحيح حديث کې نقل شوى چې فرمايي: «إن لله تسعة و تسعين اسما، مائة إلا واحدا، من أحصاها دخل الجنة...» [1]

ژباړه: الله پاک نهه نوي نومونه لري، هر چا چې هغه په يادو زده کړل، پر معنا يې ځان پوه کړ او د هغو په مقتضا يې عمل وکړ، الله جل جلاله به يې جنت ته داخل کړي.

فعاليت: هر زده کوونکى دې د الله ﷻ هغه نومونه چې په دې سورت کې ذکر شوي نه دي، وپلټي او بيا دې په خپله کتابچه کې وليکي.

[1] - حديث متفق عليه، صحيح البخارى۲۵۹/۳ ، و صحيح مسلم حديث ۲٦۷۷.

ketabton.com - The Digital Library

د لوست ګټې او لارښوونې

د دې لوست د مبارکو آیتونو ځینې ګټې دا دي:

- ❖ دا مبارک آیتونه له سترو قرآني آیتونو څخه دي، چې الله تعالی او د هغه صفتونه یې مورِ ته معرفي کړي دي.
- ❖ دې مبارکو آیتونو د الله ﷻ غوره نومونه او پر هغو باندې یې د ا یمان او یقین اهمیت بیان کړی دی.
- ❖ پر مورِ لازم دي چې الله ﷻ په اسماؤ او صفاتو سره وپیژنو او په هماغو نومونو او صفاتو له الله ﷻ څخه غوښتنه وکړو.
- ❖ د الله تعالی د نومونو او صفتونو په معنا پوهیدل، په هغو کې فکر او سوچ کول او د هغو له غوښتنې سره سم عمل کول د انسان پر فردي او ټولنیز ژوند باندې سمه او نیغه اغیزه لري او د دې لامل کیږي چې ټولنه د ښېګڼې او بریا په لور ګامونه پورته کړي.

پوښتنې

۱–د الله ﷻ له غوره نومونو څخه چې د الحشر په سورت کې یاد شوي دي لس نومونه بیان کړئ؟

۲–په مخلوقاتو کې د الله ﷻ پاچاهي او د ځمکې د نورو پاچاهانو ترمنځ توپیر بیان کړئ؟

۳– د جبار او متکبر د صفتونو نسبت ورکول الله ﷻ ته او مخلوق ته، څه توپیر لري؟

۴– څرنګه کولای شو د الله پاک د نېکو نومونو او صفتونو څخه د اغېزمنتیا په ترڅ کې په خپل وګړیز او ټولنیز ژوند کې رغنده بدلون راولو؟

کورنۍ دنده

د (اسماء الله الحسنی) د یادولو، ثواب او د انسان په ژوند باندې د هغو د اغېزې په هکله یوه وړه مقاله وليکئ او په دې اړه په نبوي احادیثو استدلال وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

اووم لوست:

انسان عبث او بې فايدې نه دی پيدا شوی

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ۝ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْكَرِيمِ ۝ وَمَن يَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرْهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ ۝ وَقُل رَّبِّ ٱغْفِرْ وَٱرْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰحِمِينَ﴾ [المؤمنون: ١١٨-١١٥]

د کلماتو معناوې

عَبَثًا: بابيزه، بې ګټې.

فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ: الله پاک له هر ډول نقص او نيمګړتيا څخه لوړ او پاک دی.

ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ: رښتينی او حق واکمن.

يَدْعُ: رابولي.

بُرْهَٰن: دليل او حجت.

ژباړه

آيا تاسې انګيرلي وه چې موږ تاسې بابيزه او عبث پيداکړي ياست او تاسې زموږ لور ته بيرته نه راګرځول کيږئ، نو لوړ او پورته دی الله ﷻ رښتينی (حقيقی) پاچا، له هغه پرته بل هيڅ کوم معبود نشته، د عزتمن عرش څښتن دی. او څوک چې له الله ﷻ سره کوم بل معبود چې هيڅ دليل هم پری نه لري، راوبلي نو د هغه حساب د هغه د رب سره دی. بيشکه کافران هيڅ کله بری نه مومي. ای محمده! ووايه زما ربه ښښنه وکړه او رحم وکړه او ته تر ټولو رحم کوونکو ښه رحيم يې.

ketabton.com - The Digital Library

تفسير

الله تعالى كافرانو ته خطاب كوي او فرمايي: آيا ګمان كوئ چې ما تاسو بابيزه او عبث پيداكړي ياست؟ نه داسې نه ده بلكې موږ تاسې د عبادت، تهذيب، زده كړې او الهي اوامرو د سرته رسولو لپاره پيداكړي ياست او آيا ګمان كوئ چې وروسته له مړګه دويم ځلې به د حساب او بدلې لپاره راپورته نشئ.

لوړ او پورته دى الله تعالى له دې څخه چې يو شى پرته له حكمته پيدا كړي. الله تعالى يو دى او پرته له هغه بل هيڅ معبود او خالق نشته او هغه د ستر عرش څښتن دى.

په مبارک آيت کې عرش د کريم (عزتمن) په صفت موصوف شوى دى ځکه چې عرش د عالميانو پروردګار او (اكرم الاكرمين) ذات ته منسوب دى. بيا الله تعالى هغه څوک چې ده ته د زوى يا شريک او سيال په لرلو قايل دي، تهديدوي او فرمايي: هر هغه څوک چې له الله پرته بل معبود رابلي او په خپل دې كار باندې كوم حجت او دليل هم نه لري، نو بيشكه د هغه حساب او كتاب د هغه له رب سره دى او دا ډول خلک هيڅكله هم بريمن كيدلاى نشي.

دا د هغو كسانو لپاره ډير لوى تهديد دى چې له الله تعالى سره شريک نيسي. داسې كسان به هيڅكله كاميابه نشي، بلكې ناكام به وي او څوک چې په آخرت كې ناكام شي نو د هغو لپاره سخت عذاب دى.

د كافرانو ناكامي او د مؤمنانو كاميابي

پورتني مبارک آيتونه چې د المؤمنون د سورت آخرني آيتونه دي په ټينګه د كافرانو په ناكامۍ او د مؤمنانو په كاميابۍ او خلاصون دلالت كوي، چې د سورت په پيل كې هم تاكيد پرې شوى دى، تر څو د دواړو ډلو ترمنځ تفاوت او توپير روښانه كړي.

په دې ترتيب الله تعالى خپل پيغمبر او وروسته بيا د هغه امت ته بښونه كوي چې د مغفرت او رحمت غوښتنې لپاره يوازې همده ته رجوع وكړئ ځكه الله تعالى ډېر ښه بښونكى او ډير زيات رحم كوونكى دى.

بخاري، مسلم، ترمذي او ابن حبان له حضرت ابوبكر رضي الله عنه څخه روايت كړى چې هغه رسول الله ﷺ ته وويل: اى د الله رسوله! ماته داسې دعا راوښيه چې په خپل لمانځه كې يې ووايم، نو رسول الله ﷺ ورته وويل: ووايه: «اللهم إني ظلمت نفسي ظلماً كثيراً، و إنه لا يغفر الذنوب الا أنت، فاغفر لي مغفرةً من عندك، و ارحمني، إنك أنت الغفور الرحيم».

ژباړه: اى الله! ما پر خپل نفس ډير زيات ظلم كړى دى او يقيناً پرته له تا بل څوک د ګناهونو بښونكى نشته نو ماته بښنه وكړه او پر ما رحم وكړه همدا ته بښونكى مهربانه يې.

ketabton.com - The Digital Library

قرآن کریم شفا ده

مفسرینو فرمایلي دي چې دا دوه آخري آیتونه د شفا آیتونه دي. ابن ابي حاتم له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت کړی، چې عبدالله بن مسعود په یوه مریض سړی تیریده (د هغه عیادت یې وکړ) او د هغه په غوږ کې یې د ﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا...﴾ آیتونه د سورت تر پایه ولوستل، نو هغه مریض شفا ومونده، ما دا خبره د الله ﷻ پیغمبر ته یاده کړه، پیغمبر ﷺ عبدالله بن مسعود ته وفرمایل: (بماذا قراءت في أذنه؟) د هغه سړي په غوږ کې دې څه ولوستل؟ هغه د الله ﷻ پیغمبر ته موضوع بیان کړه، د الله ﷻ پیغمبر وفرمایل: (والذي نفسي بیده، لو ان رجلاً موقناً قرأها علي جبل لزال) قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په قبضه کې دی که کوم شخص په یقین سره دا آیتونه پر یوه غره باندې ولولي نو غر به خامخا له منځه ولاړ شي.

هغه څه چې دلته د یادونې وړ او مهم دي، د لوستونکي ایمان، یقین او د زړه صفایي ده او په قرآن سره د تداوی او علاج په اړه د ناروغ استعداد او باور لرل دي، یعنې دا چې ناروغ هم د قرآن په وسیله د معالجې او تداوی لپاره تیاري او آمادګي ولري.

د لوست ګټې او لارښوونې

له پورتنیو آیتونو څخه چې کومې ګټې ترلاسه کیږي په لاندې ډول دي:

❖ د الله ﷻ بندګان او مخلوقات په دنیوي ژوندانه کې ډېر لوړ او لوی مسؤلیت او وظیفه لري چې هغه د عبودیت څرګندونه او د الهي قانون او نظام په سیوري کې ژوند کول دي، الله پاک په دې اړه فرمایي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ ژباړه: ما انسانان او پیریان یوازې د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي.

مفسرینو د عبادت تعریف داسې کړی: (کل ما یحبه الله من الأقوال و الأفعال) یعنې هر هغه وینا او کړنه چې الله پاک یې خوښوي او پر هغې راضي کیږي عبادت دی. پر دې بنسټ ویلای شو چې د عبادت دایره ډېره پراخه ده او ټولو نېکو اعمالو ته داخلیږي، او یوازې د اسلام د مشهورو ارکانو لکه لمونځ، روژې، زکات اوحج نوم نه دی.

پر مسلمان لازم دي چې خپل ټول ژوند د الله تعالی په عبادت یعنې د هغه د قانون او نظام په پیروی کې تېر کړي او مرګ یې هم د هغه په لار کې وي. همدا مطلب د قرآن کریم په بل آیت کې په خورا روښانه ډول داسې څرګند شوی دی: ﴿قل إن صلاتي ونسكي و محياي ومماتي

ketabton.com - The Digital Library

لله رب العالمين ..﴾ ژباړه: ووايه ای پيغمبره! بېشکه زما لمونځ، زما قرباني، زما ژوند او زما مرګ د کايناتو د رب لپاره دی.

امام ابو عبدالله بن علي ترمذي ويلي دي: الله تعالی مخلوقات د خپلو بندګانو په حيث پيدا کړي دي چې د ده عبادت وکړي او دوی ته د عبادت په مقابل کې بدله ورکړي او يا د عبادت په پرېښودلو دوی مجازات کړي. نو کله چې انسانان د الله ﷻ عبادت وکړي، نو دوی د آزادو او با کرامته بندګانو په توګه د دنيا له غلامۍ څخه آزاد دي او د آخرت له امن څخه په ډک کور کې به پاچاهان وي، خو که د الله تعالی له بنده ګۍ او غلامۍ څخه سرغړونه وکړي، نو دوی به دنيا کې تښتيدونکي، سرکشه او بدخويه غلامان وي او سبا (د قيامت په ورځ) به د زنداني دښمنانو په څېر د اور په طبقو کې راځوړند وي.

❖ پرته له شکه دا به د انسان تنګ نظري، جهالت او بې عقلي وي که چيرې د ماده پرستو په څېر ګومان وکړي چې همدا د دنيا کور دی او الله ﷻ او د آخرت کور ته به يې ورګرځيدل نه وي، ترڅو هلته انسانانو ته د هغوی د کړو وړو مطابق بدله ورکړل شي.

❖ هغه کسان چې له الله سره شريک نيسي او په دې کار کې هيڅ ډول دليل او حجت نه لري، نو دوی د عذاب مستحق دي.

پوښتنې

د قرآني آيتونو څخه د لاندينيو موضوعاتو لپاره دليل راوړئ:

۱. الله تعالی مخلوقات عبث او بابېزه نه دي پيدا کړي.

۲. له پروردګار سره د نسبت له امله، عرش د کريم په صفت ستايل شوی دی.

۳. د رحمت او مغفرت لپاره د دعا مستحب والی.

۴. قرآن کريم شفا ورکوونکی دی په دې هکله نبوي حديث بيان کړئ؟

۵. انسان بايد د ژوند په ټولو اړخونو کې د الهي قانون او نظام تابع وي.

کورنۍ دنده

(څرنګه يو هدفمند او مسؤليت لرونکی ژوند درلودلای شو؟) تر دې سرليک لاندې يوه مقاله وليکئ چې له شلو کرښو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

اتم لوست

انسان د الهي نعمتونو په سيوري کې

﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْفُلْكَ لِتَجْرِىَ فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْأَنْهَٰرَ ۞ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ۞ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴾ [ابراهيم: ٣٢-٣٤]

د کلماتو معنا

سَخَّرَ: تابع يې کړل، اېل يې کړل.

دَآئِبَيْنِ: له عادت او قانون سره سم چلېدونکي. تل په يو شان روان.

لَا تُحْصُوهَآ: هغه نشئ شمېرلی؟

ژباړه

الله ﷻ هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړې ده او له آسمانه يې اوبه رابښکته کړې دي. بيا يې د هغو په وسيله ستاسې د خوراک لپاره راز راز ميوې پيداکړې او بېړۍ يې ستاسې لپاره تابع کړې، چې په سمندر کې د الله په حکم روانې شي او سيندونه يې هم ستاسې په واک کې درکړل او لمر او سپوږمۍ يې ستاسې لپاره تابع (ګټور) کړې دي چې تل په يو شان روان دي او شپه او ورځ يې ستاسې لپاره په کار واچوله او ټول هغه څه يې تاسې ته درکړل چې تاسې غوښتل، که تاسې وغواړئ چې د الله ﷻ نعمتونه وشمېرئ، نو شمېرلی يې نه شئ. حقيقت دا دی چې انسان ډېر بې انصافه او ناشکره دی.

ketabton.com - The Digital Library

تفسير

د الهي نعمتونو نښې

الله تعالى په دې آيتونو کې خپل نعمتونه پر مخلوقاتو څرګند کړي دي، د خپل وجود او قدرت دلايلو ته اشاره کوي او دا نعمتونه انسان ته ورپېژني.

الله ﷻ آسمانونه او ځمکه له نشت څخه پيدا کړل او د آسمانونو او ځمکو په پيدايښت کې يې د خپل عظمت د قدرت دلايل او نښې څرګندې کړې.

الله تعالى له وريځو څخه بارانونه نازلوي او د هغو په واسطه ډول ډول نباتات له مختلفو رنګونو او خوندونو او ډول ډول ګټو سره راشنه کوي، ترڅو انسانان ورڅخه روزي لاس ته راوړي او په مختلفو طريقو ورڅخه ګټه واخلي.

الله تعالى ستاسې لپاره بيړۍ تابع کړي دي، ترڅو د الله ﷻ په امر په بحر کې حرکت وکړي. په دې معنا چې د کښتۍ جوړيدنه يې تاسوته دروښوده او د هغه کارول يې ستاسو لپاره آسانه کړل او بادونه يې راوليږل چې د الله ﷻ په امر او توفيق د خپل مسير په لور حرکت وکړي.

الله تعالى هغه ذات دى چې سيندونه يې په ځمکه کې جاري کړي، ترڅو له اوبو څخه يې د څښلو، ځمکو خړوبولو او د نورو اړتياوو د پوره کولو لپاره ګټه واخلئ.

د دې لوست مبارک آيت د (الله) په لفظ پيل شوى چې دا قرآني اسلوب او طريقه د بې نيازه ذات پر وړاندې، په زړونو کې د ويرې او ډار احساس راويښوي او د مشرکانو پام پر الله تعالى باندې د ايمان وجوب ته را اړوي.

د لمر او سپوږمۍ حرکت

دا آيتونه مور د الله ﷻ معرفت او پيژندنې ته متوجه کوي چې الله تعالى هغه ذات دى چې لمر او سپوږمۍ يې د هغو د حرکت په دوران کې، انسانانو ته د ګټې رسولو او د ځمکې پر مخ د ژوند کولو لپاره مسخر کړي او په خدمت يې لګيا کړي دي. همدارنګه شپه او ورځ يې په خپل پرله پسې تګ او راتګ او د دندو په ترسره کولو کې زمور لپاره مسخر کړي دي، ترڅو په ورځ کې د الله ﷻ له فضل او برکت څخه روزي وغواړو او د خپل ژوندانه ګټې او ضرورتونه ترلاسه کړو او د شپې له لوري خوب او استراحت وکړو او بيرته خپل قوت حاصل کړو، لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي دي:

ketabton.com - The Digital Library

﴿ وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِبَاسٗا ۝ وَجَعَلۡنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشٗا ﴾ [النبا: ۱۰- ۱۱] يعني: شپه مو لباس او پرده ګرځولې ده او ورځ مو د ژوندانه او کار وخت ګرځولې ده.

او همدارنګه الله تعالی فرمايلي دي: ﴿ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلۡتُمُوهُۚ وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ ﴾.

ژباړه: او الله ټول هغه څه تاسې ته درکړل چې تاسې ورڅخه وغوښتل، که تاسې وغواړئ چې د الله نعمتونه وشمېرئ، نو شمېرلی يې نشئ. حقيقت دادی چې انسان ډېر بې انصافه او ناشکره دی.

فعاليت

زده کوونکي دې د شپې او ورځې او د سپوږمۍ او لمر د دوران د ګټو په هکله د څېړنې په ترڅ کې خپل معلومات وړاندې کړي.

د الله ﷻ نه تاميدونکي نعمتونه او د انسان ناشکري

الله ﷻ په خپل فضل او کرم انسان ته هغه څه وربښلي چې هغه ورته د ژوندانه په چارو کې اړتيا لري او له الله ﷻ څخه يې غوښتي وي او هغه څه چې يې نه دي غوښتي هغه يې هم ورکړي دي ځکه الله تعالی په هغه څه چې د انسان په خير وي ښه خبر دی. د الله نعمتونه بې شمېره دي،که چيرې وغواړئ چې د الله ﷻ نعمتونه وشميرئ او اندازه يې معلومه کړئ، نو هيڅکله دا کار نشئ کولای، خو انسان پر خپل ځان ظلم کوي او د خپل پروردګار د نعمتونو شکر نه اداء کوي او احترام يې نه ساتي، بلکې دغه نعمتونه په ګناهونو کې استعمالوي.

د لوست ګټې او لاربښوونې

په پورتنيو آيتونو کې ډېرې ګټې نغښتې دي چې په لنډه توګه بيانيږي:

- الله تعالی له خپلو کړنو سره خپل بنده ګان آشنا کوي او خپل نعمتونه هغوی ته ورپه ګوته کوي.
- د الله تعالی نعمتونه چې پر انسان يې پېرزو کړي دي دومره زيات دي چې انسان يې د شمېرلو وس نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

❖ پر انسان لازمه ده چې د الهي نعمتونو پر وړاندې ناشکري او غفلت ونه کړي.

❖ که چيرې انسان د الله ﷻ نعمتونه د الله ﷻ په لار او طاعت کې ونه کاروي، نو په حقيقت کې يې پر خپل ځان ظلم کړی دی.

❖ بايد وپوهيږو چې د شکر ادا کول يوازې په ژبې پورې منحصر نه دي. ګناه کول او د الله ﷻ له اوامرو څخه سرغړونه د ناشکرۍ روښانې بڼې دي او د الله ﷻ اطاعت او د نېکو اعمالو ترسره کول د مننې او شکر ادا کولو غوړې لارې دي.

پوښتنې

۱- الله تعالی د څه لپاره شپه او ورځ پيداکړې ده؟

۲- د شپو او ورځو د تحرک او بدلون ګټې بيان کړئ؟

۳- قرآني آيتونه په دغه لوست کې د (الله) په لفظ پيل شوي، په دې کې څه ګټې نغښتې دي؟

۴- د لمر او سپوږمۍ په خوځښت او دوران کې د الله ﷻ د قدرت نښې بيان کړئ؟

۵- په پاسنيو آيتونو کې ياد شوي نعمتونه وشميرئ؟

ketabton.com - The Digital Library

نهم لوست

د الله ﷻ په لوري بلنه

﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَـٰلِحًا وَقَالَ إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ۞ وَلَا تَسْتَوِى ٱلْحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُ ۚ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِى بَيْنَكَ وَبَيْنَهُۥ عَدَٰوَةٌ كَأَنَّهُۥ وَلِىٌّ حَمِيمٌ ۞ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ﴾ [فصلت: آية: ٣٣- ٣٥]

د کلماتو معنا

ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ: بدی ته په نېکی ځواب ورکړه (د بدی مخنیوی په هغه څه سره وکړه چې هغه ډېر ښه وي).

وَلِى حَمِيمٌ: نږدې، خوږ او ګران دوست.

مَا يُلَقَّىٰهَآ: دا ښه صفت (مقام) نه ورکول کېږي.

حَظٍّ عَظِيمٍ: لویه برخه.

ژباړه

او د هغه چا له خبرې نه به ښه خبره د چا وي، چې هغه د الله خوا ته بلنه ورکړه او نیک عمل یې وکړ او ویې ویل بیشکه زه له مسلمانانو څخه یم، او (ای پیغمبره!) نیکي او بدي یو شانته نه دي، ته د بدی مخنیوی په هغې نیکی سره وکړه چې هغه ډېره ښه وي، ته به وګورې چې له تاسره د چا دښمني وه هغه به دې خوږ دوست ګرځیدلی وي. دغه صفت نه په برخه کیږي، مګر هغو خلکو ته چې صبر کوي ا و دغه مقام نه په برخه کیږي، مګر هغو خلکو ته چې د غټې برخې خاوندان دي.

ketabton.com - The Digital Library

تفسير

اجمالي معنى: حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه ويلي دي چې د دې الهي وينا ﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَآ...﴾ څخه مراد د الله ﷻ پيغمبر دی چې خلک يې د اسلام لوري ته راوبلل او رښتينی عمل يې وکړ او د اسلام سپيڅلی دين يې مورِ ته د الهي ډالۍ په توګه پريښود. په يوه بل روايت کې له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه نقل شوي دي چې مراد له دې آيت څخه د پيغمبر ﷺ صحابه او ياران دي. او د ﴿فَإِذَا ٱلَّذِى بَيْنَكَ﴾ آيت په هکله مفسرينو ويلي دي چې دا د ابو سفيان بن حرب په هکله نازل شوی دی چې د پيغمبر ﷺ ډير سخت دښمن و خو بيا يې دوست او ملاتړی شو.

غوره وينا

پورتنيو آيتونو د يو انسان د غوړې وينا لپاره درې صفتونه بيان کړي دي.

- خوک چې د الله ﷻ توحيد، طاعت او عبادت ته بلنه ورکوي.
- خوک چې په ښو او نيکو اعمالو چې الله ﷻ پرې امر کړی، التزام او پابندي ولري او د الله له محرماتو څخه ځان وژغوري.
- خوک چې له نيکو مسلمانانو سره اړيکې او له هغوی سره دوستي، محبت او همکاري ولري او له هغوی څخه دفاع وکړي.

د الله لوري ته بلنه يوه شرعي وجيبه ده

محمدي شريعت انسانانو ته د الله جل جلاله وروستی رسالت او نظام دی، خلکو ته د دې دين رسول او اسلامي احکامو او لارښوونو ته د خلکو هڅول، يوازې د دعوت له لارې ممکن دي. دالله لور ته بلنه يوه شرعي وجيبه ده او ځانته اصول او قواعد لري چې د قرآن کريم او د رسول عليه السلام له سنتو څخه اخيستل شوي دي.

هر مسلمان (نر او ښځه) په دې مکلف دي چې د خپلې پوهې او وس سره سم د دين د خپرولو په لاره کې زيار وباسي. په قرآن کريم کې د دعوت او د دعوت د لارو چارو په اړه ګڼ شمير آيتونه راغلي دي، په دې آيتونو کې ټينګار شوی دی چې دعوت بايد په نرمه لهجه، نيکو اخلاقو او غوره خبرو اترو سره ترسره شي. د ښلګې په ډول الله جل جلاله د بلونکو امام

ketabton.com - The Digital Library

او لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته داسې فرمايي: ﴿ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ..﴾ [النحل: ١٢٥] ژباړه: (ای پیغمبره!) د خپل رب لارې ته په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه وکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي.

د الله په لاره کې د دعوت او بلنې آداب

د الله ﷻ د دین د اصولو او اساساتو له بیانولو او د بنده او الله تعالی ترمنځ د اړیکو له ټینګولو وروسته، الله تعالی د داعیانو او بلونکو آداب او د بندګانو ترمنځ د نیکو اړیکو د استحکام په هکله داسې فرمايي:

﴿ وَلَا تَسْتَوِي ٱلْحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُۚ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُۥ عَدَٰوَةٌ كَأَنَّهُۥ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ۞ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴾.

د الله تعالی لوري ته بلونکي (داعیان) ډېر غوره خلک دي، نو پر دوی لازم دي چې د خلکو سره خپلې اړیکې نیکې کړي او د ستونزو، کړاوونو او تکالیفو په وړاندې له صبر او زغم څخه کار واخلي او بدیو ته په نیکۍ او احسان ځواب ورکړي- الله تعالی فرمایلي دي چې نه او بده وینا او کړنه برابره نه ده، ځکه الله تعالی له نېې وینا او کړنې څخه راضي او خاوند ته یې نیکه بدله ورکوي خو له ناوړې او بدې وینا او کړنې څخه ناراضه کېږي او خاوند ته یې سزا ورکوي، نو پر دې اساس مؤمن دعوت کوونکي ته لازمه ده چې د خلکو بدۍ په نیکۍ ځواب کړي او د بدۍ په وړاندې له نیکۍ څخه کار واخلي چې دا کار د هغه لپاره وړ او غوره دی او د هغه فضیلت او وړتیا څرګندوي.

کله چې د الله د دین دعوت کوونکی، بدي په احسان او نیکۍ او ګناه په بښنه او زغم ځواب کړي، نو په حقیقت کې دی د خلکو دوستي حاصلوي، د هغوی کرکه او کینه لرې کوي او دښمن یې په خواخوږي او ربښتیني دوست بدلیږي.

دا ستر خصلت د هغه چا په برخه کیږي چې د خپل نفس په وړاندې مجاهده او هلې ځلې کوي او د قهر، غوسې، آزار او ضرر په مقابل کې له صبر، زغم او حوصلې څخه کار اخلي. همدارنګه دا بښه او نیک صفتونه یوازې د هغو کسانو په برخه کیږي چې په دنیا کې د نیکمرغۍ څخه برخمن وي او په آخرت کې د اجر او ثواب د ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې کوي.

ابن عباس رضي الله عنه د ﴿ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ ... ﴾ د آیت په تفسیر کې ویلي دي چې الله تعالی مؤمنانو ته امر کړی دی، ترڅو د قهر او غضب پر وړاندې له صبر او

ketabton.com - The Digital Library

حوصلې، د جهل پر وړاندې له حلم او نرمۍ او د بدۍ پر وړاندې له عفوې او ښښې څخه کار واخلي، نو هرکله چې داسې کارونه ترسره کړي، الله پاک به دی د شیطان له شر څخه ساتي، دښمن به یې ورته تابع ګرځوي او هغه به ورته په خواخوږي او خواږه دوست بدلوي.

فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي او له مشورې وروسته دې یو زده کوونکی د خپل ګروپ په استازیتوب د بدۍ په مقابل کې د ځواب ویلو طریقه شرح کړي، بیا دې د دویمې ډلې زده کوونکي د لومړۍ ډلې په خبرو کره کتنه وکړي.

د لوست ګټې او لارښوونې

د دې لوست له آیتونو څخه ډېرې ګټې ترلاسه کیږي چې ځینو ته یې اشاره کوو:

- په دنیا کې د الله ﷻ لوري ته له داعیانو څخه هیڅوک ښه او غوره نشته، همدوی دي چې د ایمان، عمل او دعوت ترمنځ یې یووالی راوستی دی.
- پر مؤمن لازم دي چې خپل ایمان ظاهر او هغه اعلان کړي او په مجلسونو، غونډو او ټولنو کې د ایمان په درلودلو د عزت او ویاړ څرګندونه وکړي، چې دا په خپله تر ټولو ښه بلنه او دعوت دی.
- لکه څرنګه چې نیکي او بدي یو شانته نه دي، نو پر مؤمن لازمه ده چې نیکي غوره کړي او بدۍ ته په نیکۍ ځواب ووایي.
- له نورو سره احسان او نیکي او د هغوی د ناوړه کړو وړو زغمل، په پای کې دښمنان په ریښتینو ملګرو او دوستانو بدلوي.

پوښتنې

۱- هغه درې صفتونه چې په آیت کې د یوه انسان د غوره وینا په هکله ذکر شوي دي، بیان کړئ؟

۲- ولې نیکي او بدي برابر نه دي؟ نیکي پر نیک عمله انسان څه اغیزه لري او بدي پر بدکاره انسان څه اثرات او اغیزې درلودلای شي؟

۳- نیکي او احسان پر دښمنانو څه اغیزه لري؟

۴- له مبارکو آیتونو څخه د بدۍ پر وړاندې د نیکۍ غوره کولو کړنلاره استنباط کړئ؟

کورنۍ دنده

د دعوت د هغو کړنلارو په هکله چې د خلکو په رابللو کې اغیزناکې دي، یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

لسم لوست

ایمان او نیک عمل

﴿ وَٱلۡعَصۡرِ ۞ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ۞ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ﴾ [العصر: ١-٣]

د کلمو معناوي

وَٱلۡعَصۡرِ: قسم په وخت او زمانې، یا د مازدیګر په لمونځ، یا د مازدیګر د لمانځه په وخت.

وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ: او یو تر بله یې په حق وصیت کړی وي.

ژباړه

قسم په زمانې (عصر) یقیناً انسان په تاوان کې دی، مګر (په تاوان کې نه دي) هغه کسان چې ایمان یې راوړی، نیک عملونه یې ترسره کړي او یو بل ته په حق ویلو او صبر کولو وصیت کوي.

تفسیر

الله ﷻ په زمانې قسم او لوړه یاده کړې ده او تاکید یې کړی دی چې انسان په تاوان کې دی، مګر هغه کسان له دې تاوان څخه په امن دي چې د پاسني آیت په ترڅ کې استثنا شوي دي.

په زمانه باندې د الهی قسم راز او حکمت

دا چې الله ﷻ په زمانه قسم یادوي دا د دې ښکارندوی دی چې زمانه او وخت د الله ﷻ په نزد د لوړ ارزښت او شرف څخه برخمن دی. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «لَاتَسُبُّوا الدَّهْرَ، فَإِنَّ اللهَ هُوَ الدَّهْرُ» یعنې دهر یا زمانې ته کنځلې مه کوئ ځکه الله ﷻ دهر یا زمانه دی.

په دې معنا چې الله تعالی د زمانې بدلوونکی، ګرځوونکی، متصرف او واکدار دی.

د عصر نورې معناوې

ځینو مفسرینو ویلي دي چې له عصر څخه مراد د مازدیګر لمونځ یا د مازدیګر د لمانځه وخت دی. د دې خبرې له مخې د مازدیګر د لمانځه غوره والی او فضیلت ثابتیږي. او په همدې دلیل ډېرو علماوو ﴿والصَّلَاةِ الْوُسْطَى﴾ یعنې منځنی لمونځ د مازدیګر په لمانځه تفسیر کړی دی.

د ځینو علماوو په نزد په دې آیت کې دې خبرې ته اشاره ده چې د دنیا عمر د مازدیګر او مابنام ترمنځ د مودې په شان لنډ او مختصر دی.

ketabton.com - The Digital Library

نو پر انسان لازمه ده ترڅو دا لنډه موده چې ډېره زياته ارزښتناکه پانګه ده بايد په داسې تجارت کې ولګوي چې تاوان ونه لري، ځکه وخت او زمانه ډېره لنډه ده او څه چې له منځه ولاړ شي او تير شي، هغه بيا په لاس نه راځي.

له زيان څخه نجات موندونکي

وروسته له هغه چې انسان د خپل عمر له قيمتې پانګې څخه په ګټې نه اخېستلو سره تاواني وګڼل شو، الله ﷻ مخلص مؤمنان له دې زيان څخه مستثنی کړل او په اړه يې داسې وفرمايـــل:﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ يعنی هغه کسان چې په الله ﷻ ايمان ولري او ښه عملونه ترسره کړي هيڅکله به زيان او تاوان ونه وينې، ځکه هغوی د آخرت د ورځې لپاره کار کوي او د دنيا لپاره زيار د هغوی د آخرت د کار پر وړاندې خنډ نه ګرځي، دا ځکه چې هغوی د ښو عملونو په ترسره کولو سره په حقيقت کې د ايمان په مقتضا عمل کړی دی.

همدارنګه له زيان او تاوان څخه مستثنی شوي کسان هغه دي چې يو بل ته په حق سره توصيه او نصيحت کوي، الله تعالی فرمايي:﴿ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ ﴾

د يادولو وړ ده چې حق د باطل په مقابل کې ځای لري او حق ټولو نيکيو او ښو عملونو ته شاملېږي، لکه: د الله ﷻ توحيد، د الله تعالی د اوامرو فرمانبرداري، د الله ﷻ پر کتابونو او پېغمبرانو ايمان، آخرت ته په دنيا ترجيح ورکول او داسې نور.

همدارنګه ا لله تعالی هغه کسان له زيان او تاوان څخه مستثنی کړي دي چې يو بل ته توصيه کوي ترڅو د عبادتونو په ترسره کولو، له ګناهونو څخه په ځان ژغورلو او د هغو ستونزو او کړاوونو پر وړاندې چې د دعوت په لار او نورو دنيوي امورو کې انسان ته رسيږي، له صبر او حوصلې څخه کار واخلي، چې دا مطلب په ﴿ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ﴾ جمله کې ادا شوی دی.

نو له زيان څخه نجات مېندونکی کسان په لاندينيو څلورو صفاتو موصوف دي چې دغه څلور صفات عبارت دي له: ايمان، نيک عمل، په حق او صبر سره توصيه او نصيحت کول.

د سورة العصر مقام او ارزښت

امام شافعي رحمة الله عليه د دې سورت د اهميت په هکله فرمايلي دي که د قرآن کريم نه د العصر سورت څخه پرته بل هيڅ شی نه وای نازل شوی نو همدا سورت د انسانانو لپاره کافي و.

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه له عبيدالله بن حفص څخه ددې سورت د فضيلت په هکله داسې روايت شوی دی: کله به چې د نبي کريمﷺ له ملګرو څخه دوه تنه له يو بل سره مخامخ کيدل، نو ترڅو به يې چې سورة العصر يو بل ته نه و اورولی، نو له يو بل څخه به نه جلا کيدل.

د لوست ګټې او لارښوونې

- د انسان په ژوندانه کې وخت او زمان ډير زيات ارزښت لري، چې بايد يوه لحظه يې هم ضايع نشي.
- انسانان په عمومي توګه په زيان او تاوان کې دي، پرته له هغو چې ايمان يې راوړی دی او نيکو عملونو ته يې مخه کړې ده.
- هر مسلمان په حق ويلو او د الله ﷻ د دين په خپرولو مکلف دی، هغه بايد د الله ﷻ د دين ساتنه وکړي.
- مسلمانان مکلف دي چې يو بل ته د الله په طاعتونو، د نفساني غوښتنو او ګناه په پرېښودلو او د مصيبتونو او کړاوونو پر مهال په صبر کولو او د الله ﷻ قضا او قدر ته په تسليميدلو نصيحت او سپارښتنه وکړي.

پوښتنې

۱- د (العصر) معنا څه ده؟

۲- انسان ته د تاوان او زيان د رسيدلو لاملونه څه شی دي؟

۳- د لاندينيو جملو معنا څرګنده کړئ:

(وَتَوَاصَوْاْ بِٱلْحَقِّ)

(وَتَوَاصَوْاْ بِٱلصَّبْرِ)

۴- امام شافعی رحمة الله عليه د العصر سورت د فضيلت او غوره والي په هکله څه فرمايلي دي؟

۵- له سورة العصر څخه کومې ګټې او لارښوونې حاصلولی شو؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د انسان د خلاصون او نجات د اسبابو په هکله يوه مقاله وليکي چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

يوولسم لوست

امانت او په اسلام کې د هغه ارزښت

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا﴾ [النساء: ٥٨- ٥٩]

د کلماتو معناوې

ٱلۡأَمَٰنَٰتِ: امانتونه (خپل څښتن ته د بیرته ورکولو په نیت د یوه شي ساتل دي).

ٱلۡعَدۡلِ: انصاف (د حق رسیدنه خپل خاوند ته).

فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ: نو الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ته یې وسپارئ، د هغه حکم د الله ﷻ په کتاب او د هغه د رسول ﷺ په سنتو کې ولټوئ.

ژباړه

بیشکه الله ﷻ تاسې ته حکم کوي چې امانتونه د هغو خاوندانو ته وسپارئ او کله چې د خلکو په منځ کې فیصله کوئ نو په عدالت سره یې وکړئ بیشکه الله پاک تاسې ته ډیر ښه نصیحت کوي او الله پاک ښه اوریدونکی او ښه لیدونکی دی.

ای مؤمنانو! د الله ﷻ، د رسول ﷺ او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې له تاسې نه د امر خاوندان دي، بیا که ستاسو ترمنځ په کومه خبره شخړه پیښه شي نو هغه د الله ﷻ او رسول ﷺ لوري ته محوله کړئ که تاسې په ربښتیا سره پر الله ﷻ او د آخرت په ورځ ایمان لرئ دا کار غوره دی او د پایلې په اعتبار هم ښه دی.

ketabton.com - The Digital Library

تفسير

الله تعالى خپلو بندګانو ته امر کړی ترڅو امانتونه د هغو خاوندانو ته ښرته وسپاري او د حکم او پريکړې پر مهال په عدل فيصله وکړي. همدارنګه الله تعالى خپل بندګان د خپل ځان او پيغمبر ﷺ په اطاعت او پيروۍ او د چارواکو په پيروۍ مامور کړي دي. الله تعالى د لوست په لومړي آيت کې د نيکو عملونو څخه دوه خصلتونه بيان کړي دي يو د امانتونو خاوندانو ته ښرته د هغوی امانت سپارل، بل په فيصله او حکم کولو کې له عدل څخه کار اخيستل.

د امانتونو ادا کول

امانت هر هغه شی دی چې انسان يې د ساتنې لپاره د اعتماد وړ ګرځي، که هغه شی مادي وي يا معنوي. کله امانت د الله ﷻ سره ژمنه او وعده وي چې ادا کول يې د الله تعالى د اوامرو عملي کول او له منهياتو څخه يې ډډه کول دي.

کله امانت د خلکو پر وړاندې وي، لکه د انسانانو امانتونه او اسرار چې ادايې پرته له درغلۍ او خيانته خپلو خاوندانو ته د هغو امانتونو او رازونو ښرته سپارل دي. عام مسوولیتونه او دندې په غاړه اخيستل هم يو ډول امانت دی، د امانت غوښتنه دا ده چې دا مسوولیتونه او دندې بايد په سمه توګه سر ته ورسول شي. که څوک په دولتي، خصوصي يا شخصي ادارو کې په کار وګمارل شي او په خپل کار کې لتې وکړي او هغه په سمه توګه تر سره نه کړي نو د خيانت مرتکب شوی دی. همدا راز د عامه شتمنيو څخه ناوړه ګټه اخيستل او د هغو په ساتنه کې بې پروايي کول هم په امانت کې د خيانت يوه بڼه ده.

دې مبارک آيت او نورو آيتونو او نبوي احاديثو، مؤمنان د ټولو امانتونو ادا کولو ته تشويق او ترغيب کړي دي.

د امانت ساتلو او د هغه د ارزښت په هکله ډېر آيتونه او احاديث راغلي دي لکه چې الله تعالى فرمايي: ﴿ إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ ﴾ [الاحزاب:٧٢]

يعنې: مور دغه امانت، آسمانونو، ځمکې او غرونو ته وړاندې کړ، نو هغوی يې پورته کولو ته تيار نه شول او ورڅخه وويريدل، خو انسان هغه پورته کړ. او په بل ځای کې الله ﷻ امانت ساتونکي خلک بريالي ښودلي دي، فرمايي: ﴿ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِأَمَٰنَٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَٰعُونَ ﴾ [المعارج: ٣٢ ، المؤمنون : ٨].

ketabton.com - The Digital Library

يعني: او بريمن (كامياب) هغه كسان دي چې د خپلو امانتونو او ژمنې (وعدې) پالنه او رعايت كوي.

همدارنګه نبي كريم ﷺ ايمان او دين په امانت پورې اړوند بللى دى، فرمايي: «لا إِيمَانَ لِمَنْ لا أَمَانَةَ لَهُ، وَلا دِينَ لِمَنْ لا عَهْدَ لَهُ»[1] يعني څوک چې امانت نه رعايت كوي ايمان نه لري او څوک چې وعده او ژمنه نه پوره كوي دين نه لري.

په عدل سره حكم او قضاوت

الله تعالى مؤمنانو ته امر كړى چې په خپل حكم او قضاوت كې عدل او حق په نظر كې وساتي. الله ﷻ د خپلې پاچاهۍ بنسټ په دوو اصلونو (حق او عدل) باندى ايښى دى. كله چې په حكم او قضاوت كې ظلم او بې عدالتي وي نو انسانان د بدبختۍ او تباهۍ خواته ځي، حقوق ضايع او د انسانانو ترمنځ فساد خپريږي.

په دې هكله دېر آيتونه او حديثونه راغلي چې يو له هغو دا الهي وينا ده چې فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ﴾ [النحل: ٩٠]. يقيناً الله تعالى په عدل او احسان امر كوي.

په ويناوو كې عدل او انصاف

همدارنګه الله تعالى په خبرو كولو كې د عدل او انصاف په رعايت كولو تاكيد كړى، الله تعالى فرمايي:

﴿ وَإِذَا قُلۡتُمۡ فَٱعۡدِلُواْ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰ ﴾ [الانعام:١٥٢]. يعني: هركله چې خبرې كوئ نو په عدالت سره يې وكړئ، كه هغه د خپلوانو په هكله هم وي.

انس بن مالک ﷺ روايت كړى چې د الله پيغمبر فرمايي: «لا تَزَالُ هٰذِهِ الْأُمَّةُ بِخَيْرٍ مَا إِذَا قَالَتْ صَدَقَتْ وَ إِذَا حَكَمَتْ عَدَلَتْ وَ إِذَا اسْتُرْحِمَتْ رَحِمَتْ»[2]

يعني: تر هغه وخته پورې به دا امت (زما امت) په خير او نيكۍ كې وي، ترڅو چې دوى په ربښتيا وينا كوي او كله چې حكم كوي، عدالت كوي او كله چې ورڅخه د رحم غوښتنه وشي، رحم او مهرباني كوي.

بيا الله تعالى مؤمنانو ته خطاب كوي او فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ﴾

١-المعجم الكبير للطبرانى

٢ -مسند ابو يعلى.

ketabton.com - The Digital Library

يعني: الله تعالى د امانت په ادا کولو او په عدالت حکم کولو سره تاسو ته ډېر غوره نصيحت کوي چې په هغه کې ستاسو دنيوي او اخروي ګټې او نيکمرغۍ نغښتې دي، نو پر تاسو لازم ده ای مؤمنانو چې د الله ﷻ په لارښوونو او حکمونو عمل وکړئ، ځکه الله تعالى په هغه څه چې له ستاسو څخه صادريږي (د امانتونو په ادا کولو او خيانت کولو) ښه خبر، اوريدونکی او ليدونکی دی.

د الله ﷻ، د هغه رسول ﷺ او د اولي الامر اطاعت او پيروي

بيا قرآنی آيت مؤمنانو ته د الله ﷻ په پيروۍ او د هغه د پيغمبر په پيروۍ امر کوي. همدارنګه الله تعالى مؤمنانو ته امر کوي چې د خپل اولي الامر يا مسلمان مشر پيروي وکړي اولی الامر يا مشر د امير، حاکم او د مسلمانانو د سرلښکر څخه عبارت دی، چې پر مسلمانانو يې پيروي او اطاعت تر هغه واجب ده ترڅو چې د الله ﷻ په نافرمانۍ امر ونه کړي. خو که چيرته د مشر امر له الهی شريعت څخه مخالف وي نو بيا هيڅوا ته د هغه اطاعت او پيروي جواز نه لري ځکه د الله ﷻ پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

«لا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ»[1] يعني د الله ﷻ د نافرمانۍ په صورت کې د مخلوق پيروي نشته.

بيا الله تعالى مؤمنانو ته د جنګ او اختلاف پر مهال لارښوونه کړې ده چې د الله ﷻ کتاب او د هغه د رسول ﷺ سنتو ته رجوع وکړي، د الله رسول ﷺ داسې فرمايلي دي:

«مَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَاجْتَنِبُوهُ وَمَا أَمَرْتُكُمْ بِهِ فَافْعَلُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ فَإِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَثْرَةُ مَسَائِلِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ»

يعني: له هغه څه چې مې منع کړي ياست له هغه څخه ډډه وکړئ او په هغه څه چې مې درته امر کړی، د خپل توان او وس مطابق په هغه عمل وکړئ، ستاسو څخه مخکې تير شوي امتونه د دوی د زياتو پوښتنو او اختلافونو په سبب چې د خپلو پيغمبرانو په هکله يې کول هلاک شوي دي.

فعاليت

هر زده کوونکی دې په دې هکله چې څه وخت د مخلوق پيروي او اطاعت واجب او څه وخت ناروا دی، په خپله کتابچه کې يو نبوي حديث وليکي.

۱- المعجم الكبير للطبرانی

ketabton.com - The Digital Library

د لوست ګټې او لارښوونې

د دې مبارک آیت ځینې ګټې او لارښوونې په دې ډول دي:

❖ د امانت ادا کول او د خلکو په منځ کې په عدل او حق سره فیصله کول.

❖ د مسلمان اولی الامر او مشر اطاعت او پیروي کول په هغه صورت کې چې د الله ﷻ په نافرمانۍ حکم ونه کړي.

❖ د مسلمانانو د اختلاف په صورت کې د الله ﷻ کتاب او د نبي کریم ﷺ سنتو ته مراجعه کول، برابره ده که دا اختلاف د دین د امورو په هکله وي یا د دنیا د امورو په هکله.

پوښتنې

۱. د مؤمنانو دوه نیک او ښایسته عملونه بیان کړئ.؟

۲. الله پاک ولې د خلکو په منځ کې په عدل کولو سره امر کړی په عدل سره د امر کولو ګټې بیان کړئ.؟

۳. د الله ﷻ د دې وینا ﴿ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ ﴾ څخه څه ګټې حاصلولی شو؟

۴. د الله د رسول او اولې الامر په اطاعت او پیروۍ کې څه توپیر دی؟ واضح یې کړئ.

۵. په کوم حالت کې پر مسلمانانو د خپل مشر اطاعت لازم نه دی؟ په نبوي حدیث استدلال وکړئ.

٦ – الله تعالی مونږ ته هغه مرجع او منبع معرفي کړې ده چې د اختلاف او جګړې په وخت کې باید هغې ته مراجعه وکړو. هغه منبع کومه ده او دلیل یې څه دی؟

۷– د شرعي مفهوم له مخې امانت کومو شیانو ته شاملیږي؟

ketabton.com - The Digital Library

د وينا او کړنې يووالی

﴿ وَلَا تَلۡبِسُواْ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُواْ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ۞ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ۞ أَتَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبِرِّ وَتَنسَوۡنَ أَنفُسَكُمۡ وَأَنتُمۡ تَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ۞ وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلۡخَٰشِعِينَ ۞ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ وَأَنَّهُمۡ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ﴾ [البقرة:۴۲-۴۶]

د کلمو معناوې

وَلَا تَلۡبِسُواْ:	او مه ګډوئ، مه ور آغوندئ
أَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ:	لمونځ د ارکانو، شرطونو او آدابو په مراعاتولو سره ادا کړئ.
وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ:	زکات (مستحقينو ته) ورکړئ.
ٱلۡبِرَّ:	نېکي (ټول نيک عملونه).
بِٱلصَّبۡرِ:	په زغم.
ٱلۡخَٰشِعِينَ:	عاجزي کوونکي.

ژباړه

او حق له باطل سره مه ګډوئ او مه پټوئ حق، حال دا چې تاسې (په دې خلط او پټولو سره) پوهيږئ او له پوهيدو سره سره د حق پټولو هڅه مه کوئ.

او لمونځ قايم کړئ، زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو (لمونځ کوونکو مسلمانانو) سره رکوع وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

آیا تاسې نورو ته د نیکې لارې د غوره کولو امر کوئ او خپل ځانونه هیروئ؟ په داسې حال کې چې تاسو کتاب لولئ، نو آیا تاسې له عقل څخه کار نه اخلئ.

او (په هر سختۍ کې له الله) په صبر او لمانځه سره مرسته وغواړئ، په دې کې شک نشته چې لمونځ یو ډېر درومند کار دی، خو په عاجزۍ کوونکو درومند نه دی، هغوی چې یقین کوي، چې بیشکه له خپل پروردګار سره مخامخ کیدونکي دي او په تحقیق هغوی الله تعالی ته بیرته ورتلونکي دي.

تفسیر

الله تعالی په دې آیتونو کې د ځمکې د مخ ټولو خلکو او امتونو ته چې خپل پیغمبران یې د دوی د هدایت لپاره رالیږلي دي امر کړی دی چې حق پټ نه کړي او د خپلو باطلو غوښتنو په حکم د الله ﷻ احکامو ته تغییر ورنه کړي، دا غوښتنه یې په ځانګړې ډول له یهودو څخه وه ځکه چې هغو ته حق معلوم و، خو د تعصب او کینې له امله یې هغه ته تغییر ورکاوه، ترڅو خلک د حق له پیروۍ څخه منع کړي. یهودو حق پټ او له باطل سره یې ګډ کړل، حال دا چې ښه پوهیدل چې حق هماغه دی چې د اسلام پیغمبر ﷺ راوړی دی.

بیا الله ﷻ مؤمنانو ته امر کوي چې د خپل دین په ارکانو عمل وکړي څو یې زړونه حق ته لاره پیدا کړي او له الله ﷻ څخه یې ویره زیاته شي.

قرآن کریم دلته داسلام دوه اساسي رکنونه بیانوي چې لومړی د لمانځه ادا کول دي او دا لوی بدني عبادت دی چې له ټولو ارکانو او شرایطو سره ادا کول یې ډیرې ګټې لري او لمونځ کوونکی له فحشا او ناروا وو څخه ژغوري. دویم رکن زکات دی چې دا تر ټولو لوی مالي عبادت دی.

پرته له شکه پردې عبادت التزام او پابندي زړونو ته سپیڅلتیا وربښي او نفسونه پاکوي.که چیرې انسان د دې عبادت په ادا کولو کې بې پروایي او غفلت وکړي، نو په دنیا او آخرت کې یې ذلت او خواري په برخه کیږي.

د وینا او کړنې مطابقت

وروسته له هغو اوامرو او ویناوو چې د یهودو طایفې ته یې وړاندې کړې، الله تعالی هغوی د غیر عاقلانه تصرفاتو او کړو وړو په مقابل کې ورټل او داسې یې ورته وفرمایل:

ketabton.com - The Digital Library

﴿ أَتَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبِرِّ وَتَنسَوۡنَ أَنفُسَكُمۡ وَأَنتُمۡ تَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴾ يعني:

آيا تاسي خلکو ته په نيکو کارونو حکم کوئ او خپل ځانونه هيروئ حال داچي د الله ﷻ کتاب هم لولئ ولي له عقل نه کار نه اخلئ.

دلته استفهام د توبيخ او تعجب او د يهودو د بدو کړو وړو د غندني لپاره دی چې خلکو ته يې په نيکيو امر کاوه، خو هغوی په خپله دغه کار نه ترسره کاوه. حال دا چې د دې کار په بدی د تورات له مخې ښه پوهيدل، نو ځکه قرآني آيتونو د دوی عقل مخاطب ګرځولی او دوې له داسې کار څخه منع کوي او دې ته يې پام اړوي چې دا کار د عقل او پوهې د تقاضا پر خلاف دی.

په صبر او لمانځه سره مرسته غوښتل

په دې آيتونو کې الله تعالی يهوديانو ته د دې ښوونه کوي چې د خپل کتاب څخه په سمه توګه استفاده وکړي، ترڅو يې زړونه پاک او په نيتونو کې يې اخلاص راشي، نو الله تعالی هغوی ته امر وکړ چې لومړی د صبر په واسطه مرسته وغواړي، ځکه صبر انسان د الله ﷻ په هغه وعده ډاډمنوي چې صبر کوونکو ته يې د لوی اجر او ثواب زيری ورکړی دی، صبر کوونکو خپل نفسونه د خپلو غوښتنو څخه محروم کړي او په ټينګه يې له ګناه او نافرمانی څخه ساتلي دي.

همدارنګه قرآنی آيتونو په لمانځه سره د مرستې د غوښتلو امر کړی دی ترڅو په دې وسيله د بې حيايي او ناروا وو څخه ډډه وشي، ځکه د لمانځه د ادا کولو پر مهال، انسان په ښکاره او پټو حالتونو کې الله ﷻ يادوي او هغه پر خپل ځان باندې څارونکی ګڼي.

يقيناً لمونځ کول له داسې شرطونو او ادبونو سره يو ستونزمن کار دی مګر د هغه کسانو لپاره نه چې د الله ﷻ څخه ويريږي او د هغه عذاب رايادوي، هغو ته دا يو آسان او زړه ته نژدې کار دی، لکه څرنګه چې د الله ﷻ رسول فرمايلي دي: «وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ»[1]

يعنی زما د سترګو روښنايي او يخوالی په لمانځه کې دی.

الله تعالی په خشوع او عاجزی سره لمونځ کوونکي بنده ګان له هغو خلکو څخه مستثنا کړي دي چې لمونځ ادا کول ورته ګران بربښي. دا په دې چې دوی يقين لري چې د قيامت په ورځ به د خپل پروردګار سره مخامخ کيږي او د ټولو ستنيدنه يوازې د الله ﷻ لور ته ده او الله ﷻ به د دوی د عملونو ښه بدله ورکوي نو له همدې امله نه يوازې لمونځ وربانديې سخت او ګران نه تمامږی بلکې په ډېره مينه يې ادا کوی او د لمانځه په واسطه د الله ﷻ نه مرسته غواړي او کله چې هغوی ته کومه ستونزه پيښه شي، نو د لمانځه په ادا کولو سره د الله ﷻ عبادت ته مخه کوي. ځکه کله به چې رسول الله ﷺ ته هم څه مهم کار پيښ شو، نو لمانځه ته به يې مخه کوله.

---

[1]- مسند امام احمد.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

❖ د صبر او لمانځه څخه د مرستې غوښتنې د څرنګوالي په اړه دې زده کوونکي له یو بل سره بحث وکړي.

د لوست ګټې او لارښوونې

د دې لوست ځینې ګټې او لارښوونې په دې ډول دي:

❖ رښتینی مؤمن د الله ﷻ د کتاب په بشپړه توګه پیروي کوي د هغه په اوامرو عمل او له نواهیو څخه یې ډډه کوي او فرایض یې په ښه شان سرته رسوي.

❖ رښتینی مؤمن هغه دی چې یوازې له الله ﷻ څخه وویریږي او د بل هیڅ شي پروا ونه لري.

❖ رښتینی مؤمن هغه دی چې د الله ﷻ په ټولو اوامرو ځان مکلف ګڼي او هیڅ دیني او شرعي کار د نفس د غوښتنو لپاره نه پریږدي.

❖ رښتینی مؤمن هغه دی چې وینا یې له کړنې سره برابره وي او داسې څه نه وایي چې خپله پرې عمل نه کوي.

❖ رښتینی مؤمن د ستونزو پر مهال لمانځه ته مخه کوي او د لمونځ په ادا کولو سره له الله تعالی څخه مرسته غواړي.

پوښتنې

۱- الله تعالی ولې د لمانځه په قایمولو او د زکات په ادا کولو امر کړی دی؟

۲- د (اقامة الصلاة) معنی څه ده؟

۳- الله تعالی یهود د دوو مهمو رکنونو څخه په مرسته غوښتلو مامور کړي دي ترڅو د ژوندانه پر ستونزو برلاسي شي. هغه دوه رکنونه کوم دي؟

۴- د صبر معنا څه ده؟

۵- د صبر ډولونه بیان کړئ؟

٦- انسان څرنګه په صبر او لمانځه مرسته غواړي؟

کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې د لوست په رڼا کې د صادق او رښتیني مؤمن په هکله یوه لنډه مقاله په خپلو کتابچو کې وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

دیارلسم لوست

د الله ﷻ له ذکر نه د سرغړونې پایله

﴿ وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُۥ شَيْطَٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ ۞ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ۞ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَٰلَيْتَ بَيْنِى وَبَيْنَكَ بُعْدَ ٱلْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ ٱلْقَرِينُ ۞ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِى ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ۞ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ أَوْ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَمَن كَانَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾

[الزخرف:٣٦-٤٠]

د کلماتو معناوې

يَعْشُ: څوک چې د الله ﷻ له ذکر څخه بې پروايي او غفلت کوي.

نُقَيِّضْ: مسلط کوو.

قَرِينٌ: مل او همیشنی دوست او ملګری.

لَيَصُدُّونَهُمْ: هغوی له حق څخه اړوي.

ٱلسَّبِيلِ: حقه لاره، د اسلام دین

ژباړه

څوک چې د رحمن خدای ﷻ له ذکر څخه ځان په غفلت او بی پروایی کې اچوي، نو مونږ په هغه باندې یو شیطان مسلط کوو نو هغه به یې ملګری وي، دا شیطانان دغسې خلک له سمې لارې څخه منع کوي او هغوی (له ځانه سره) دا ګمان کوي چې مونږ په سمه روان یو. ترڅو چې کله (دغه انسان) زمونږ حضور ته راشي نو خپل شیطان دوست ته به ووایي: کاشکې زما او ستا ترمنځ د ختیځ او لویدیځ لېرې والی وای ته خو ډیر بد ملګری وې.

ketabton.com - The Digital Library

او نن ورځ به (دا بيزاري) تاسی ته هيڅ ګټه ونه رسوي، ځکه چې تاسې ظلم کړی دی ستاسې لپاره بيشکه تاسې (او ستاسې شيطان) په عذاب کې يو برابر او شريکان يئ.

نو ای پيغمبره! آيا ته به کاڼه واوروې يا به ړندو او په خړګنده ګمراهۍ کې غورځيدلو خلکو ته لاره وښيې؟

تفسير

د بدې ملګرتيا پايله

دا مبارک آيتونه بيانوي چا چې د الله ﷻ له ذکر او لارې څخه سرغړونه کړې او په کاياتو او قرآن کريم کې د الله ﷻ د واضحو او ښکاره دليلونو څخه ستر ګې پټوي او په باطله لاره درومي، نو الله تعالی شيطان د ده ملګری او مل ګرځوي.

د مسلم په روايت حديث دی، چې: د هر مسلمان لپاره يو جني ملګری وجود لري او شيطان کولای شي د آدم د اولادې د وينو په جريان کې حرکت وکړي.

په دې ترتيب شيطانان خپل کافر پيروان او دوستان له حقې لارې څخه اړوي او هغوی داسې ګڼي چې لارموندونکي دي حال دا چې دوی په ښکاره ګمراهۍ کې دي، ترڅو چې بيا را ژوندي کړای شي، لکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿ وَإِنَّهُمۡ لَيَصُدُّونَهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ﴾

يعنی شيطانان هميشه له الله ﷻ څخه غافل خلک د الله ﷻ له لارې څخه اړوي او هغوی داسې ګڼي چې هدايت موندونکي دي.

الله تعالی مورِ ته خبر راکوي، چې کله د قيامت په ورځ الله ﷻ کافر انسان ژوندی کوي نو دا کافر هيله کوي چې د ده او د ناوړه ملګري ترمنځ يې د خټيځ او لوېديځ فاصله وای او دا کافران خپلو ملګرو ته وايي: کاشکې تاسومې نه وای پيژندلي او تاسو زه نه وای پيژندلی، کاشکې تاسومې نه وای ليدلي او تاسو زه نه وای ليدلی، تاسې څومره بد او ناوړه ياران او دوستان وئ.

خو الهي فرمان دوی ټولو ته داسې خړګندونه کوي، چې ستاسوله يو بل څخه بيزاري او نفرت ګټه نه لري بلکې تاسې ټول د عذاب مستحق او وړ يئ او په دې دردناک عذاب کې شريک يئ (او ستاسو په عذاب کې به څه کمی رانشي).

هدايت د الله ﷻ له لوري دی

بيا قرآني خطاب د الله ﷻ پيغمبر ته متوجه شوی، الله ﷻ له خپل نبي څخه پوښتنه کوي چې آيا ته به هغه څوک واوروای شي چې هغه د اوريدنې له نعمت څخه محروم شوی وي؟ او يا به وکولای شي چې ړانده ليدونکي کړې؟ او يا په ښکاره ګمراهۍ کې ډوبو خلکو ته لارښوونه وکړې؟ نه دا ټول کارونه ستا له وس او قدرته پوره نه دي او ته يوازې هغو کسانو ته تبليغ کوونکی او ويره ورکوونکی يې چې وغواړي خپل ځان د دوزخ له اوره وژغوري لکه څنګه چې الله ﷻ د دې امر ټينګار خپل رسول ته کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library

﴿ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ أَوْ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَمَن كَانَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ يعني آيا ته دې کړو ته کولای شې خبرې واوروې او يا دې ړندو او ضدي ګمراهانو ته لارښوونه وکړې؟ همدارنګه د دې لوست مبارک آيتونه د پيغمبرﷺ او مشرکانو ترمنځ تضاد او اختلاف راپه ګوته کوي، څکه د الله ﷻ پيغمبرﷺ په اصرار او زړه سوي د دوی د دعوت لپاره هلې ځلې کوي او مشرکان په ګمراهۍ او سرغړونه ټينګار کوي او د قرآن او نبوت د ښکاره دلايلو څخه سترګې پټوي او کفر او عناد ته دوام ورکوي.

د لوست ګټې او لارښوونې

له مبارکو آيتونو څخه ځينې ګټې او لارښوونې ترلاسه کيږي.

- ❖ څوک چې د قرآن کريم له آيتونو او ښکاره دلايلو څخه سرغړونه کوي، الله پاک به هغه ته ددې په بدل کې د داسې شيطان ملګرتيا ورپه برخه کړي چې پر ده به مسلط وي او په دنيا او آخرت کې به ورته د هلاکت او تباهۍ لور ته لارښوونه کوي.
- ❖ کافران په ګمراهۍ کې روان دي په داسې حال کې چې دوی ګمان کوي چې لارموندونکي دي.
- ❖ بايد په قرآن کريم منګولې ونښلوئ څکه قرآن کريم انسان ته هغه سمه او نيغه لاره ښيي چې د دنيا او آخرت د نيکمرغيو ضمانت کوي.
- ❖ د قرآن کريم پيروي په دنيا او آخرت کې د عزت او سرلوړۍ لامل دی، چې عربو د قرآن په نازليدلو سره دا عزت او مرتبه ترلاسه کړه، لکه څرنګه چې الله تعالی دا حقيقت خپل پيغمبرﷺ ته داسې بيـــان کړی دی: ﴿وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ﴾ [الزخرف: ۴۴] يعنی: قـــرآن کريم ستا او ستا د قوم لپاره شرف او عزت دی.

پوښتنې

۱- د هغو کسانو سزا، چې د الله له ذکر څخه مخ اړوي او د هغه له آياتو څخه سترګې پټوي څه ده؟
۲- شيطانان د خپلو پيروانو او دوستانو سره څه کار کوي؟
۳- پيروان او امر منونکي د قيامت په ورځ خپلو مشرانو او متبوعانو ته څه وايي؟
۴- قرآني نص څه شی د پيغمبرﷺ له قدرت او صلاحيت څخه لرې ګڼلی دی؟

کورنۍ دنده

د قيامت په ورځ کافر انسان د خپل دوست او ملګري په هکله څه وايي؟ د دې مطلب مهمې نکتې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

نیکي څه ده؟

﴿ لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّۦنَ وَءَاتَى ٱلْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِى ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَٰهَدُوا۟ ۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِى ٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلْبَأْسِ ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُوا۟ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ﴾ [البقرة: ۱۷۷]

د کلماتو معناوي

ٱلْبِرَّ:	نیکي (د هر ښه کار لپاره جامع او کامل نوم دی).
ٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ:	مسافر (چې د مال، کورنۍ او وطن څخه لرې وي).
فِي ٱلرِّقَابِ:	د غلامانو په آزادولو (د غاړې په خلاصولو) کې.
ٱلْبَأْسَآءِ:	فقر او سختي.
ٱلضَّرَّآءِ:	ضررونه (لکه مرض، ویره او داسې نور).
وَحِينَ ٱلْبَأْسِ:	د جنګ په وخت کې.

ژباړه

نیکی دا نه ده چې تاسې خپل مخونه ختیځ لوري ته یا لویدیځ لوري ته واړوئ، بلکې نیکي دا ده چې انسان الله ﷻ او د قیامت ورځ او پرښتې او د الله ﷻ نازل کړی شوي کتابونه او د هغه پیغمبران د زړه له کومې ومنې او د الله په مینه کې خپل ګران مالونه په خپلو خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو، مسافرانو، درویزګرو او د مریانو په آزادۍ کې مصرف کړي لمونځ قایم کړي، زکات ورکړي او (نیکان هغه کسان دي) چې کله وعده وکړي ترسره یې کړي ا و د تنګسې او غمونو په وخت کې او د حق او باطل په جګړه کې صبر وکړي. همدا رښتوني او همدا پرهیزګار خلک دي.

ketabton.com - The Digital Library

تفسير

د قبلې ګرځېدل

نبی کریمﷺ سره له مسلمانانو، وروسته د مدینې منورې له هجرت څخه تقریباً تر یو نیم کال پورې د بیت المقدس په لوري لمونځ کاوه. د رسول علیه السلام دا غوښتنه وه چې د کعبی لور ته لمونځ وکړي، الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته امر وکړ چې له دې وروسته د کعبې شریفې په لوري لمونځ ادا کړي. د مدینې یهودو د قبلې په بدلېدو په فتنو لاس پورې کړ او غوښتل یې د مسلمانانو په زړونو کې شک او تردید پیدا کړي او خلک د اسلام د دین له منلو څخه منع کړي. یهودیانو تبلیغ کاوه چې سمه قبله بیت المقدس ده او له هغه پرته بل هیڅ لوري ته لمونځ نه صحیح کیږي.

نو پر دې بنسټ الله تعالی د پورتنیو آیتونو په رالیږلو سره دا څرګنده کړه، چې په لمانځه کې ختیځ یا لویدیځ لوري ته مخ ګرځول د نیکۍ معیار نه دی، بلکې د نیکۍ معیار ایمان او هغه صالح عملونه دي چې د دې آیتونو په ترڅ کې په تفصیل سره بیانیږي.

نیکی او ډولونه یې

پورتنی مبارک آیت بیانوي چې نیکي په لمانځه کې د مشرق او مغرب لوري ته مخ اړول نه دي، بلکې نیکی د ایمان، اخلاقو او غوره اعمالو څخه عبارت ده.

دا مبارک آیت د نیکۍ بنسټونه په لاندې چارو کې بیانوي:

د ایمان بنسټونه

د نیکۍ بنسټیز اصل په یو او بې نیازه الله ﷻ باندې ایمان راوړل دي چې د ټولو نیکیو اساس او بنسټ بلل کیږي، د آخرت پر ورځ ایمان راوړل دي چې په هغه ورځ له هر چا سره حساب کیږي او بیا ثواب او عذاب پرې مرتبږي، په پرښتو ایمان راوړل دي او په انبیاؤ ایمان راوړل دي چې خلکو د دوی بلنه منله او د هغوی په هدایت او لارښوونه یې عمل کاوه دا د نیکیو اساس دی، چې هر انسان باید په هغه ایمان او باور ولري، ترڅو له سالمې عقیدې، نیکمرغۍ او کامیابۍ څخه برخمن شي.

نیک عملونه

د ایمان له اصولو او بنسټونو څخه وروسته مبارک آیت د نیکو عملونو اصول او بنسټونه بیان کړي دي چې د ایمان نتیجه او ثمره ده، لکه څرنګه چې الله تعالی د ښه انسان په وصف کې

ketabton.com - The Digital Library

فرمايي: ﴿ وَءَاتَى ٱلْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَـٰمَىٰ وَٱلْمَسَـٰكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِى ٱلرِّقَابِ ﴾ يعني مال او دولت سره له ډېرې مينې له هغه سره، هغو کسانو ته ورکړئ چې زياته اړتيا ورته لري، لکه خپلوان، يتيمان، فقيران، مسکينان، په لاره کې پاتې مسافران، درويزه کوونکي او د غلامانو په آزادۍ کې دې ورکړي.

په ډير تأسف سره خلکو دغه حقوق چې په قرآن کريم کې پرې تاکيد او ټينګار شوی دی هير کړي دي او يا ورڅخه غافله شوي دي، که چيرې مسلمانان دا حقوق مراعات کړي او عمل پرې وکړي نو دوی به له غوره خلکو او غوره امتونو څخه وګڼل شي او په دې سره به د نورو امتونو خلک د دې لوړو ارزښتونو په لیدلو د اسلام مقدس دين ته مخه وکړي.

همدارنګه د غوره عملونو له ډلې څخه د لمانځه اداء کول سره له ټولو آدابو او شرطونو دي.

همدارنګه بل له نيکو عملونو څخه د زکات د فريضې اداء کول دي چې ډير ځله قرآن کريم هغه له لمانځه سره پيوست ذکر کړی دی.

غوره اخلاق

قرآنی آيت د ايمان او نيکو عملونو له بيانولو وروسته د اخلاقو اصول بيانوي ترڅو مسلمان پر هغو پابندي ولري چې دا په خپله د ايمان ثمره ده. پر ژمنه وفا، په تنګ لاسۍ ستونزو او جهاد کې صبر کول د غوره اخلاقو له ډلې څخه دي، چې قرآن کريم د خير او نيکۍ په عنوان ياد کړي دي.

ختيځ يا لويديځ ته مخ ګرځول نيکي نه ده، بلکې نيکي د ايمان، نيکو عملونو او د اخلاقو له ټولو اصولو او بنسټونو څخه عبارت ده چې دې مبارک آيت دا ټول اصول رانغښتي دي.

د آيت په پای کې هغه کسان چې د الله ﷻ د اوامرو پابندي کوي او د خپل دين لارښوونې په ښه توګه ترسره کوي، قرآن کريم په دوو لويو صفتونو ستايلي دي:

۱- هغوی د ايمان په دعوه کې رښتيني دي، ځکه دوی يوازې په ژبه ايمان نه دی راوړی بلکې ايمان يې په زړونو او عملونو سره ثابت کړی دی.

۲- دوی متقيان او پرهيزګاران دي، چې پر قرآن يې عمل کړی او له الله ﷻ څخه ويريدلي او د آخرت د ورځې لپاره يې تياری او چمتووالی ښودلی او خپل ظاهر يې له باطن سره برابر کړی دی.

د لوست ګټې او لارښوونې

له تير شوي مبارک آيت څخه لاندې ګټې ترلاسه کوو:

❖ انسان تر هغه پورې مؤمن نه ګڼل کيږي ترڅو چې له الله ﷻ او د الله له پيغمبر ﷺ سره مينه او دوستي پر نورو ټولو مينو او دوستيو لوړه ونه بولي، زړه يې د الله ﷻ په ياد ډاډمن نشي او له ګناهونو څخه ځان و نه ژغوري.

ketabton.com - The Digital Library

❖ نیک عملونه او کړه وړه د صحیح ایمان ثمره او پایله ده.

❖ ډاډمنه او سوکاله ټولنه هغه ټولنه ده چې د وګړو ترمنځ یې، مینه، دوستي، مرسته او خواخوږي حاکمه وي، ځکه داسې ټولنه د یوه جسم او تن په څیر وي، چې د یوه غړي په درد او رنځ سره ټوله ټولنه ناکراره کیږي.

❖ ډاډمنه او نیکمرغه ټولنه هغه ده چې وګړي یې د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ په غوره اخلاقو ستایل شوي وي.

پوښتنې

۱- له (البر) څخه مقصد څه شی دی؟ او دا آیت د قبلې د تحویل له موضوع سره څه اړیکې لري څرګند یې کړئ؟

۲- دې مبارک آیت د ایمان بنسټونه د نیکۍ د اصولو او اساس په توګه ذکر کړل، د ایمان دا بنسټونه بیان کړئ؟

۳- هغه ایمان چې قرآن یې له انسان څخه غوښتنه کوي، څرنګه ایمان دی؟

۴- مستحقینو ته د مال ورکړه د نیکۍ د بنسټونو له جملې څخه ده، کوم کسان ددې مستحق دي چې مال ورته ورکړل شي؟

۵- قرآني آیت ولې خپل او خپلوان د مال د ورکړې لپاره مقدم کړي دي؟

٦- مسکین او ابن السبیل څوک دي؟

۷- د لمانځه له ادا کولو څخه مقصد څه دی؟

۸- دې مبارک آیت د اخلاقو اصول بیان کړي دي چې انسان باید پرې پابندي ولري دا اصول کوم دي؟

۹- دې مبارک آیت هغه کسان چې د نیکۍ په اصولو او بنسټونو پابندي لري څرنګه ستایلي دي؟

۱۰- قرآن کریم صبر او حوصله په دریو حالتونو کې خاص کړې ده، هغه درې حالتونه کوم دي؟

کورنۍ دنده

د دې مبارک آیت په رڼا کې:

الف: هغه نص چې د انسان اړیکې یې د خپل پروردګار سره، د انسان اړیکې یې د خپل نفس سره او د انسان اړیکې یې له نورو سره بیان کړي دي، څرګند کړئ.

ب: د دې لوست د مبارک آیت د مضامینو په هکله یوه پنځلس کرښیزه مقاله ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

پنځلسم لوست

په اسلام کې د سولې ارزښت

﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَ أَخَوَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَسۡخَرۡ قَوۡمٞ مِّن قَوۡمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُواْ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا نِسَآءٞ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيۡرٗا مِّنۡهُنَّۖ وَلَا تَلۡمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلۡأَلۡقَٰبِۖ بِئۡسَ ٱلِٱسۡمُ ٱلۡفُسُوقُ بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن لَّمۡ يَتُبۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾ [الحجرات: ١٠- ١١]

د کلماتو معنا

لَا يَسۡخَرۡ قَوۡمٞ مِّن قَوۡمٍ:	يوه ډله دې پر بلې ډلې ملنډې نه وهي.
وَلَا تَلۡمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ:	يو د بل عيب مه وايئ.
وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلۡأَلۡقَٰبِۖ:	او نارې مه وهئ يو بل ته په بدو نومونو سره
بِئۡسَ ٱلِٱسۡمُ ٱلۡفُسُوقُ بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِۚ:	له ايمان راوړلو وروسته فسق ډېر بدنوم دی.

ژباړه

بېشکه مؤمنان سره وروڼه دي نو د خپلو وروڼو په منځ کې روغه راولئ او له الله ﷻ نه وويريږئ ښايي چې پر تاسې رحم وکړای شي، ای مؤمنانو! نه دې نارینه پر نورو نارینه ؤ ټوکې او ملنډې وهي، کیدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي او نه دې ښځې په نورو ښځو پورې ټوکې او ملنډې وهي، کیدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، په خپلو کې یو د بل عیب مه وایئ، او مه یو بل په بدو نومونو سره یادوئ، له ایمان راوړلو وروسته فسق ډېر بد نوم دی او هغه کسان چې له دغه کار څخه توبه ونه کړي (رجوع ونکړي) نو هغوی ظالمان دي.

ketabton.com - The Digital Library

تفسير

سوله او وروروليي

ددې لوست مبارک آيت يو لوی اصل او قاعده ثابتوي چې د مسلمانانو ترمنځ د اسلامي اخوت او وروروليِ څخه عبارت دی، ځکه ايمان مؤمنان خپل لور ته را ټولوي لکه څرنګه چې اصل او نسب وروڼه راجمع کوي او لکه څرنګه چې وروري د نسب پر اساس د پيوند او اړيکو لامل دی، همدارنګه د دين په اساس هم وروري د پيوند او يوځای والي لامل ګرځي، ديني او ايماني وروړګلوي د مسلمانانو ترمنځ اصلاح ته بلنه ده او د مسلمانانو ترمنځ اصلاح، تقوی او د الله څخه ويرې ته ضرورت لري، ترڅو يې اغيزې او پايلې تل وي او د الله ﷻ د پراخه رحمت مستحق شي.

د اسلامي وروړګلويِ د ټينګار او تاييد په هکله ډير احاديث راغلي دي، پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ» يعنې مسلمان د مسلمان ورور دی نه به په هغه ظلم کوي او نه به يې ظالم او دښمن ته سپاري. همدارنګه په بل صحيح حديث کې راغلي دي «الله ﷻ تر هغه د بنده مرستندوی او ساتونکی دی ترڅو چې بنده د خپل مسلمان ورور په مرسته کې لګياوي».

له سولې او دوستيِ څخه منافي صفتونه

الله پاک په لانديني مبارک آيت کې اسلامي ټولنه له هغو ناوړو صفتونو څخه ژغوري چې سوله او مينه له منځه وړي او د ټولنې د وګړو ترمنځ دښمني او اختلاف پيدا کوي، الله تعالی فرمايي: ژباړه: ای مؤمنانو! نه دې نارينه پر نورو نارينه ؤ ټوکې او ملنډې وهي، کيدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي او نه دې ښځې په نورو ښځو پورې ټوکې او ملنډې وهي، کيدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، په خپلو کې يو د بل عيب مه وايئ، او مه يو بل په بدو نومونو سره يادوئ، له ايمان راوړلو وروسته په فسق کې نوم پيدا کول ډېره بده خبره ده، او هغه کسان چې له دغه کار څخه توبه ونه کړي (را وانه وړي) نو هغوی ظالمان دي.

د پورتنيِ آيت د نازليدلو لامل

مفسرينو د پورتنيِ مبارک آيت څه اسباب او لاملونه ذکر کړي چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي: ابن عباس رضي الله عنه روايت کوي چې صفيه بنت حی بن اخطب (د نبی کريم ﷺ مېرمن) پيغمبر ﷺ ته راغله عرض يې وکړ: ای د الله رسوله! ښځې ماته پيغور راکوي، راته وايي: ای يهودی! ای د يهوديانو بچی! پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: ولې دې دوی ته ونه ويل، چې: پلار مې هارون– کاکا مې موسی او ميړه مې محمد ﷺ دی؟!

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه روايت دی چې دا آيت د پيغمبر ﷺ د هغو بيبيانو په هکله نازل شوی چې ام سلمه رضي الله عنها ته يې د لنډې وڼې (قد) پيغور ورکړی وو.

د ﴿ وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلۡأَلۡقَٰبِۖ ﴾ د نازليدلو د سبب په هکله د سننو څلور واړو کتابونو د ابو جبيره بن الضحاک څخه روايت کړی، چې وايي: (زموږ په منځ کې داسې کسان وو چې دوه يا درې نومونه به يې درلودل او کله به په داسې يوه نامه سره يادېدل چې له هغه څخه به يې بد وړل نو پورتنی آيت نازل شو.

همدارنګه له ابوجبيره څخه روايت شوی، چې: د جاهليت په دوران کې خلک د داسې لقبونو خاوندان وو چې په هغو به ورته غږ کيده، نبی‌کريم ﷺ يوه کس ته د هغه په لقب غږ وکړ، يارانو يې عرض وکړ چې ای د الله ﷻ رسوله! هغه له دې لقب څخه بد وړي نو دا آيت ﴿ وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلۡأَلۡقَٰبِۖ ﴾ نازل شو.

د عيب پلټلو، سپکولو او ملنډې وهلو څخه ځان ژغورل

ياد شوي آيت اخلاقي او ټولنيز موضوعات رانغښتي دي چې د مسلمانانو د ټولنې د خوريدلو، بی اتفاقی او دښمنی مخه نيسي.

دا مبارک آيت مؤمنانو ته په غږ کولو سره پيل شوی ترڅو مؤمنان يو بل تحقير او مسخره نه کړي.

ملنډې يا (تمسخر): ديته وايي چې يو انسان پر بل انسان باندې د خلکو پر وړاندې پر خپلې وينا او کړنې سره داسې ملنډې وهي چې نور خلک وربانديې وخاندي.

لمز: ديته وايي چې يو تن خپل مسلمان ورور په يوه خاصه وينا يا اشاره عيبجن کړي، سمه ده چې خلک خندا ته هڅوي او که نه؟ د هغه په حضور کې وي يا د هغه په غياب کې.

څرنګه يو مؤمن پر بل مؤمن ملنډې وهي! کيدای شي هغه نر يا ښځه چې د مسخرو وړ يې ګرځيدلې ده له مسخره کوونکي نر يا ښځې څخه بهتره او ښه وي. حضرت ابو هريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «رب أشعث أغبر ذي طمرين تنبو عنه أعين الناس، لو أقسم علي الله لأبره»[1]

يعنی: ډېر خواره واره ويښتانو والا، ګرد وهلی د زړې جامې لرونکی چې خلک يې له ليدلو څخه مخ اړوي، که چيرې هغه په الله ﷻ قسم يادکړي نو يقيناً الله پاک يې غوښتنه پوره کوي.

نو امتياز او غوره والی يوازې په اخلاص، رښتينولی، د زړه په صفايی او د الله ﷻ لپاره د عمل په خالصولو لاس ته راځي نه په ظاهري ښکلا، رنګ، څيره، قوم او ژبې سره.

---

[1] المستدرک

ketabton.com - The Digital Library

د ناوړو لقبونو له کارولو څخه مخنیوی

پورتني آیت همدارنګه په ناوړو لقبونو د پیغور ورکولو څخه منع کړیده یعني، تاسې یو او بل په بدو او ناوړو لقبونو مه یادوئ ځکه هغه کسان چې یو او بل په ناوړو لقبونو سره یادوي هغوی د منافقانو له ډلې څخه حسابیږي او فسق په اسلامي معیار کې لویه ګناه ده.

همدارنګه دې مبارک آیت په ناوړو او بدو لقبونو سره د خلکو رابلل حرام ګرځولي دي لکه داسې چې یو مسلمان، خپل مسلمان ورور په فاسق، منافق او داسې نورو الفاظو سره مخاطب کړي یا دا چې یو تن بل مسلمان ته د سپي، خوک او داسې نورو الفاظو خطاب وکړي.

د اسلام علماء ټول هغه لقبونه چې انسان له هغه څخه بد وړي حرام ګرځولي دي، برابره ده چې دا لقبونه په خپله د شخص لپاره استعمالوي یا د هغه د مور او پلار لپاره او یا د هر هغه چا لپاره چې له ده سره اړیکې لري، البته هغه لقبونه چې انسانانو وربانديې شهرت موندلی دی او له هغو څخه کرکه او بد نه وړي هغوی له دې تعبیر څخه مستثنی دي. خو هغه القاب چې ښه او غوره وي د هغو ذکر کول پروا نه لري لکه د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه لقب چې (عتیق) ویل شوی، یا د عمر رضي الله عنه لپاره (فاروق) لقب ورکړ شوی، یا د عثمان رضي الله عنه لپاره (ذی النورین)، یا د علی رضي الله عنه لپاره (ابو تراب)، یا د خالد رضي الله عنه لپاره سیف الله، یا د عمر وبن العاص رضي الله عنه لپاره (داهیة الاسلام) لقب ورکړی شوی دی.

د لوست ګټې او لاربښوونې

له دې لوست څخه لاندې ګټې او لاربښوونې څرګندیږي:

- ❖ مؤمنان یو د بل ورونه دي او ایماني ورورګلوي د نسبي ورورګلوی څخه ډېره غوره او بهتره ده.
- ❖ د مسلمانو ورونو ترمنځ سوله او پخلاینه د الله تعالی امر دی.
- ❖ اسلام د ټولنې په وحدت او یووالي ټینګار کوي، لکه څرنګه چې قرآن کریم د ناوړو اخلاقو څخه چې د ټولنې وحدت او یووالي ته ګواښ دی، منع کړې ده.
- ❖ د مؤمنانو ترمنځ یو پر بل ملنډې وهل او همدارنګه یو او بل په ناوړو لقبونو یادول چې هغه ورځخه کرکه کوي، د قرآن له نظره حرام دي.
- ❖ الله تعالی په ذکر شوي آیت کې دری شیان حرام کړي: سپکول او ملنډې وهل، د عیب څرګندولو په نیت اشاره کول او په ناوړو لقبونو سره پیغور ورکول.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱- مؤمنان په څه شي راټولیدای شي؟

۲- ورورګلوي د قرآن له نظره په څو ډوله ده؟

۳- سوله او پخلاینه د مسلمانانو ترمنځ څه حکم لري؟

۴- هغه درې ناوړه خصلتونه او صفات چې په دې لوست کې یې ممانعت بیان شوی دی څرګند کړئ او نومونه یې واخلئ؟

۵- له نومورو ناوړو او فاسدو اخلاقو څخه د منع حکمت څه دی؟

٦- که څوک خپل ځان له ناوړه اخلاقو څخه ونه ژغوري د هغه په هکله کومه اصطلاح استعمالولی شو؟

کورنۍ دنده

د ټولنیزو اخلاقو په هکله یوه مقاله وليکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

د لقمان حکیم نصیحتونه خپل زوی ته (۱)

﴿وَإِذْ قَالَ لُقْمَٰنُ لِٱبْنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ۞ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَٰلُهُۥ فِي عَامَيْنِ أَنِ ٱشْكُرْ لِي وَلِوَٰلِدَيْكَ إِلَيَّ ٱلْمَصِيرُ ۞ وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۖ وَصَاحِبْهُمَا فِي ٱلدُّنْيَا مَعْرُوفًا ۖ وَٱتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ۚ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۞ يَٰبُنَيَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَوْ فِي ٱلْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا ٱللَّهُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ﴾ [لقمان:۱۳-۱۶]

د کلماتو معنا

يَعِظُهُۥ:	هغه ته يې پند ورکاوه، هغه ته يې نصيحت کاوه.
وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ:	او انسان ته مو دمور او پلار سره په نيکۍ کولو امر کړی دی.
وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ:	د کمزورۍ د پاسه کمزوري.
إِلَيَّ ٱلْمَصِيرُ:	راستنيدل زما په لوري دي.
وَفِصَٰلُهُۥ:	د رضاعت څخه يې جدا کول (د شپږو نه يې ښلول).
سَبِيلَ:	لاره
أَنَابَ إِلَيَّ:	رجوع يې کړې زما په لور.
مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ:	د اوري د دانې په اندازه، د وړې دانې په اندازه.

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه

او یاد کړه هغه وخت چې لقمان خپل زوی ته نصیحت کاوه نو هغه ته یې وویل: زویه! له خدای سره څوک مه شریکوه، بې له شکه چې شرک ډېر لوی ظلم دی.

او مونږ انسان ته د خپل مور او پلار د حق پیژندنې امر کړی دی، د هغه مور د کمزورۍ د پاسه کمزورۍ په حال کې هغه بار کړی، (په خپله ګیډه کې یې وساته) او دوه کلونه یې په تي ورکولو ولګېدل. (له همدې املە مونږ هغه ته نصیحت وکړ) چې زما شکر وکړه او د خپل مور او پلار شکر پرځای کړه. همدا زما لوري ته ستا راګرځیدل دي.

خو که هغوی پر تا فشار راولي چې ته له ما سره داسې څه شریک کړې چې تا ته د هغه معلومات نه وي نو د هغو خبره هیڅکله مه منه، په دنیا کې له هغو سره غوره ملتیا کوه خو پیروي د هغه چا د لارې وکړه چې هغه زما لوري ته رجوع کړې ده، بیا ستاسو ټولو راګرځیدل همدا زما لوري ته دي. په هغه وخت کې به زه تاسې ته دروښیم چې تاسو څه عمل کاوه.

ای زویه! یوشی (نیکي یا بدي) که د اوري د دانې په اندازه هم وي او په کومه لویه تیږه یا په اسمانونو او ځمکه کې پټه شوې وي، الله ﷻ به هغه راوباسي. الله ﷻ ښه لیدونکی (باریک بین) او باخبره دی.

تفسیر

لقمان څوک دی؟

الله تعالی په خپل کتاب کې مونږ ته خبر راکړی چې لقمان (علیه السلام) د الله ﷻ حکیم بنده ؤ چې په وینا او کړووړو کې یې د الله ﷻ له ورکړې حکمت څخه ګټه اخیستله او دا علم او حکمت د لقمان(علیه السلام) د ایمان د ترقۍ او د خپل پروردګار د ذکر او شکر د زیاتیدو لامل ګرځیدلی و. همدارنګه لقمان علیه السلام د دې علم او حکمت نه په استفادې سره نور خلک د الله ﷻ لوري ته رابلل او هغوی ته یې پند او نصیحت کاوه چې تر ټولو د مخه یې خپل پندونه او نصیحتونه خپل زوی ته متوجه کړل، چې د نوم یادونه یې نه ده شوې. همدارنګه قرآن کریم د لقمان علیه السلام د ژوند د څرنګوالي په اړه په تفصیل بیان نه دی کړی او مونږ د ده د ژوند په هکله نه پوهیږو او دا معلومات هم نه لرو چې آیا لقمان علیه السلام د انبیاؤ له جملې څخه دی او که یوازې یو مؤمن حکیم او نصیحت کوونکی و، نو د لقمان علیه السلام په هکله ښه دا ده چې د قرآن په بیان بسنه او اکتفاء وکړو.

شرک تر ټولو ډېر ناوړه ظلم دی

د قرآن کریم دغه مبارک آیت د حکایت په توګه، خپل زوی ته د حضرت لقمان حکیم نصیحت په ډېرو لوړو مفاهیمو او معانیو سره بیان کړی دی. لقمان حکیم خپل زوی ته په توحید او د یو

ketabton.com - The Digital Library

الله په عبادت کولو امر کړی او له شرک او د الله ﷻ له عبادت څخه پرته د نورو له عبادت څخه يې ويرولی دی او استدلال کوي چې شرک لوی ظلم او ستره ګناه ده.

ای بچيه! هيڅکله دالله سره څوک شريک مه نيسه ځکه شرک ډېر لوی ظلم دی. پيغمبر ﷺ هم د لقمان عليه السلام د وينا په استناد شرک ډېر ناوړه ظلم معرفي کړی دی.

د عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت شوی چې فرمايلي يې دي کله چې د الله ﷻ دا وينا نازله شوه ﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ﴾ [الانعام: آية: ٨٢].

يعنې: په حقيقت کې خو امنيت د هماغو کسانو لپاره دی او همغوی پر سمه لاره برابر دي چې ايمان يې راوړی او خپل ايمان يې په ظلم نه دی ملوث کړی.

صحابه کرامو د دې آيت دروندوالی او سختوالی درک کړ او د پيغمبر ﷺ په حضور کې يې داسې عرض وکړ، چې: ای د الله رسوله! چا له موږ څخه پر خپل نفس ظلم نه دی کړی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: موضوع داسې نه ده لکه چې تاسو ګمان کړی دی بلکې دلته له ظلم څخه شرک عبارت دی، آيا د لقمان وينا مو خپل زوی ته نه ده اوريدلې چې هغه ورته داسې نصيحت وکړ: ﴿ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ﴾.

يعنې: له الله سره شريک مه نيسه، بيشکه چې شرک ډير لوی ظلم دی.

له مور او پلار سره نيکي

وروسته له دې چې الله پاک د شرک د تحريم په اړه د لقمان عليه السلام نصيحت خپل زوی ته بيان کړ، انسان ته يې د مور او پلار د حقوقو په هکله پند او نصيحت پيل کړ.

د مور او پلار په هکله انسان ته پند او نصيحت دا دی چې د هغوی سره نيکي وکړي، اطاعت او پيروي يې پر ځان لازم او حقوق يې ادا کړي، په ځانګړې توګه د مور حقوق، چې له زوی سره يې ستونزې ګاللې دي، هو! مور ځکه پر زوی (اولاد) ډير زيات حقوق لري چې دی يې په ډېر تکليف سره په ګيډه ګرځولی او د توان او طاقت نه پورته ډېرې ستونزې يې د حمل، زيږون، شيدې ورکولو او له شيدو بيلولو وروسته نورو مرحلو کې زغملي او ګاللې دي.

الله تعالی مؤمن انسان ته امر کړی چې خپل پروردګار ته د هغو نعمتونو په مقابل کې چې په ده يې پيرزو کړي شکر وباسي او همدارنګه د مور او پلار سره ښيګڼه او د هغوی منه وکړي چې د ده پالنه او روزنه يې کړې ده او مور او پلار له الله ﷻ څخه وروسته ده ته د احسان او مهربانۍ سرچينه ده.

ketabton.com - The Digital Library

د مور او پلار پيروي د الله ﷻ په پيروۍ پورې تړاو لري

ددې لوست مبارک آيت همدارنګه حکم کړی دی چې د مور او پلار اطاعت او پيروي مطلقه نه ده بلکې د الله تعالی له پيروۍ سره تړلې ده. هرکله چې مور او پلار د الله ﷻ په نافرمانۍ امر وکړي نو پيروي يې ساقطيږي، په دې معنا چې کله مور او پلار خپل زوی ته د الله ﷻ په نافرمانۍ او د الله ﷻ سره په شريک نيولو امر وکړي او کوښښ وکړي چې خپل زوی کفر ته وهڅوي نو په دې صورت کې پر زوی لازمه ده چې د هغوی د امر اطاعت ونه کړي، ځکه د مخلوق پيروي او امر منل د الله ﷻ د نافرمانۍ په صورت کې جواز نه لري.

هو! د الله ﷻ د نافرمانۍ په صورت کې د مور او پلار پيروي او امر منل نشته، خو بياهم زوی مکلف دی چې د دنيا په ژوندانه کې له هغو سره نيکه کړنه ولري او له هغو سره نيکي او احسان وکړي. همدارنګه پر اولاد لازمه ده چې د حق لاره غوره کړي او له نيکو او صالحو مومنانو سره يوځای ګام پورته کړي. او پدې وپوهيږي چې د ټولو مخلوقاتو او خلکو ستنيدنه د قيامت په ورځ د الله ﷻ په لوري ده، ترڅو د نيک عمل خاوند ته د نيک عمل په بدل کې نيکه بدله او بد عمله ته د ناوړه عمل په بدل کې سزا ورکړي.

بيا قرآنی آيتونه د حضرت لقمان عليه السلام پند او نصيحت ته ادامه ورکوي چې خپل زوی ته يې د الله ﷻ د کامل علم په هکله خبر ورکړی او ورته وايي، چې الله ﷻ په هر هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي خبر دی، برابره ده که هغه شی وړوکی وي او يا لوی. همدارنګه د حضرت لقمان عليه السلام له ژبې څخه يې خپل زوی ته خبر ورکړی چې نيکي او بدي که هرڅومره وړه هم وي الله ﷻ په هغې خبر او عالم دی، حتی که د اوري د دانې په اندازه وړه او کم وزنه وي، د ځمکې په تل يا د غټې تيږې په منځ کې پټه شوې وي او يا د آسمانونو په لېرو کنارو او څنډو کې ځای په ځای شوې وي، الله تعالی پرې خبر او عالم دی او د قيامت په ورځ يې خاوند د محاسبې لپاره حاضرولی شي.

فعاليت

د اسراء سورت هغه آيت چې په ځمکه باندې په تکبر سره تلل منع کوي په خپلو کتابچو کې وليکئ او بيا دا څرګنده کړئ چې دغه آيت د دې سورت (لقمان) له اتلسم آيت سره څه ورته والی لري.

د لوست ګټې او لاربښوونې

له دې مبارکو آيتونو څخه ځينې ګټې او لاربښوونې ترلاسه کيږي چې په لاندې ډول دي:

- ❖ پلار بايد د خپلو اولادونو په پالنه او روزنه کې له همت څخه کار واخلي او له هغوی څخه خپل پند او نصيحت ونه سپموي او هغوی په سالمه عقيده او غورو اخلاقو وروزي.

ketabton.com - The Digital Library

❖ له الله ﷻ سره شریک نیول ډېر لوی ظلم دی.

❖ د مور او پلار سره نیکي او احسان د اسلام له بنسټونو او اساساتو څخه دی چې پر الله تعالی له ایمان راوړلو او د هغه له عبادت کولو څخه وروسته ذکر شوی دی.

❖ پر انسان لازم دي چې له هغه چا سره نیکي وکړي چې له ده سره یې نیکي کړې وي، البته مور او پلار تر ټولو کسانو لومړی مرتبه لري.

❖ د مور او پلار پیروي او امر منل د الله ﷻ په اطاعت پورې مقیده ده، ځکه د مخلوق پیروي او امر منل د خالق په نافرمانۍ کې ناروا ده.

❖ د مور او پلار سره ښه تعامل او ناسته ولاړه واجب ده، ان تر دې که چیرې هغوی کافر هم وي.

❖ الله ﷻ ډېر عالم ذات دی، علم یې هرڅه ته شامل دی او هیڅ شی د الله ﷻ له علم څخه پټ نه پاتې کېږي.

پوښتنې

۱- د قرآنی آیتونو په رڼا کې د لقمان حکیم په هکله خپل معلومات څرګند کړئ.

۲- ولې الله تعالی د مور او پلار سره نیکي په خپل عبادت پسې ترلې ذکر کړې ده؟

۳- د دې الهي وینا: ﴿حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَٰلُهُۥ فِي عَامَيْنِ﴾ معنا څه ده؟

۴- د مور او پلار پیروي او امر منل څه وخت واجب او په کوم حالت کې حرام دي؟ او کله چې د مور او پلار پیروي کول حرام شي نو اولاد به له هغوی سره څرنګه تعامل کوي؟

ketabton.com - The Digital Library

د لقمان حکیم نصیحتونه خپل زوی ته (۲)

﴿يَٰبُنَيَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱنۡهَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ۞ وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٖ ۞ وَٱقۡصِدۡ فِي مَشۡيِكَ وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَۚ إِنَّ أَنكَرَ ٱلۡأَصۡوَٰتِ لَصَوۡتُ ٱلۡحَمِيرِ ۞ أَلَمۡ تَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ﴾ [لقمان:۱۷-۲۰]

د کلماتو معناوې

عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ:	لوی او مهم کارونه.
وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ:	د تکبر او تحقیر په نیت خپل مخ له خلکو مه ګرځوه.
مَرَحًا:	په نخرو او غرور.
مُخۡتَالٖ فَخُورٖ:	تکبر کوونکی، پر ځان مین او ویاړ کوونکی.
وَٱقۡصِدۡ فِي مَشۡيِكَ:	په خپل تګ کې منځنی حال غوره کړه.
وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَ:	خپل غږ ټیټ کړه.
وَأَسۡبَغَ:	بشپړ او کامل یې کړل.
ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗ:	ښکاره او پټ.

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه

ای زما زویه! لمونځ قایم کړه، په نیکۍ امر وکړه، له بدۍ نه منع وکړه او (په دې لار کې که) هر مصیبت درباندې راشي پر هغه صبر وکړه، بیشکه دا له مهمو کارونو څخه دی، (چې پر هغو ډېر تاکید شوی دی). او له خلکو سره په مخ اړولو خبرې مه کوه، پر ځمکه په ډېر خیال او کبر مه ځه! الله ﷻ هیڅ یو متکبر، په ځان مین او ویاړ ښکاره کوونکی انسان نه خوښوي. په خپل تګ کې منځنی حال (میانه روي) غوره کړه او خپل غږ ټیټ کړه، بیشکه چې له ټولو آوازونو څخه ډېر بد آواز د خرو دی. آیا تاسې نه وینئ چې الله ﷻ د آسمانونو او ځمکې ټول شیان ستاسې لپاره مسخر (تابع) کړي دي او خپل ښکاره او پټ نعمتونه یې پر تاسې تمام کړي دي؟ (خو حال دا دی چې) له انسانانو څخه ځینې خلک شته دي چې پرته له کومې پوهې، هدایت او روښنایي ښودونکي کتاب څخه د الله په هکله شخړې کوي.

تفسیر

د خیر په لار کې صبر او استقامت

په مخکینیو آیتونو کې په الله ﷻ باندې د ایمان راوړلو، له هغه سره د شریک نه نیولو، له مور او پلار سره د نیکي کولو او د الله ﷻ پر معصیت له امر کولو پرته د هغوی د اوامرو منل، د لقمان علیه السلام د نصیحتونو په ترڅ کې چې خپل زوی ته یې کړي دي بیان شول او ددې لوست په آیتونو کې هغه خپل زوی ته د الله ﷻ په عبادت، په نیکو اعمالو او په دنیوي ژوند کې د صبر او استقامت په غوره کولو نصیحت کوي او داسې فرمایي: ای بچیه لمونځ قایموه په نیکیو امر او له بدیو منع کوه او په هغه څه چې په دې کار کې درته رسیږي پر هغه صبر کوه چې دا په دنیوي چارو کې د عزت او ثبات له ښیو څخه دي.

د لمانځه قایمول په دې معنا دي چې لمونځ په خالص نیت د فرایضو، واجباتو، سنتو، اذابو او وختونو په مراعاتولو سره ادا شي، بیا لقمان حکیم له خپل زوی څخه غواړي چې خلکو ته په نیکیو امر وکړي او له بدیو څخه یې منع کړي. څرنګه چې داعي د دعوت په لار کې له ستونزو او ربړونو سره مخ کیږي نو ځکه لقمان علیه السلام خپل زوی ته نصیحت کوي چې د دې مسؤولیت د ادا کولو لپاره چمتو شي، په دې هکله له سستۍ او ناراستۍ څخه کار وانخلي ځکه د لمانځه ادا کول، په نیکیو امر او له بدیو څخه ژغورنه او په دې لار کې صبر او حوصله له خورا مهمو کارونو څخه دي چې الله تعالی پر هغو امر کړی دی.

بیا لقمان حکیم خپل زوی د غرور او کبر څخه منع کوي او داسې ورته وایي: ای بچیه! کله چې څوک خبرې درسره کوي یا ته ورسره خبرې کوې د هغوی څخه خپل مخ مه اړوه، بلکې عاجزي، تواضع او موسکا غوره کړه.

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه په لاره تللو کې د تکبر او ویاړ څخه ځان ساته ځکه الله ﷻ متکبر انسان نه خوښوي بلکې په لاره تللو کې د اعتدال ارخ غوره کوه. الله ﷻ هغه لاره تګ خوښوي چې په ساده ګي، عاجزۍ او میانه روۍ سره وي، لکه څنګه چې الله تعالی د فرقان سورت په ٦٣ آیت کې فرمایي: ﴿ وَعِبَادُ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمۡشُونَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ هَوۡنٗا... ﴾

او د الله خاص بندګان هغه دي چې په ځمکه کې په سادګۍ او عاجزۍ روان وي. مطلب دا دی چې په لاره تللو کې تقوی او خاکساري څرګنده کړي نه ډېر سست روان وي او نه په ټوپونو، چې انسان پرې بې وقاره معلومیږي.

د خبرو کولو آداب

لقمان حکیم خپل زوی ته د نصیحتونو په ترڅ کې د خبرو کولو آداب هم ښیي او ورته وایي چې د خبرو کولو په وخت کې مه خپل آواز دومره ټیټوه چې وانه وریدل شي او مه په ډېر لوړ آواز خبرې کوه ځکه د حد او اندازې څخه آواز جګول اوریدونکي ته آزار ورکوي او په غرور او بې عقلۍ دلالت کوي. نو له دې کبله یې د ضرورت نه پرته د غږ جګیدل بد معرفی کړی او د خره له آواز سره یې تشبیه کړی دی چې د خره غږ په ټولو غږونو کې ډېر بد دی.

ابو هریره ﷺ روایت کړی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:«إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَسَلُوا اللَّهَ تَعَالَى مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهَا رَأَتْ شَيْطَانًا».

یعنی کله مو چې د چرګ غږ واورید نو د الله ﷻ فضل او احسان وغواړئ ځکه چرګ پرښته لیدلې ده، او که مو د خره غږ واورید نو د شیطان څخه پناه وغواړئ ځکه ده شیطان لیدلی دی.

بیا الله تعالی انسانانو ته د هغو نعمتونو چې پر دوی یې پیرزو کړیدي یادونه کوي او دوی ته دا وریادوي چې الله تعالی ټول هغه څه چې په آسمانونو کې دي لکه: لمر، سپوږمۍ، ستوري او څه چې په ځمکه کې دي لکه اوبه، بحرونه، سیندونه، میوې، زراعتي پیداوار او داسې نور انسانانو ته مسخر کړي او نور محسوس او ظاهري نعمتونه چې په خپلو جسمونو او مالونو کې یې ګورئ پیرزو کړي دي، همدارنګه معنوي نعمتونه لکه اسلام، علم، یقین، رضایت، نیکمرغي او نور بې شمېره نعمتونه یې دوی ته وربښلي دي، نو دا ټول نعمتونه چې انسانان یې په خپلو نفسونو، ځمکه او خپل چاپیریال او آسمانونو کې ګوري د دې غوښتونکي دي چې باید په مقابل کې یې د الله ﷻ شکر ادا کړي او ناشکري ونه کړي. په انسان لازمه ده چې د الله ﷻ عبادت وکړي او نافرماني یې ونه کړي.

هو! ډېر انسانان شته چې د دې نعمتونو ناشکري کوي، د مؤمنانو سره په ناحقه جګړې کوي او د الله تعالی سره شریک نیسي، په داسې حال کې چې نه دلیل او برهان لري او نه کتاب او لارښود.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

خپل زوی ته، د لقمان حکیم هغه نصیحتونه چې په دې لوست کې مو ولوستل په لنډه توګه بیان کړئ.

د لوست ګټې او لارښوونې

د دې آیتونو څخه ځینې ګټې او لارښوونې ترلاسه کیږي چې په لاندې ډول دي:

۱- مسلمان مسؤولیت لري چې د خپلو مسلمانو وروڼو په مقابل کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر دیني وجیبه په سمه توګه ترسره کړي.

۲- مسلمانان چې د ستونزو او ناخوالو پر وړاندې له صبر او زغم څخه کار اخلي دا د هغوی له ډېرو سترو صفاتو څخه ګڼل کیږي، او دا صفت د مؤمن داسې زیرمه ده چې د دعوت او اصلاح د مسؤولیت په ترسره کولو کې ورسره مرسته کوي.

۳- متکبر او ځان ستر ګڼونکی انسان هم د الله ﷻ په وړاندې د قهر او غوسې وړ دی اوهم د خلکو په منځ کې منفور او سپک دی.

۴- مسلمان باید د مسلمان وروړ سره په ښو اخلاقو، خوشحالۍ او پراخ تندې مخامخ شي.

۵- د الله ﷻ په نزد ښه او مناسب تګ متوازن او درمیانه تګ دی ځکه سستي او تېزتګ دواړه د وقار او عزت منافي دي.

٦- مسلمان باید له اندازې څخه زیات خپل غږ لوړ نه کړي ځکه ښه آواز هغه دی چې د ورو او جهر په منځ کې وي.

۷- الله تعالی د آدم علیه السلام اولادې لپاره اسمانونه او ځمکه مسخر ګرځولي دي او د آدم علیه السلام اولاده یې د خپل عبادت لپاره پیدا کړې ده. الهي نعمتونه د انسانانو لپاره ډیر او بې شماره دي نو په انسانانو لازمه ده چې د الله ﷻ د ظاهري او معنوي نعمتونو شکر ادا کړي.

پوښتنې

۱- د عزم الامور معنا څه ده؟ او کوم شیان چې مبارک آیت په عزم الامور یاد کړي دي هغه کوم دي؟

۲- له درمیانه او معتدل تګ څخه مطلب څه شي دی په دې هکله په یوه بل قرآني آیت استدلال وکړئ؟

۳- دا الهي وینا ﴿ وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَۚ ﴾ معنا کړئ، د الله ﷻ په نزد د غږ او آواز ښه صفتونه کوم دي؟

۴- د خره آواز ولې د الله ﷻ په نزد بد او مکروه دی؟

۵- د الله ﷻ څلور ظاهري او څلور باطني نعمتونه د بنده ګانو لپاره بیان کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

اتلسم لوست

له بدګمانۍ ، غيبت او عيب پلټلو څخه ځان ژغورنه

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱجۡتَنِبُواْ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعۡضَ ٱلظَّنِّ إِثۡمٞۖ وَلَا تَجَسَّسُواْ وَلَا يَغۡتَب بَّعۡضُكُم بَعۡضًاۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمۡ أَن يَأۡكُلَ لَحۡمَ أَخِيهِ مَيۡتٗا فَكَرِهۡتُمُوهُۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٞ رَّحِيمٞ ۝ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ﴾ [الحجرات: ١٢- ١٣]

د کلماتو معناوې

إِنَّ بَعۡضَ ٱلظَّنِّ إِثۡمٞ: بيشکه ځينې ګمانونه ګناه ده.

وَلَا تَجَسَّسُواْ: او د نورو عيبونه مه پلټئ.

وَلَا يَغۡتَب بَّعۡضُكُم بَعۡضًاۚ: او غيبت دې نه کوي ځينې ستاسې د ځينو نورو.

خَبِير: په هر څه خبر دی.

شُعُوبًا: (جمع د شعب، خيلونه او قومونه، د خلکو لويه ډله چې واحد اصل ته منسوبه وي).

لِتَعَارَفُوٓاْ: ترڅو يو او بل وپيژنئ او خپل پيوند وساتئ.

ژباړه

ای مؤمنانو! له ډيرو ګمانونو کولو نه ډډه وکړئ بيشکه ځينې ګمانونه ګناه وي، د چا پټ عيبونه مه لټوئ او له تاسې نه دې څوک د چا غيبت نه کوي، آيا په تاسې کې داسې څوک شته چې د خپل مړ ورور غوښې خوړل خوښ کړي، نو تاسو په خپله د دې نه کرکه کوئ، له ا لله ﷻ نه وويريږئ، الله ﷻ ډير بښه توبه قبلوونکی او خورا مهربان دی. ای خلکو! مونږ تاسې له يوه نارينه او ښځې څخه پيداکړئ او بيا مو تاسې قومونه او قبيلې وګرځولئ ترڅو تاسې يو تر بله سره وپيژنئ، په حقيقت کې د الله ﷻ په نزد له تاسې نه تر ټولو زيات عزتمن هغه څوک

ketabton.com - The Digital Library

دی چې په تاسې کې تر ټولو زیات پرهیزګاروي بیشکه الله ﷻ پر هرڅه پوهېدونکی او باخبره دی.

تفسیر

د بشر ترمنځ مساوات او برابري

د دې لوست په مبارکو آیتونو کې اخلاقي او ټولنیز موضوعات بیانېږي چې ټولنه له کرکې، کمزورۍ او دښمنۍ څخه ژغوري. په دې آیتونو کې الله تعالی د بشریت په اصل ماده کې مساوات او برابري تثبیتوي او ټینګار پرې کوي او د بهترۍ او غوره والي معیار یوازې تقوی او نیک عمل معرفي کوي.

الله تعالی مؤمنانو ته خطاب کوي او هغوی له ډیرو ګمانونو څخه چې د هغوی په زړونو کې د وسوسې لامل ګرځي منع کوي. دغه مبارک آیتونه بیانوي چې ډیر داسې ګمانونه د هغه چا په هکله چې ظاهر یې په خیر، نیکۍ او امانت دلالت کوي، باطل او ناروا دي او د شیطان له وسوسو څخه دي چې انسان د ګناه او نافرمانۍ لور ته بیایي.

خو هغه بدکاران او فاسقان چې په څرګنده توګه فسق، فجور او ناوړه کړنې ترسره کوي، د هغوی په هکله بدګماني روا ده ترڅو خلک له هغه څخه لرې واوسي او د کړو وړو پیروي یې ونه کړي لکه هغه کسان چې په عام محضر کې د بدکاره ښځو سره مجلسونه او ملتیا لري او یا په ښکاره او څرګنده توګه شراب او نور مخدر مواد استعمالوي او ګناهونه کوي.

له بدګمانۍ څخه ځان ساتل

عبدالله ابن عباس ﷺ د پورتني آیت په تفسیر کې فرمایي: «نهى الله المؤمن ان يظن بالمؤمن إلا خيرا» یعني الله ﷻ مؤمن له دې څخه منع کوي چې پر بل مؤمن له نیک ګمان څخه پرته بل ګمان وکړي.

ابو هریره ﷺ روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «إياكم و الظن، فإن الظن أكذب الحديث، و لا تجسسوا و لا تحسسوا، و لا تنافسوا، و لا تحاسدوا، و لاتباغضوا، ولا تدابروا، وكونوا عباد الله إخواناً» یعني: له (بد) ګمان څخه ځانونه وژغورئ ځکه (بد)ګمان ډېره دروغجنه خبره ده، جاسوسي مه کوئ، د نورو عیبونه مه څېړئ، په بدۍ کې له یو بل سره رقابت مه کوئ، له حسد څخه کار مه اخلئ، یو بل ته کینه مه ساتئ، له یو او بل څخه نفرت او لرېوالی مه غوره کوئ، او د وروڼو په شان ټول د الله ﷻ بنده ګان شئ.

د غیبت او عیب پلټلو بدي او ناوړتوب

دغو مبارکو قرآني آیتونو مور له عیب پلټلو چې د نورو د رازونو ښکاره کول او د پردو برسیره کول دي، منع کړي یو، همدارنګه له غیبت څخه یې هم منع کړي یو.

غیبت: د یوه مسلمان ورور په هکله د هغه په غیاب کې د داسې شي بیانول او یادول دي چې هغه ورځنې بد وړي. دغه مبارک آیت د غیبت ناوړتیا داسې تعبیر او تصویر کړې ده چې ګواکې غیبت کوونکی د خپل مړه ورور غوښې خوري او دا داسې شی دی چې انسانی نفس ورڅخه کرکه او نفرت لري او ځان ورڅخه ژغوري.

ketabton.com - The Digital Library

له ابو برزه اسلمي څخه روايت دی چې وايي: نبي کريم ﷺ يوه خطبه وړاندې کړه او ويې ويل: ای هغه ډلې چې په ژبه مو ايمان راوړی! خو ستاسو زړونو ته ايمان نه دی ننوتلی، د مسلمانانو پردې مه لوڅوئ، يقيناً څوک چې د مسلمانانو پردې برسيره کوي، الله پاک به هغه د خپل کور په دننه کې رسوا کړي.

د تقوی پر بنسټ غوره والی

دويم آيت انسانانو ته خطاب کوي او دا حقيقت ثابتوي چې الله تعالی انسانان له يوه سړي او يوې ښځې څخه پيدا کړي دي او د ټولو انسانانو اصل يو دی، نو ټول انسانان برابر دي. الله ﷻ له يوه سړي او ښځې څخه ملتونه او قبيلې پيداکړي دي ترڅو په خپلو منځو کې پيژندګلوي او معرفت پيدا کړي، نه داچې ځينې په ځينو نورو ځان لوړ وګڼي او يا په خپلو کې جنګ او جګړې وکړي. بيا الله پاک د عزت معيار داسې ټاکي چې د خدای ﷻ په وړاندې تر ټولو زيات عزتمند هغه څوک دی چې تر ټولو زيات له خدايه وېرېدونکی وي.

دا مبارک آيت په دې الهي وينا ختم شوی چې فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴾ يعني الله د خپلو بندګانو او مخلوقاتو په هکله ښه عالم او د دوی په احوالو ښه خبر دی.

په دې هکله ډېر صحيحه احاديث روايت شوي دي، چې يو له هغو څخه د حضرت حذيفه رضي الله عنه حديث دی چې له رسول الله ﷺ څخه يې روايت کړی دی چې هغه فرمايي: تاسو ټول د آدم اولاده ياست او آدم له خاورې څخه پيدا شوی دی، بايد هيڅ قوم او ډله په خپل اصل او نسب فخر او ويار ونه کړي او که نه خو د الله ﷻ په وړاندې به د جعلان[1] څخه هم سپک او حقير وي.

همدارنګه طبراني روايت کوي چې پيغمبر ﷺ د حج په موسم په منی کې د تشريق په ورځو کې په داسې حال کې چې په اوښ سپور و خطابه وړاندې کړه او ويې ويل: ای خلکو! خبر اوسئ چې ستاسو پروردګار يو دی، پلار مو يو دی. خبر اوسئ چې عربي ته پر عجمي او عجمي ته پر عربي، تور ته پر سره او سره ته پر تور هيڅ ډول لوړتيا او فضيلت نشته مګر په تقوی سره. آيا تاسو ته مې دين ورساوه؟ ټولو وويل هو، نو بيايې وفرمايل: حاضران دې غايبينو ته ورسوي.

د دې آيت، او نورو مبارکو آيتونو او نبوي احاديثو پر بنسټ هر ډول قومي، توکمي، سمتي او ژبنی تعصب حرام دی، مسلمانان مکلف دي چې د شرعي وجيبې په توګه د جاهلي تعصباتو له ټولو ډولونو سره مبارزه وکړي او دا ويجاړوونکې ټولنيزه ناروغي له ټولنې څخه ورکه کړي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مبارک حديث پر بنسټ انسانان (د رڼمنځې د غاښونو په څېر) سره برابر دي، هر څوک چې قومي، ژبني، نژادي او سمتي تعصبونو ته خلک رابلي په حقيقت کې د ناروا جاهلي عمل مرتکب شوی دی، دا ځکه چې د خورې پيغمبر ﷺ له وينا سره سم تعصب د جاهليت د زمانې له ناوړو خويونو څخه دی او په مبارک حديث کې د (ناولي او بد بويه) شي په نامه

۱- جعلان د جيم په کسره يوه وړه حشره ده چې د حيواناتو په خوشايو کې ژوند کوي او خوراک يې د حيواناتو نجاست دی او کله چې خوشبويي ورته ورسېږي نو مري.

ketabton.com - The Digital Library

یاد شوی. پر دې اساس مسلمانان باید دې خبرې ته متوجه وي چې تعصب د ایمان او اسلامي شریعت سره په ټکر کې دی او حقیقي مومن هغه دی چې تل د هغو ناولو او بدبویه شیانو څخه چې د مسلمانانو تر منځ تفرقه رامنځته کوي او د مسلمانانو یووالي ته زیان رسوي، په کلکه ځان وساتي.

د لوست ګټې او لارښوونې

د دې لوست ګټې او لارښوونې په لنډه توګه بیانیږي:

- ❖ الله ﷻ غیبت حرام کړی او غیبت کوونکی او غیبت شوی یې داسې تمثیل کړی چې ګواکې غیبت کوونکی د غیبت شوي غوښه په داسې حال کې خوري چې هغه مړ وي.
- ❖ له بدګمانۍ څخه د ځان ژغورنې ضرورت ځکه دی چې بدګماني یو ناروا کار دی.
- ❖ خلک ټول برابر دي او ټول له یوه اصل څخه پیدا شوي او په دوې کې د الله ﷻ په نزد ډېر غوره هغه دی چې ډېر پرهېزګار وي.
- ❖ د مبارک آیت پر بنسټ په قومونو او ژبو کې د تنوع موخه د انسانانو تر منځ پېژندګلوی ده نه یو پر بل لویي او ویاړ کول، په حقیقت کې پېژندګلوي د تفاهم او مرستې لامل ګرځي. که مبارک آیت ته ښه ځیر شو نو وینو چې همدا پېژندګلوي، تفاهم او مرسته د کورنیو، موسسو، ټولنیزو بنسټونو او بالآخره د تمدنونو اساس جوړوي.
- ❖ جاهلي تعصبونه په هره بڼه چې وي د اسلام له نظره حرام او مردود دي.
- ❖ د مسلمانانو تر منځ یووالی ساتل او د تفرقې او اختلاف له عواملو سره مبارزه کول د هر مسلمان شرعي او ایماني دنده ده.
- ❖ د خلکو پټو خبرو ته غوږ نیول، د شخصي لیکونو لوستل، تلیفوني اړیکو ته په غلا غوږ نیول، د کورنیو او افرادو د پټو رازونو پلټنه او داسې نور تجسس بلل کیږي او شرعاً حرام دي.

پوښتنې

- د مسلمان غیبت له څه شي سره تشبیه شوی دی؟
- د انسانانو ترمنځ د لوړتیا معیار او بنسټ څه دی؟
- د ګمان کولو څخه ولې منع شوې ده؟
- په مختلفو قبیلو او ډلو باندې د انسانانو د ویشل کیدو لامل څه دی؟
- آیا رنګ، توکم یا ژبه دانسانانو ترمنځ د لوړتیا معیار کیدای شي او که څوک یې معیار وګڼي د هغه په هکله څه حکم کولی شو؟
- د اسلام پیغمبر ﷺ د حج په موسم کې د انسانانو د مساوات او برابرۍ اصل څه معرفي کړی دی؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د قرآن او حدیثو په رڼا کې د (اسلام او جاهلي تعصب) تر سرلیک لاندې شل کرښې مقاله ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

کورونو ته د ننوتلو آداب

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ۝ فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فِيهَآ أَحَدٗا فَلَا تَدۡخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤۡذَنَ لَكُمۡۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ٱرۡجِعُواْ فَٱرۡجِعُواْۖ هُوَ أَزۡكَىٰ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ۝ لَّيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ مَسۡكُونَةٖ فِيهَا مَتَٰعٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ ﴾

[النور:۲۷-۲۹]

د کلماتو معناوي

تَسۡتَأۡنِسُواْ: اجازه وغواړئ.

أَزۡكَىٰ: ډېر پاک او سوتره

جُنَاحٌ: ګناه.

مَتَٰعٞ لَّكُمۡ: ستاسو د کار او ګټې سامان وي.

ژباړه

ای مؤمنانو! له خپلو کورونو څخه پرته نورو کورونو ته تر هغه پورې مه ننوځئ ترڅو چې اجازه تر لاسه نه کړئ او پر کورنۍ (اوسیدونکو) باندې یې سلام وانه چوئ، دا کړنلاره ستاسې لپاره ډېره ښه ده، ښایي چې تاسې پند واخلئ.

نو که هلته مو څوک ونه موندل، نو مه ننوځئ ترهغه چې تاسې ته اجازه ونه شي او که تاسې ته وویل شي چې بیرته وګرځئ نو بیرته ولاړ شئ، دا ستاسې لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده او الله ﷻ ستاسو په کړنو ډېر ښه پوهیږي.

ketabton.com - The Digital Library

پر تاسی کوم باک (ګناه) نشته چې هغو کورونو ته بې له اجازې ولاړ شئ (ننوځئ) چې هلته څوک نه اوسي او هلته ستاسې څه ګټې او اړتیاوې پرتې وي او الله ښه پوهیږي پر هغه څه چې تاسې یې ښکاره کوئ او پر هغه څه چې تاسي یې پټوئ.

تفسیر

د استوګنځي یا کور محرمیت

په دې آیتونو کې کورونو ته د اجازې اخستلو او داخلیدلو ادبونه بیان شوي ترڅو د مسلمانانو د کورونو د پردو او رازونو ساتنه وشي، مبارک آیت لومړی مؤمنان د ایمان په صفت چې د اسلامي لارښوونو څخه د التزام، پیروی او اطاعت بیانوونکی دی مخاطب کړي دي او فرمایي، چې: پرته له خپلو کورونو څخه د نورو خلکو کورونو ته چې په هغو کې دوی اوسیږي مه داخلیږئ، ترهغه چې د کور خاوند اجازه نه وي درکړې او ستاسو په ننوتلو راضي شوی نه وي، نو تاسو د هغه کور په اوسیدونکو سلام واچوئ ځکه ستاسې په اجازه غوښتلو او پر اوسېدونکو یې د سلام په اچولو کې ډېر خیر او ښېګڼې نغښتې دي او دا تاسو ته امرونه او لارښوونې دي چې د هغو په غوښتنو عمل وکړئ او همیشه ورته توجه ولرئ.

که کله په کورونو کې څوک ونه مومئ چې تاسو ته د داخلیدو اجازه درکړي نو بیاهم پرته له اجازې مه داخلیږئ ځکه د اوسیدنې کورونه د حرمت او عزت لرونکي او د آرام او مطمئن ژوند کولو لپاره دي چې باید حرمت او عزت یې وساتل شي. کله چې کور والا ستاسو څخه د ببرته ګرځیدو غوښتنه وکړي باید پرته له ځنډه راوګرځئ او په داخلیدو ټینګار ونه کړئ ځکه دا بیرته ستنیدل ستاسو لپاره ډېر پاک او غوره کار دی.

پوه شئ چې الله تعالی (چې په ټولو پټو شیانو خبر دی نو) ستاسو په عملونو (هم) پوهیږي. نو د الله ﷻ په امرونو او حکمونو عمل وکړئ ترڅو بری او د الله ﷻ رضا ترلاسه کړئ.

له استوګنې څخه خالي کورونو ته د ننوتلو ادب

بیا قرآن کریم هغو کورونو او ځایونو ته د داخلیدلو احکام او آداب بیانوي چې په هغو کې کورنی ژوند نه لري، بلکې د اړو خلکو د استفادې لپاره تیار شوي وي لکه مدرسې، ښوونځي، هوټلونه، تجارتي خونې او داسې نور عمومي ځایونه چې د داخلیدلو آداب او شرطونه یې آسان او د اوسیدنې د کورونو په پرتله په دویمه درجه کې دي.

الله تعالی فرمایي: چې داسې کورونو او ځایونو ته (د روا استفادې لپاره) چې هلته یې د کار او ګټې وړ سامانونه ایښي وي، پرته له اجازې داخلیدل روا دي، ځکه په عمومي توګه دارنګه کورونه او ځایونه د ټولو خلکو پر مخ پرانستي وي، خو بیا هم د آیت په پای کې مورِ ته لارښوونه کوي چې

ketabton.com - The Digital Library

داسې ځايونو ته داخليدل او له هغو څخه ګټه اخېستل بايد د ضرورت، ګټې او روا مصلحتونو مطابق ترسره شي. او الله تعالى ستاسو په ښکاره او پټو نيتونو او مقصدونو ښه خبر دى چې آيا تاسو د مشروع او روا منفعت او مصلحت لپاره دې کورونو ته ننوځئ، او که د خبرو ټولولو او د اسرارو او رازونو د پلټلو يا نورو ناوړه مقصدونو لپاره ؟!﴿ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴾. يعنې: الله پاک په هغه څه چې تاسو يې ښکاره کوئ او په هغه څه چې تاسو يې پټوئ پوهېږي.

کورونو ته د داخلېدلو ځينې آداب

- درې ځله د اجازې غوښتنه، په داسې ترتيب چې د هر ځل اجازې په غوښتلو کې مناسبه زمانې فاصله په نظر کې ونيول شي ترڅو په کور کې اوسېدونکي د خپل مشغوليت او حاجت له حالت څخه فارغ شي.
- د دروازې ټکول يا د دروازې زنګ ته فشار ورکول او داسې نور د اجازې غوښتلو حيثيت لري چې نه ښايي له دريو ځلو زيات تکرار شي او نه ښايي د اجازې غوښتل يا پرله پسې زنګ وهل يا د دروازې ټکول د کور د اوسيدونکو د خپګان او نارامۍ لامل شي.
- هرکله چې له داخليدونکي څخه د هغه د نوم پوښتنه وشي، د (زه يم) په کلمه بايد بسنه ونشي بلکې خپل بشپړ نوم دې ورته ووايي ترڅو د کور اوسېدونکی يې وپېژني.
- داخليدونکی سړی بايد دروازې ته مخامخ ونه درېږي چې د دروازې د پرانستلو په وخت کې يې نظر په هغه شيانو ونه لګي چې د کور خلک يې نورو ته ښودل نه خوښوي، ځکه د اجازې غوښتلو له اساسي حکمتونو څخه يو حکمت دا دى چې د سترګو له نظر څخه مخنيوى وشي. په يوه حديث کې رسول الله ﷺ فرمايلي دي «إِنَّمَا جُعِلَ الاسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ»[1] يعنې: د اجازې غوښتل د سترګو د نظر او ليدنې څخه د ژغورل کېدو له امله ټاکل شوى دى.
- خپل کور ته د ننوتلو لپاره هم د اجازې غوښتنه ضروري ده، ځکه امکان لري په کور کې ښځينه ميلمانه يا نور کسان وي او يا د کور خلک په داسې حالت کې وي چې نه خوښوي په هغه حالت کې يې څوک وويني.
- عمومي ځايونو، هوټلونو او يا داسې نورو ځايونو ته داخليدونکی، بايد د هغو ځايونو پر اوسيدونکو او موجودو خلکو سلام واچوي، ځکه په داسې ځايونو کې د اجازې غوښتنه نشته، خو سلام اچول نه ساقطيږي بلکې واجب دي.
- د (السلام عليكم ورحمة الله وبركاته) د الفاظو مراعاتول، ځکه چې سلام ورکول د اسلام شعار او نښه ده او په ټولو وختونو کې مناسب او ضروري ده او په محبت، سلامتيا او دوستۍ دلالت کوي.

١- السنن الصغرى

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې د اجازې غوښتلو او یا کور ته د داخلیدلو په هکله د ځینو ناوړو عاداتو او کړنو په اړه له یو بل سره بحث وکړي او د علاج لارې دې ورته ولټوي.

د لوست ګټې او لارښوونې

د دې لوست له مبارکو آیتونو څخه لاندې ګټې او لارښوونې ترلاسه کیږي:

۱- هر څوک چې له خپل کور نه پرته د پردیو د استوګنې کورونو ته داخلیږي پر هغه واجب ده چې اجازه وغواړي.

۲- د اجازې غوښتنې پر آدابو پابندي لازم ده، ځکه د داسې آدابو مراعاتول پر عالي اخلاقو او غوره آدابو دلالت کوي.

۳- که کله د کور اوسېدونکي، خپل کور ته، ستاسو له راتګ څخه معذرت وغواړي، باید خواشیني نشئ ځکه انسانان ځانګړي حالتونه او ضرورتونه لري او کورونه د خاصو رازونو او حرمتونو لرونکي دي چې باید مراعات شي.

۴- عمومي ځایونو او محلونو، لکه تجارتخانو، هوټلونو، رستورانونو او داسې نورو ته د داخلیدو لپاره اجازه غوښتنه ضروري نه ده.

پوښتنې

۱- د لوست لومړي آیت له هغه چا څخه چې د استوګنې پردیو کورونو ته ننوځي دوه خبرې یا دوه کارونه غوښتي دي، دا دوه خبرې څرګندې کړئ؟

۲- کله چې ننوتونکی د کور د خاوند له لوري ونه منل شي او یا د هغه له ننوتلو څخه معذرت وغواړي، دغه مهال ننوتونکي ته څه پکار دي، په دلیل سره یې څرګند کړئ.

۳- کورته د ننوتلو اجازه څه وخت ساقطیږي، له دلیل سره یې بیان کړئ؟

۴- عمومي آبادیو ته ننوتل اجازې غوښتلو ته اړتیا نه لري، خو یو بل شی نه ساقطیږي، هغه څه دی؟

۵- د اجازې غوښتلو له آدابو څخه درې شیان ذکر کړئ؟

٦- هغه کلمه چې د سلام اچولو په وخت باید مراعات شي څه ده او ولې هغه کلمه د نورو کلمو په پرتله غوره ده؟

کورنۍ دنده

د خپلوانو، دوستانو، عمومي آبادیو او خپل کور ته د داخلیدو د آدابو په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له شلو کرښو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

شلم لوست

د شرابو او قمار وهلو حراموالی

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَـٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَـٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۞ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيۡطَـٰنُ أَن يُوقِعَ بَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ فِي ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ وَيَصُدَّكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ﴾ [المائدة: ٩٠- ٩١]

د کلماتو معنا

ٱلۡمَيۡسِرُ: جواري (قمار).

ٱلۡأَنصَابُ: بتان، هغه تیږې چې مشرکانو یې عبادت کاوه.

ٱلۡأَزۡلَـٰمُ: د فال غشي، هغه غشي چې مشرکانو به د هغو په واسطه خپل بختونه آزمویل (ښه او بد فال یې پرې نیوه).

رِجۡسٞ: ناپاکي، پلیتي او چټلي.

فَٱجۡتَنِبُوهُ: له هغه څخه ډډه وکړئ، ځان وژغورئ.

ژباړه

ای مؤمنانو! شراب، جواري (قمار)، (درول شوي) بتان او د فال نیولو غشي دا ټول ناولي او شیطاني کارونه دي له هغوی څخه ډډه وکړئ. هیله ده چې تاسې ته به بری درپه برخه شي.

بیشکه شیطان خو دا غواړي چې په شرابو او قمار سره ستاسې په منځ کې دښمني او کینه واچوي او تاسې د الله ﷻ له یادولو او لمانځه څخه منع کړي، نو آیا تاسې له دې چارو څخه لاس اخلئ؟

تفسیر

شراب او قمار د بت پرستی په قطار کې:

ketabton.com - The Digital Library

په دې آيتونو کې الله تعالى مؤمنان د حرامو شيانو له ضررونو او ناوړو پايلو څخه ويرولي او هغوى ته يې امر کړى چې ځانونه ترې وژغوري.

د لومړي آيت د شان نزول په هکله په صحيح مسلم کې له سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت شوى دى چې هغه وويل: د قرآن کريم دغه آيت زما په باره کې نازل شوى دى، ويې ويل: زه د انصارو يوې ډلې ته ورغلم، چې هغوى زه ميلمستيا ته بللى وم، په هغه وخت کې شراب څښل نه و حرام شوي.

نو زه په يوه باغ کې له دوى سره ميلمه شوم چې هلته کباب شوې غوښې او د شرابو کوزه اينبودل شوې وه. سعد بن ابى وقاص ﷺ وفرمايل: ما له دوى سره ډوډۍ او شراب وخوړل، بيا د مهاجرينو او انصارو خبره يادە شوه، ما وويل: مهاجرين له انصارو څخه غوره دي. په دې وخت کې د انصارو له ډلې څخه يوه تن د اوښ په هډوکي ووهلم او پوزه يې راته وينې کړه، زه د رسول الله ﷺ حضور ته ورغلم او دا پيښه مې ورته وويله نو دا آيت نازل شو: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْخَمْرُ وَٱلْمَيْسِرُ .. ﴾.

الله تعالى په دې آيتونو کې مؤمنان له څو شيانو څخه منع کړي دي:

۱- د شرابو له څښلو څخه، چې عقل پټوي او د سالم فکر کولو مخه يې نيسي.

۲- الله ﷻ له قمار وهلو څخه منع کړې ده چې د هغه له لارې پيسې او مالونه د بخت يا د تصادف له مخې لاس ته راځي او کومې هلې ځلې او زيار يې په ترلاسه کولو کې رول نه لري او نه هم انسانانو ته څه ګټه رسولى شي.

۳- الله پاک د بتانو له عبادت څخه منع کړيده چې د جاهليت د وخت مشرکانو به هغه د کعبې شاوخوا نصب کړي وو او د هغو په نومونو به يې د هغو په پښو کې قربانۍ کولې او په دې طريقه به يې په خپل ګومان الله ﷻ ته نږدې والى حاصلاوه.

۴- همدارنګه الله تعالى له هغه غشو څخه منع کړې ده چې مشرکانو به د هغو په واسطه د غيبو خبرې کولې او دې ټولو شيانو ته يې پليتي او چټلي ويلې ده چې سليم نفسونه ورته رغبت نه لري او له هغو څخه کرکه او نفرت کوي ځکه دا ټول کارونه د شيطان عملونه دي چې د انسان دښمن دى، بناء الله تعالى مؤمنانو ته امر کړى دى چې له دې شيانو څخه ډډه وکړي، ترڅو په دنيوي ژوندانه کې کامياب او په آخرت کې له الهي نعمتونو څخه برخمن شي.

د شرابو او جوارى (قمار) د حراموالي دليلونه

وروسته له دې چې قرآني آيت ډېر شيان منع او حرام ګڼلې، په وروستني آيت کې يې بيا شراب او قمار ځانګړي کړل او د هغوى په حرمت يې ټينګار وکړ او د دې حرمت اسباب او دلايل يې بيان کړل.

ketabton.com - The Digital Library

دې مبارک آیت مؤمنان د شرابو او قمار له ناوړو پایلو څخه ویرولي او تاکید یې کړی دی چې شیطان د منکراتو په ښایسته کولو سره غواړي ستاسو ترمنځ دښمني او بدبیني پیدا کړي. ستاسو ترمنځ د دوستۍ اړیکې وشلوي او د شرابو او قمار په وسیله ستاسو په نفسونو کې کینې او دښمنۍ ژوندۍ کړي، ځکه کله چې شراب د شرابي پر عقل غلبه وکړي نو د هغه د عقل او پوهې په سلامتۍ کې خلل رامنځته کوي او هغه دیته هڅوي چې د هغو کسانو په مقابل کې چې له ده سره یې نیکي کړې ده بدي وکړي او یا په خپلو خپلوانو تبری وکړي چې دا کار د خلکو ترمنځ د سختې دښمنۍ لامل ګرځي.

همدارنګه جوارګر ډېر وختونه خپل مال او پانګه د قمار په میدان کې له لاسه ورکوي، څرنګه چې انساني نفس له مال او سرمایې سره مینه لري، نو جوارګر د مال او سرمایې د بایللو په خاطر له هغه چا سره چې له ده څخه یې مال او سرمایه په جواری کې ګټلې ده دښمني کوي او حتی کله یې وژنې ته هم اقدام کوي چې په دې سره په ټولنه کې د دښمنۍ، بدۍ او فتنې اور په شغلو راځي.

د شرابو او جواری (قمار) دیني او معنوي ضررونه

هغه شیان چې مخکې ذکر شول د شرابو او قمار مادي او دنیوی ضررونه او فسادونه وو، خو د دې ترڅنګ شیطان هلې ځلې کوي چې د دې مفاسدو او پلیتیو په عملي کولو سره مسلمانان د الله ﷻ له ذکر او لمانځه څخه غافله او له الله ﷻ څخه یې لرې کړي، ځکه شراب څښونکی (شرابي) په دروغجنه نشه او د عقلي سلامتیا په زوال سره، د الله ﷻ د حکمونو له پیروۍ او د فرایضو او دیني مسوولیتونو له ادا کولو څخه لرې کیږي، همدارنګه جوارګر له دې پلیتې او حرامې لارې څخه د سرمایې په حاصلولو او د روحي او دیني سالمې عاطفې د نشتوالي په سبب، نور د دیني وجایبو او مسوولیتونو د ترسره کولو په فکر کې نه وي. چې په دې سره د الله ﷻ له عبادت او د هغه له تقرب څخه لرې کیږي.

د شرابو او قمار صحي او اقتصادي زیانونه

باید وپوهیږو چې شراب د روغتیا له نظره د انسان لپاره ډېر ناوړه، ضرریناک او بدې پایلې لري. شراب د ډېرو خطرناکو ناروغیو لامل کیږي، د زړه او ځیګر ځیني ناروغۍ د شرابو د څښلو له امله منځته راځي.

قمار وګټو او ټولنې ته ډېر زیات زیانونه اړوي او ډېر ځلې د اقتصادي ستونزو او مشکلاتو لامل ګرځي. څرنګه چې قمار کوم سم اقتصادي بنسټ نه لري، ترڅو د وګټو او ټولنې په اقتصادي وده او د پیسو په چلن او دوران کې مرسته وکړي نو ځکه یو ناوړه او ناسم کار بلل

ketabton.com - The Digital Library

کيږي. اسلام د فطرت دين او د الله له خوا رالېږل شوی نظام دی او ټول هغه شيان يې چې د انساني فطرت سره په ټکر کې دي حرام کړي. ځرنګه چې شراب او قمار دواړه ضررناک او له انساني فطرت سره مخالف عملونه دي، نو ځکه اسلام هم حرام او ناروا بللي دي.

د لوست ګټې او لاربښوونې

د دې لوست له آيتونو څخه دا لاندې ګټې او لاربښوونې ترلاسه کيږي:

- د قمار، شرابو، بتانو، غشو او نور هغو شيانو حرامولی، چې په نامشروع لارو د مال او پانګې په ترلاسه کولو کې ورځنې استفاده کيږي.
- شيطان د انسان د ګمراه کولو لپاره د ډېرو لارو او چارو څخه کار اخلي، نو هوښيار انسان له دې لارو څخه ډډه کوي او ځان د شيطان په منګولو کې نه ايساروي.

پوښتنې

۱. لاندې کلمې او مفردات معنا کړئ:
«الميسر، الأنصاب، الأزلام، رجس، جناح».

۲. له قرآني آيتونو څخه د لاندې چارو په اړه دليل ذکرکړئ.
- د شرابو حرمت.
- د قمار حرامولی.
- شيطان په دې هڅه کې دی چې مسلمانانو ته زيان ورسوي.

۳. د شرابو مادي او معنوي تاوانونه بيان کړئ؟

۴. (جوارګر خپل ځان او ټولنې ته ضرر رسوي) دا مقوله شرحه کړئ.

کورنی دنده

د (شرابو او قمار) د ضررونو او مفاسدو په هکله يوه مقاله وليکئ چې له دوو مخونو څخه کمه نه وي او په خپله مقاله کې د قرآني آيتونو او احاديثو څخه دليلونه راوړئ.

ketabton.com - The Digital Library

يو ويشتم لوست

په عدل او احسان امر کول

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ۝ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ إِذَا عَٰهَدتُّمۡ وَلَا تَنقُضُواْ ٱلۡأَيۡمَٰنَ بَعۡدَ تَوۡكِيدِهَا وَقَدۡ جَعَلۡتُمُ ٱللَّهَ عَلَيۡكُمۡ كَفِيلًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ﴾ [النحل: ٩٠- ٩١]

د کلماتو معنا

ٱلۡعَدۡلَ:	انصاف ، د يوه شي اينبودل په خپل ځای کې.
ٱلۡإِحۡسَٰنَ:	ښيګڼه، په سمه توګه د يوه کار سرته رسول.
ٱلۡفَحۡشَآءِ:	بې حيايي، فاحش کارونه.
ٱلۡمُنكَرِ:	بدي، هغه چې شريعت بد ګڼلي دي.
ٱلۡبَغۡيِ:	تېری، ظلم.
لَا تَنقُضُواْ ٱلۡأَيۡمَٰنَ:	خپلې لوړې مه ماتوئ. قسمونه مه ماتوئ.

ژباړه

بيشکه الله ﷻ د عدل، ښېګڼې او خپلوئ پالنې حکم کوي او له بدۍ، بې حيايي، زور ظلم څخه منع کوي، هغه تاسې ته نصيحت کوي، ترڅو تاسې عبرت واخلئ. د الله ﷻ ژمنه پوره کړئ چې که تاسې له هغه سره ژمنه کړې وي او خپلې لوړې له پخولونه وروسته مه ماتوئ چې کله تاسې الله ﷻ پر خپل ځان شاهد نيولی وي، الله ستاسو په ټولو کړنو عالم دی.

تفسير

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په هکله تر ټولو جامع آيت

الله تعالی مسلمانانو ته امر کوي چې: ای مسلمانانو! الله تعالی تاسوته امر کوي چې په خپلو معاملو کې په عدل او انصاف عمل وکړئ، همدارنګه تاسوته د احسان امر کوي چې خپل

ketabton.com - The Digital Library

کارونه او دندې په غور، توجه او ښه توګه ترسره کړئ. همدارنګه الله ﷻ تاسې ته امر کوي چې د خپلوانو سره صله رحمي او زړه سوی وکړئ، حقوق يې ادا او نيکي ورسره وکړئ او له محتاجانو سره مرسته وکړئ.

سره له دې چې صله رحمي يا خپلوي پالنه د احسان په ضمن کې داخله ده خو په مستقله توګه يې ذکر کول د هغه په ارزښت او غوره والي دلالت کوي.

لکه څنګه چې دا آيتونه مسلمانانو ته خطاب کوي چې الله تعالی تاسو له فحشاؤ څخه چې له ناوړو کړو وړو او بدو ويناوو څخه عبارت دي، منع کوي، همدارنګه الله تعالی تاسو پر نورو باندې له ظلم او د هغوی پر حقوقو له تېري کولو څخه هم منع کوي.

بيا قرآن کريم فرمايي: الله تعالی تاسو ته پند درکوي چې پند او عبرت واخلئ ﴿ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ يعني: الله تعالی تاسې ته د داسې چارو په هکله معلومات درکوي چې ستاسو ژوند ښايسته کوي او ګټې دررسوي ترڅو تاسې د الله ﷻ فضل او احسان در ياد کړئ.

ابن مسعود رضي الله عنه د دې مبارک آيت په هکله داسې فرمايلي دي چې (دا آيت په نيکيو د امر او له بديو څخه د منع په هکله) تر ټولو زيات جامع آيت دی.

فعاليت: زده کوونکي دې د ښوونکي تر لارښوونې لاندې د احسان او د هغه د ګټو په هکله د قرآني آيتونو په رڼا کې بحث او څېړنه وکړي.

په ژمنه وفا کول

الله تعالی د دې آيتونو له مخې مسلمانانو ته د وعدې ساتلو په هکله امر کړی دی.

عهد: د وعدې او ژمنې په معنا دی، او د الله ﷻ وعده هغه ده چې د انسانانو څخه يې اخستې ده ترڅو د الله په عبادت او پيروی ـ ژمن واوسي، او مورِ دا وعده او ژمنه د لمانځه په هر رکعت کې له الله ﷻ سره کوو او وايو (اياک نعبد) يعني ای پروردګاره مورِ يوازې ستا عبادت کوو.

په دې آيت کې ټول هغه څه چې بايد په هغه وفا وشي داخليږي، لکه: اسلامي احکام، د الله تعالی سره وعدې او ژمنې، له انسانانو سره وعدې او يا له خپل نفس سره وعده، او په دې ترتيب د دې قرآني لفظ جامع والی ثابت او روښانه کيږي. الله ﷻ له ټولو پيغمبرانو او د هغو له پيروانو څخه ژمنه اخيستې ده چې د ده عبادت او پيروي وکړي.

په دې آيت کې الله ﷻ ته د وعدې منسوبول د وعدې د تاکيد او اهميت لپاره دي، نو کله چې انسان وعده او ژمنه پرځان لازمه کړي بايد په هغې وفا وکړي ﴿ وَلَا تَنقُضُواْ ٱلۡأَيۡمَٰنَ

ketabton.com - The Digital Library

﴿ بَعۡدَ تَوۡكِيدِهَا ﴾ يعني: د الله ﷻ په نامه چې لوړې کوئ هغه مه ماتوئ ځکه د مؤکدو قسمونو ماتول د الله سره ژمنه ماتول شمېرل کيږي.

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ﴾ يعنی: الله تعالی په وعدو، ژمنو او د هغو په ماتولو چې په له ځانه جوړو شويو حيلو او پلمو ترسره کيږي، باخبره دی او تاسو ته د خپلو کړو وړو مطابق سزا درکوي.

د لوست ګټې او لارښوونې

له پاسنيو آيتونو څخه لاندې ګټې ترلاسه کيږي:

- د عدل او احسان واجبوالی او د خپلوانو د حقوقو ادا کول.
- د هر ناوړه او بد عمل حراموالی چې شريعت او عقل هغه بد او ناخوښ ګڼي.
- د ظلم او د نورو په حقوقو د تيري کولو حراموالی.
- په وعده، ژمنه او قسم باندې د وفا واجبوالی.
- په ځان کې د دې حس او شعور ژوندي کول، چې الله ﷻ د ټولو اعمالو څارونکی دی.

پوښتنې

لاندينيو سوالونو ته ځوابونه ورکړئ:

۱- (۹۰) آيت په دريو شيانو امر او له دريو شيانو څخه منع کړې ده. دا اوامر او نواهي څرګند کړئ؟

۲- ابن مسعود رضي الله عنه د دې آيت په هکله څه فرمايلي دي؟

۳- په دې مبارک آيت کې له وعدې څخه مراد څه دی او د وعدې نسبت الله ﷻ ته د څه شی افاده کوي؟

۴- دا لاندې کلمې څه معنا لري:

الاحسان – الفحشاء – الايمان.

کورنۍ دنده

په ژمنې باندې د وفا کولو او د خپلوانو سره د نيکۍ په هکله يوه مقاله وليکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

دوه ویشتم لوست:

د مور او پلار حقوق

﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ۞ وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا ۞ رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِى نُفُوسِكُمْ ۚ إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلْأَوَّٰبِينَ غَفُورًا﴾ [الإسراء:٢٣-٢٥]

د کلماتو معناوې

قَضَى: پریکړه یې کړې ده، امر یې کړی او حکم یې کړی.

أُفٍّ: هغه اواز یا هغه تعبیر چې د رټنې لپاره کارول کیږي.

لَا تَنْهَرْهُمَا: دوی مه رټه، دوی مه څوروه.

وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ: د دوی دواړو د خدمت لپاره خپل د تواضع وزر (اوږه) ټیټ کړه (ځان مهربانه او عاجزي کوونکی جوړ کړه).

لِلْأَوَّٰبِينَ: د الله ﷻ لوري ته رجوع کوونکو لپاره.

ژباړه

او ستا رب پریکړه کړې ده، چې تاسې د بل هیڅوا عبادت مه کوئ مګر یوازې د هغه، له مور او پلار سره نیکي او ښه تعامل وکړئ، که له تا سره د هغو نه یو یا دواړه زړښت ته ورسیږي نو هغه ته اف قدرې مه وایه. او مه رټه دوی دواړه، بلکې له هغو سره په درناوي خبرې کوه او په نرمۍ او رحم سره د هغو په وړاندې مات غاړې اوسه او دا دعا کوه چې پروردګاره! پر دوی رحم وکړه لکه څنګه چې دوې له زړه سوي او خوا خوږۍ سره په ماشومتوب کې زه پاللی وم.

ketabton.com - The Digital Library

ستاسې رب ښه پوهيږي چې ستاسو په زړونو کې څه دي. که تاسې صالحان (نيکان) ياست، نو هغه د رجوع کوونکو لپاره ښښونکی دی.

تفسير

د الله په عبادت امر

الله تعالی په دې آيتونو کې خپلو بندګانو ته يوازې په خپل عبادت امر کړی دی او د الله ﷻ امر د (قضی) په کلمې راغلی چې په ډير تاکيد دلالت کوي. يعنی الله ﷻ په غوڅه توګه حکم کړی چې پرته له هغه د بل چا عبادت ونه کړئ ځکه ا لله ﷻ د ټولو خالق او پيدا کوونکی دی او يوازې هغه د عبادت مستحق دی نو ټول امر خاص هغه الله ﷻ لره دی چې د کاياناتو خالق او پالونکی دی.

د مور او پلار سره په نيکۍ کولو امر

وروسته له دې چې الله تعالی په خپله بنده ګۍ او عبادت امر کوي، سمدلاسه يې د مور او پلار سره په نيکۍ او احسان کولو هم امر کړی دی، ترڅو له هغوی سره د نيکۍ ارزښت او د هغوی لوړ مقام او منزلت څرګند شي نو هر کله چې مور او پلار دواړه يا يو له دوی څخه د بوډاتوب او بيوسۍ عمر ته ورسيږي، نو په دغه وخت کې دې داسې کلمه يا لفظ د دوې په وړاندې استعمال نشي چې د دوی زړه پرې وڅوريږي او يا دوی د خواشينۍ او خفګان احساس پرې وکړي مثلاً (اف) کلمه که څه هم دا وړه کلمه ده خو د مور او پلار د رنځ او درد سبب ګرځي نو د اسلام او قرآن له مخې مردوده او ناخوښه ده.

مبارک آيت د مور او پلار د بوډاتوب او بيوسۍ عمر خاص کړی په داسې حال کې چې د دوی خدمت په ټولو حالتونو کې واجب دی خو دا تخصيص په دې دلالت کوي چې دوی د بوډاتوب او بيوسۍ په حالت کې تر هر وخت زيات پاملرنې او خدمت ته ضرورت لري نو الله ﷻ انسان ته امر کوي چې د دوی خدمت ته په عاجزۍ او نرمۍ ځان تيار کړه او په مهربانۍ او خاکساری له دوی سره معامله کوه.

او الله تعالی له دوی سره د نيکې معاملې تعبير د مرغه د وزرونو له راټيټولو سره تشبيه کړی دی ځکه کله چې خپل بچيان په غيږه کې رانيسي نو خپل وزرونه ورته ټيټوي، همدارنګه کله چې وغواړي له هوا څخه ځمکې ته راټيټيږي نو خپل وزرونه ښکته کوي نو دا د وزرونو ټيټول د مور او پلار سره د نيکۍ او احسان، نرمۍ او مهربانۍ له معاملې څخه کنايه ده، نه يوازې دا بلکې الله ﷻ امر کړی چې انسان دې خپل مور او پلار ته دعا هم کوي او داسې دې وايي: ای

ketabton.com - The Digital Library

زما پالونکیه! زما مور او پلار ته د خپل بې اندازې رحمت په سیوري کې ځای ورکړې لکه څنګه چې دوی د ماشومتوب په حالت کې په ما شفقت او مهرباني درلوده.

په دې دعا کې دې خبرې ته اشاره ده چې اولاد که په هره اندازه د مور او پلار په وړاندې وفادار او خدمت کوونکی اوسي بیاهم نشي کولای چې د دوی حق ادا کړي، نو پردې اساس باید له الله ﷻ څخه ورته د رحمت غوښتنه وکړي.

د والدینو د عاق له ګناه څخه د توبې تشویق

بیا الله تعالی فرمایي: ﴿رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡۚ إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلۡأَوَّٰبِينَ غَفُورٗا﴾

الله تعالی د خپلو مخلوقاتو په نفسونو چې د مور او پلار سره د نیکۍ او بدۍ په هکله وجود لري ښه باخبره دی، نو څوک چې د مور او پلار سره د نیکۍ او احسان اراده وکړي او له هغې کوتاهۍ او تقصیر چې مخکې یې د دوی په وړاندې یا د نورو خلکو په وړاندې کړی دی، توبه وباسي، نو الله تعالی توبه قبلوونکی دی او الله ﷻ یې ګناهونه په خپل فضل او مهربانۍ سره بخښي.

فعالیت: زده کوونکي دې دوه ډلې شي د مور او پلار د حقوقو په هکله دې خبرې وکړي. بیا دې یو یو تن د خپل ګروپ په استازۍ د ټولګي مخې ته راشي او د بحث غوره مطالب دې په دریو دقیقو کې شرح کړي.

د لوست ګټې او لاربښوونې

له پاسنیو آیتونو څخه لاندې ګټې لاسته راځي:

- د مور او پلار سره د نیکۍ واجبوالی او د دوی په وړاندې عاجزي او مهرباني، خصوصاً د هغو د بوډاتوب په حالت کې.
- دا چې مور او پلار لوی حقوق لري نو له دې امله الله ﷻ د خپل حق څخه وروسته د دوی حق ذکر کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library

❖ د هغو الفاظو مراعاتول چې اولاد يې د والدينو په وړاندې وايي. بايد هيڅ داسې کلمه په ژبه استعمال نشي چې د دوی د رنځ او تکليف باعث ګرځي، که څه هم پرته له قصده وي.

❖ د مور او پلار لپاره دعا، د دوی په ژوند او پس له مرګه يې.

❖ د مور او پلار د حقوقو د تقصير په صورت کې د توبې ايستلو لپاره هلې ځلې او په خپل نفس کې څه نه پټول.

پوښتنې

۱- دا چې د الله په عبادت، د مور او پلار سره د نيکۍ امر عطف شوی دی دا په څه دلالت کوي؟

۲- د مور او پلار يا له دوی څخه د يوه په وړاندې د (اف) کلمې د منع لامل او سبب څه شی دی؟

۳- هغه چارې چې اولاد يې د والدينو لپاره ترسره کوي، په مبارک آيت کې ورته اشاره شوې ده، هغه څه دي، واضح يې کړئ؟

۴- له والدينو سره په خبرو کولو کې اولاد بايد له کوم اسلوب څخه کار واخلي، دا حکم له ذکر شويو آيتونو څخه راوباسئ؟

۵- اولاد د مور او پلار په حق کې بايد څرنګه دعا وکړي؟

کورنۍ دنده

د قرآني آيتونو او نبوي احاديثو په رڼا کې د مور او پلار سره د نېکۍ په اړه يوه مقاله وليکئ چې له پنځلسو کرښو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

درویشتم لوست:

د خپلوانو، مسکینانو او مسافرانو حقوق

﴿ وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ۞ إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا۟ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِ ۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ۞ وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا ۞ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ۞ إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴾ [الإسراء:٢٦-٣٠]

د کلماتو معنا

قَوْلًا مَّيْسُورًا: نرمه، پسته او خوږه خبره.

مَغْلُولَةً: په ځنځیرونو تړلی، له بخل څخه کنایه ده.

تَبْسُطْهَا: د لاس پراخول، پرانیستل، له اسراف څخه کنایه ده.

مَّحْسُورًا: پښیمانه، بیوسی.

ژباړه

د خپلوانو، مسکینانو او مسافرو حق پوره ورکړه او بې ځایه لګښت مه کوه، بې ځایه لګښت کوونکي د شیطان وروڼه دي او شیطان د خپل رب ناشکره دی. که ته له هغو اړو خپلوانو، مسکینانو او مسافرو څخه مخ اړوې، په دې اساس چې تر اوسه د الله د هغه رحمت (مال) په لټه کې یې چې ته یې هیله من یې، نو هغو ته ښه او نرم ځواب ورکړه، مه خپل لاس تر غاړې تړه او مه یې بیخي داسې غځولی پریږده چې په خپله بیوسی پاتې شې، ستا رب چې چاته غواړي روزي پراخوي او چاته یې چې خوښه شي تنګوي یې، هغه د خپلو بندګانو له حاله باخبر دی او هغوی وینې.

ketabton.com - The Digital Library

تفسير

له خپلوانو سره نيکي

په دې آيتونو کې الله تعالى خپلو بندګانو ته ډېرې لارښوونې کړې دي ترڅو د هغو په واسطه خپل نفسونه پاک کړي او خپله ټولنه له هر ډول بديو او ناوړو پايلو څخه وژغوري.

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ﴾ الله تعالى په دې آيت کې په نيکۍ ، احسان، صله رحمي او د خپلوانو محتاجانو او تش لاسو سره په مرسته امر کړى دى.

په دې آيت کې نورو مستحقينو باندې د خپلوانو مخکې کول د دې لپاره دي چې خپلوان پر نورو د لومړيتوب حق لري، ځکه له خپلوانو سره احسان او نيکي، پر هغو باندې صله رحمي او صدقه ده.

له اسراف څخه ډډه کول

الله تعالى له اسراف او زيات لګښت څخه منع کړيده، پرته له ضرورته او بيځايه د مال او پانګې مصرفولو ته اسراف يا تبذير ويل کيږي په دې آيت کې له اسراف څخه د منعې علت داسې بيان شوى دى: ﴿إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِ ۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ﴾.

يعنې: مبذرين او اسراف کوونکي يې د ناوړو صفتونو په لرلو سره له شيطانانو سره تشبيه کړې دي، ځکه شيطانان د الله د نعمتونو په وړاندې شکر نه باسي او يو شى بيځايه او په نامناسب ځاى کې ږدي، په ځمکه کې فساد خپروي او خلک ګمراه کوي. په همدې ترتيب اسراف کوونکى په دې صفتونو کې له شيطانانو سره شباهت او همغږي لري، البته په دې تشبيه کې اسراف او تبذير بد او ناوړه معرفي شوي او پرېښودلو ته يې ترغيب او تشويق ورکړل شوى دى، ځکه عاقل انسان په هيڅ صورت نه غواړي چې د شيطان په شان وي.

له تنګلاسو او مسکينانو سره خوږې خبرې کول

په تېر شوي آيت کې الله ﷻ بډايان د خپلوانو او محتاجانو سره نيکۍ او احسان ته تشويق کړل په وروستيو آيتونو کې د هغو کسانو بيان دى چې سخا يې عادت وي، خو دا مهال د نفقه کولو او مال لګولو وس نه لري او له الله تعالى څخه دا هيله کوي که چېرې ده ته څه پانګه او پيسې لاس ته ورشي نو هغه به صدقه کوي. الله ﷻ ددوى په هکله داسې فرمايي: په داسې حالت کې له خپلوانو او محتاجانو څخه په لطف او نرمۍ ببنه وغواړئ، ترڅو د هغوى زړونه دردمند نشي.

﴿وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا ﴾

يعنې که ته له دغو خپلوانو او مسکينانو او مسافرو څخه په دې اساس مخ اړوې چې تر اوسه د خپل

ketabton.com - The Digital Library

رب د هغه رحمت (مال) په لټه (انتظار) کې يې چې ته يې هېله من يې، نو هغوی ته نرم ځواب ورکړه، له هغو څخه ښښنه وغواړه او خوږه خبره ورته وکړه، ترڅو له تا څخه خپه او خواشینی نشي.

په دې مبارک آیت کې د هغو مؤمنانو لپاره لارښوونه ده چې د اړو کسانو سره د مرستې کولو څخه عاجز دي نو دوی دې د الله ﷻ در بار ته دعا وکړي ترڅو الله ﷻ ورته دولت او پراخه روزي نصیب کړي چې بیا يې د الله ﷻ په لاره کې ولګوي او د خپلوانو او بیوزلو له مرستې څخه مال ونه سپموي، خو په هغه صورت کې چې له دوی سره د مرستې لپاره څه نه وي، نو له دوی څخه دې په خوږه او پسته ژبه معذرت وغواړي.

د مال په مصرفولوکې اعتدال او منځلاریتوب:

الله تعالی بندګان له اسراف او بخل څخه منع کوي او په لګښت کې ورته د اقتصاد او میانه روی لارښوونه کوي، الله تعالی فرمايي:﴿ وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا ﴾

يعني مه خپل لاس د بخل او شومتيا له وجې په خپلې غاړې پورې تينګ تړه او مه يې ډېر پراخوه چې په دواړو صورتونو کې به له پښيمانتيا او ملامتيا سره مخ شې.

مطلب دا دی چې مؤمن انسان بايد له اعتدال او ميانه روی څخه کار واخلي، بخيل ونه اوسي لکه د چاچې لاس په ځنځير د غاړې سره تړل شوی وي او ونه شي کولای چې انفاق او صدقه ورکړي، همدارنګه مسرف او مبذر هم ونه اوسي لکه هغه څوک چې خپل لاس پرانيزي او هيڅ شی يې په لاس کې پاتې نشي.

نو د بخل او اسراف دا پايله ده چې خاوند يې هم د الله ﷻ له لوري، هم د خلکو له لوري او هم د خپل نفس له لوري د ملامتی وړ ګرځي، نو دا دواړه (بخل او اسراف) بد او ناوړه صفتونه دي چې د الله ﷻ رضا پرې نشي حاصليدای.

په روزی کې پراخي او تنګي

بيا الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرًا ﴾

يعني: پوه شه، ستا پالونکی چې هر چا ته وغواړي هغه ته پريمانه روزي ورکوي او هر چا ته چې وغواړي د روزی دروازې يې تنګوي. هغه د خپلو بنده ګانو پر حال ښه خبر دی او هغوی وينې.

بندګانو ته د روزی پريماني او کموالی د الله ﷻ په ارادې او د هغه په حکمت او بشپړ علم پورې اړه لري. الله ﷻ د خپلو بندګانو په حالاتو ښه خبر او ليدونکی دی. الله تعالی ښه پوهيږي چې چا ته د روزی پراخي مناسبه ده او څوک دی چې فقر او تنګلاسي يې فاسدوي. همدارنګه الله ﷻ

ketabton.com - The Digital Library

پوهيږي چې ځينو بندګانو ته يې يوازې فقر او تنګلاسي مناسبه ده. کله کله د روزې پريماني او تنګلاسي د بندګانو لپاره آزموينه وي نو الله ﷻ د خپلو بندګانو په ټولو حالتونو ښه خبر او ليدونکی دی.

فعاليت

زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه د مرستې او صدقې د ښيګڼو، او همدارنګه د بخل د ناوړو پايلو په هکله د آيتونو او نبوي احاديثو په رڼا کې بحث وکړي.

د لوست ګټې او لارښوونې

- د خپلوانو د حقوقو د ادا کولو واجبوالی، له هغوی سره صله رحمي او د ښوزلو او مسافرانو مرسته.
- د اسراف او تبذير حراموالی، له اسراف څخه کرکه او د مسرف تشبيه کول له شيطان سره.
- هغه څوک چې د انفاق او صدقې ورکولو وس او توان نه لري هغه ته په کار ده چې په نرمو او خوږو خبرو سره معذرت وغواړي.
- له الله ﷻ څخه د مال غوښتنه، ترڅو يې د الله ﷻ په لاره کې ولګوي.
- په انفاق او صدقه کې ميانه روي او اعتدال، له بخل او اسراف څخه ډډه کول.

پوښتنې

۱-هغه حقوق چې خپلوانو، تنګ لاسو، محتاجانو او مسافرانو ته يې ورکول واجب دي کوم دي؟

۲- د تبذير معنا څه ده، د هغه د نهی علت څرګند کړئ؟

۳- څوک چې سوالګر ته د ورکړې لپاره څه ونه لري، څه بايد وکړي؟

۴- د لاندنيو چارو لپاره له قرآنی آيتونو څخه دليل راوړئ؟

الف- اسراف د خپل خاوند لپاره د ملامتی او پښيمانی لامل ګرځي.

ب- د روزې کموالی او تنګ لاسي د الله ﷻ له پلوه پر خپل بنده، د قهر او غوسې په معنا نه دی.

کورنی دنده

- د خپلوانو، مسکينانو او مسافرانو حقوق په لنډه توګه په خپلو کتابچو کې وليکئ.
- د بخل او شومتيا ناوړې پايلې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

په معاملاتو کې عدالت او مسؤوليت

﴿وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ إِذَا كِلۡتُمۡ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلٗا ۞ وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا ۞ وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولٗا ۞ كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكۡرُوهٗا ۞ ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوۡحَىٰٓ إِلَيۡكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلۡحِكۡمَةِۗ وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومٗا مَّدۡحُورًا﴾ [الإسراء:٣٩-٣٥]

د کلماتو معناوې

بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِ: په عدل او انصاف، په برابره تله.

تَأۡوِيلا: نتيجه او پايله.

لَا تَقۡفُ: پيروي مه کوه.

مَرَحًا: په خيال او تکبر.

مَّدۡحُورًا: رټل شوی، شړل شوی، او د الله له رحمته لرې.

ژباړه

او پوره کړئ پيمانه کله چې پيمانه کوئ، او تول په سمه تله وکړئ، دا سمه کړنلاره ده او ښه پای لري، په هغه څه پسې مه ځه چې تا ته د هغه په اړه علم او پوهه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

بیشکه غوږ او سترګه او زړه هر یو له دغو (دریو واړو) دي له هغه څخه پوښتنه کړی شوی (په قیامت کې چې ولې دې په دنیا کې ګناه کوله) او مه ګرځه په ځمکه کې په خیال (او تکبر) بیشکه چې ته به ځمکه څېرې نه کړې او له سره به ونه رسیږې (د) غرونو (سرونو) ته له جهته د اوږدوالي. ددې ټولو کارونو بد اړخ ستا د رب په وړاندې خورا ناکاره (ناخوښه) دی.

دا هغه د حکمت خبرې دي چې ستا رب تا ته وحي کړي دي او له الله ﷻ سره کوم معبود مه نیسه، که نه نو په دوزخ کې به ملامت شوی او رټل شوی وغورځول شې.

تفسیر

په پوره پیمانه ورکولو امر

الله تعالی خپلو مؤمنو بندګانو ته امر کوي: ﴿وَأَوْفُواْ ٱلْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُواْ بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا﴾.

هرکله چې مو نورو ته څه شی پیمانه کول نو پوره یې پیمانه کوئ او که څه مو وزن کول نو هغه هم پوره وزن کړئ، ځکه دا کار په دنیا او آخرت کې ستاسو په خیر او ښېګڼه تمامېږي، خلک له تاسو سره معاملاتو ته تشویقیږي او اخروي ثواب هم پرې ترلاسه کیږي.

په دې ځای کې نوروته پوره ورکول ځانګړي شوي دي، ځکه دلته د پلورلو خبره ده چې زیاتره په هغه کې کمی واقع کیږي. خو د اخیستلو پر مهال انسان حریص وي او نه غواړي چې حق یې کم شي.

په مجهولو شیانو پسې نه تګ

بیا الله تعالی انسان ته امر کوي: ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا﴾ یعنې د څه شي په هکله چې علم او اطمینان نه لرې هغه شی هیڅکله مه تعقیبوه، ځکه غوږونه، سترګې او زړه ټول مسؤول دي نو انسان باید د خپل علم په حدودو کې واوسیږي او د هغه څه په هکله چې نه پوهیږي خبره ونه کړي، لکه څرنګه چې انسان د بې فایدې خبرې په اوربدو، دروغو او غیبت کولو د سوال او محاسبې لاندې راځي، همدارنګه به د منکراتو او عورتونو په کتلو ورسره محاسبه وشي. د انسان اعضا

ketabton.com - The Digital Library

او غړي لکه غوږ، سترګې، زړه او داسې نور له پوښتنې لاندې راځي، دا ټول غړي به په قيامت کې په خبرو راشي او د انسان په ګټه يا تاوان به ګواهي ورکوي.

نو پر انسان لازم دي چې هوښيار اوسي، له ړانده تقليد څخه ځان وژغوري، کوم کار چې ترسره کوي په هغه کې د الله تعالى ويره په نظر کې ونيسي او پرته له بشپړ باور او يقين څخه دې حکم نه کوي او پر څه چې نه پوهيږي له هغه څخه دې ډډه وکړي.

له تکبر څخه ځان ژغورل

الله تعالى انسان ويروي، چې له ځان لوی ګڼلو او تکبر څخه ډډه وکړي، نو فرمايي:

﴿وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولٗا﴾

يعنى: ای انسانه! په نخرو، کبر او بې اندازې زياتې خوشالۍ په ځمکه کې حرکت مه کوه، په خپل قوت، مال، دبدبه او چوکۍ د ويارِ او لوړوالي احساس مه کوه، اې انسانه څرنګه په ځمکه کې تکبر کوې په داسې حال کې چې نشې کولای په خپلو قدمونو ځمکه وشلوې، څرنګه د خلکو په وړاندې تکبر کوې په داسې حال کې چې په ځان لوی ګڼلو او لوړ الوتلو سره نشې کولای د غرونو څوکو ته ورسيږې، ته له کمزورې او ببوسې مخلوق څخه پرته بل څه نه يې، نو له تا سره نه ښايي چې تکبر وکړې، ته په خپل تګ او خپله راشه درشه کې له نورو سره عاجزي او خاکساري غوره کړه، الله ﷻ فرمايي: ﴿كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكۡرُوهٗا﴾ يعنى له ټولو هغو کړو وړو څخه چې الله ﷻ منع فرمايلې هغه ټول د الله ﷻ په وړاندې ناوړه او ناکاره دي نو بايد له هغو څخه ځان وژغورې، ترڅو د الله ﷻ رضا حاصله کړې.

﴿ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوۡحَىٰٓ إِلَيۡكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلۡحِكۡمَةِۗ وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومٗا مَّدۡحُورًا﴾. يعنې دا ځينې حکمتونه دي چې الله ﷻ درته د هغه وحي کړې ده او هيڅکله د واحد الله ﷻ سره څوک شريک مه نيسه، کنه نو ملامت به شې او دوزخ ته به واچول شې.

ددې آيت عامه معنا دا ده چې الله تعالى پيغمبر ﷺ ته خطاب کوي او فرمايي: هغه څه چې په هغه مې تا ته امر کړی او يا مې له هغه څخه منع کړی يې هغه د الله ﷻ محکم کلام دی نو هغو کسانو ته چې له تا څخه پيروي کوي لارښوونه وکړه چې په هغو شيانو چې پرې تشويق شوي عمل وکړي او له هغو شيانو چې ورڅخه منع شوي ځانونه وژغورې.

ketabton.com - The Digital Library

بيا الله تعالى له شرک څخه منع کوي او دا څرګندوي چې هر څوک له الله تعالى سره شريک نيسي، نو هغه به په داسې حالت کې دوزخ ته واچول شي چې هم به د خپل نفس له لوري او هم به د نورو خلکو له لوري په ده ملامتي ويل کيږي او د الله ﷻ له رحمت څخه به لرې وي.

د لوست ګټې او لاربښوونې

د دې لوست ګټې دا ډول دي:

- ❖ د الله ﷻ په اوامرو عمل او التزام کول، ډيرې زياتې دنيوي ګټې او په آخرت کې د الله ﷻ په وړاندې انسان ته ستر اجر ورپه برخه کيږي.
- ❖ د پيمانې پوره ورکول واجب دي بايد په تللو او پيمانه کولو کې عدالت او انصاف مراعات شي او له کمولو څخه يې ډډه وشي.
- ❖ په يوه مسئله کې پرته له علم او پوهې خبرې او حکم کول، له منکراتو څخه دي، چې انسان بايد له هغه څخه ځان وژغوري.
- ❖ په لاره تللو کې پر ځان ويارل، نخرې او تکبر کول حرام دي.

پوښتنې

۱- په دنيا او آخرت کې د پيمانې پوره کولو ګټې څه دي؟

۲- د هغه څه چې انسان ته پرې پوهه حاصله نه وي، د هغه له پيروۍ او عمل څخه د منع سبب څه دی؟

۳- د انسان غړي او اندامونه د قيامت په ورځ له څه شي څخه پوښتل کيږي او بيا څرنګه ځواب وايي؟

۴- متکبر انسان ته د يادونې سبب، چې ځمکه شلولی نشي او د غرونو لوړوالي ته رسيدلی نشي څه دی؟

کورنۍ دنده

په مطففين سورت کې د اندازې او تلې د کمولو کيفيت ذکر شوی، نوموړي آيتونه تلاوت او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد و على آله و أصحابه أجمعين، و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين

ketabton.com - The Digital Library

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English